# اسلام د عصري دور پنځوونکی

**لیکوال:**

**مولانا وحیدالدین خان رحمه الله**

مترجم:

تاند اندیش

# اسلام د عصري دور پنځوونکی

**لیکوال: مولانا وحیدالدین خان رحمه الله**

مترجم: تاند اندیش


- ډیزاین: مترجم
- مخونه: ۱۵۱
- د خپرېدو وار: لومړی
- د برېښنايي نشر کال: ۲۰۲٦

# فهرست


سریزه ........................................................ ۱

د مترجم سریزه ............................................... ۷

اسلام؛ د معاصر دور پنځوونکی ................................ ۹

د شرک پر لور ............................................... ۱۵

د اسلام نظریه.................................................. ۲۱

د خپرنې ازادي.................................................. ۲۷

ځلور ادوار........................................................ ۳٤

د ترقي پر لور سفر .......................................... ۳۸

علم او اسلام ................................................... ٤۳

اسلام مناسب چاپېریال برابر کړ ............................... ۵۲

له خدای پرته بل څوک مقدس ګڼل .............................. ٦۰

یو مثال ........................................................... ٦٦

د ساینس را څرګندېدل............................................. ۷۰

طبیعي علوم ...................................................... ۸۰

شمسي نظام...................................................... ۸۷

د طب فن ....................................................... ۹۲

ژبپوهنه ............................................................ ١٠٠
علم الاعداد ........................................................ ١٠٤
زراعت او اوبه لگول................................................ ١١٢
د تاريخ علم.......................................................... ١١٦
انساني برابري ...................................................... ١٣٠
د فکر ازادي ........................................................ ١٣٧

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

## سریزه

امریکايي ستورمزلی نیل ارمسټرانګ (Neil Armstrong) لومړنی انسان دی چې تر څلور ورځني فضايي سفر وروسته يې د **۱۹۶۹** کال د جولای په **۲۰**مه پر سپوږمۍ قدم کېښود. هلته له رسېدو سره سم يې دا تاریخي جملې وویلې: دا د یو انسان لپاره یو کوچنی ګام دی، خو د بشریت لپاره یو لوی ټوپ دی.

"That's one small step for a man, one giant leap for mankind(".۱/۵۳۰)

آرمسټرانګ او د هغه ملګرو، ایډون الډرین (Edwin Aldrin) او مایکل کولینز (Michael Collins)، په یو ځانګړي توغندي اپولو ۱۱ (Apollo ۱۱) کې سفر وکړ او په وروستي پړاو کې د یوې سپوږمۍ مزلې وسیلې (Eagle) په واسطه د سپوږمۍ پر سطحه کوز شول.

دا اپولو یا سپوږمۍ مزلې کومه جادويي الوتونکې تخته نه وه، بلکې د طبیعت د محکمو قوانینو په رڼا کې جوړ شوی یو ساینسي- ماشین و. دغه ماشین د فطرت له قوانینو په ګټې اخیستنې دا بشپړ فضايي سفر ترسره کړ. دا قوانین زموږ په نړۍ کې له ملیونونو کلونو

راهیسې موجود وو، خو انسان له دې وړانـدې کلـه هـم دا فکـر نـه و کړی چې د فطرت دا قوانین وپېژني او په کارولو سره یې سپوږمۍ تـه د رسېدو هڅه وکړي.

د فطري امکاناتو سره سره، سپوږمۍ ته په رسېدو کـې د دې څنـګه لامل څه و؟ دا لامل شرک و؛ یعنې مخلوق ته د معبود په سترګه کتـل او د هغو عبادت کول. په پخوانیو زمانو کې په ټوله نـړۍ کـې د شرک عقیده خپره وه. انسان د نورو شیانو په څېر سپوږمۍ هـم خپـل معبـود ګڼله. د روښانه سپوږمۍ په لیدو به د انسان پـه ذهـن کـې د هغـې پـه وړاندې د سر ټیټولو خیال پیدا کېده، نه د هغـې د تسـخیرولو فکـر. د سپوږمۍ سپېڅلې ګڼل د دې خنډ وګرځېد چـې انسـان د سـپوږمۍ د تسخیر کولو په اړه فکر وکړي.

په اوومه میلادي پېړۍ کې د لـومړي ځـل لپـاره د اسـلام لـه لارې داسې یو انقلاب راغی چې شرک یـې مغلـوب کـړ او توحیـد یـې پـه غالب فکر بدل کړ. دا انقلاب لومړی په عربو کـې راغـی، بیـا اسـیا او افریقا ته لاړ او له هغه ځایه اروپا ته ورسېد. وروسـته بیـا د اتلانتیـک سمندر څخه تېر شو او امریکا ته داخل شو. پـه اسـلامي نـړۍ کـې دا انقلاب د دین تر چتر لاندې راغلی و، خو غربي نړۍ د خپلو شرایطو تر اغېز لاندې پکې دا توپیر رامنځته شو چې دا له مذهب څخـه جـلا کړل شو او د یوه سیکولر علم په توګه یې وده پیل کړه او بیا تر اوسنۍ کچـــې پـــورې ورســـېد. لکـــه څنګـــه چـــې نیشنلائزیشـــن (Nationalization) د مارکسیزم د فلسفي نظام یو اقتصادي جز دی، همداسې معاصر ساینس د اسلامي انقلاب یو جزئي برخه ده چـې لـه خپل بشپړ مجموعي نظام څخه جلا کړل شوې ده.

دلته د سپوږمۍ د سفر يادونه د بېلگې په توگه شوې ده. همدا حالت د هغو ټولو علومو دی چې په اوسني وخت کې ورته علوم فطرت (Natural sciences) ويل کېږي. دا علوم په پخوانۍ زمانه کې د شرك له امله، يا په بل عبارت د فطرت د هر شي د مقدس گڼلو له کبله، ممنوع شوي علوم گرځېدلي وو. د توحيد انقلاب فطرت د تقدس له مقامه راکوز کړ او د هغه د څېړنې او تسخير دروازه يې پرانيسته.

دغه ډول د بشريت په تاريخ کې د فطرت د ازادې څېړنې يو نوی پړاو پيل شو. دا پړاو تر زرگونو کلونو وروسته بالاخره معاصر ساينس او معاصرې ټکنالوژۍ ته ورسېد. معاصر ساينس په بشپړه توگه د اسلامي انقلاب نتيجه ده، شروع کې په مستقيم ډول او وروسته په غير مستقيم ډول.

د دې حقيقت اعتراف په يو نه يو ډول عمومي شوی دی. په اوسني وخت کې ډېرې داسې کتابونه ليکل شوي دي چې نومونه يې وي: «د عربو علمي پرمختگ» يا «په تمدن کې د مسلمانانو ونډه»:

Muslim contribution to civilization

څېړونکو عموماً دا خبره منلې ده چې معاصر صنعتي پرمختگ د عربو (مسلمانانو) د اغېز له امله رامنځته شوی دی. اې. همبولټ (A. Hamboldt) ويلي دي چې په حقيقت کې عرب هغه کسان دي چې بايد د فزيك اصلي بنسټ ايښودونکي وبلل شي:

It is the Arabs who should be regarded as the real founders of physics (p. ۲۵.)

فيليپ هتي په خپل کتاب هسټري آف د عـرب History of the Arabs «۱۹۷۰) کې ليکلي دي چې په منځنيو پيړيو کې هېڅ قـوم پـه انساني پرمختګ کې دومره ونډه نه ده اخيستې لکه عربو او عربي ژبه ويونکو خلکو:

No people in the Middle Ages contributed to human progress so much as did the Arabians and the Arabic-speaking peoples (p. ٤).

مورخينو عموماً دا منلې ده هغه علوم چې د عربـو (مسـلمانانو) لـه لارې اروپا ته ورسېدل، هماغه وروسته د اروپـا د رنسـانس (پـه دقيـق تعبير لومړنۍ بيدارۍ) د رامنځته کېـدو سـبب شـول. پروفيسـور هيتـي ليکي چې په ۸۳۲م کـال کـې پـه بغـداد کـې د «بيـت الحکمـت» تـر جوړېدو وروسته، عربو چې کومې ژباړې وکړې او کوم اثار يـې تيـار کړل، هغه لاتيني ژبې ته وژباړل شول او د هسپانيې او سسلي لـه لارې اروپا ته ورسېدل او بيا هماغه د اروپا د رنسانس د رامنځته کېدو لامـل شول:

This stream was re-diverted into Europe by the Arabs in Spain and Sicily, whence it helped create the Renaissance of Europe (p. ۳۰۷.)

خو پوښتنه دا ده چې پخپلـه د عربـو (مسـلمانانو) پـه مـنځ کـې دا ذهني بدلون څنګه پيدا شو، حال دا چې هغوی هم تر دې وړانـدې د هماغه عمومي وروسته پاتې والي په حالـت کـې وو چـې د نـړۍ نـور خلک پکې وو؟ د دې ځواب يوازې يـو دی: هغـه دا چـې د توحيـد عقيده د هغوی لپاره د دې ذهني او عملي انقلاب سبب شوه. له نورو

قومونو سره شرك و او له عربو سره (تر اسلام وروسته) توحيد و. همدا فرق د دواړو په تاريخ كې دا توپير پيدا كړ چې يو د تاريخ تابع پاتې شو او بل د تاريخ جوړوونكى شو.

د دې كتاب موخه يوازې دا ده چې يو منل شوى تاريخي حقيقت، چې خلكو يوازې تر يوه مسلمان قوم پورې محدود كړى دى، په لا سمه توګه د اسلام په حساب كې ثبت شي. دا يوازې د يوه معلوم حقيقت تفسير دى، نه دا چې كوم نوى نامعلوم حقيقت بيان شي.

د يوې بېلګې له لارې دا لا روښانه كېداى شي. دا يوه څرګنده خبره ده چې هند په ١٩٤٧ كې ازاد شو. يو څوك ويلاى شي چې هند ګاندي او نهرو ازاد كړ. خو كه په ژوره توګه ورته وكتل شي، نو سمه دا ده چې ووايو هند معاصرو ملي او دموكراتيكو نظرياتو ازاد كړ. په معاصر وخت كې د جمهوريت او ملي ازادۍ د اصولو پر بنسټ چې كوم نړيوال فكري انقلاب راغى، هماغه داسې شرايط برابر كړل چې يو ګاندي يا يو نهرو راپورته شي او هېواد د ازادۍ پر لور رهبري كړي. كه د نړيوال فكري انقلاب دا فضا مساعده نه واى، نو زموږ د مشرانو د ازادۍ غورځنګ به هم بريالیتوب ته نه واى رسېدلى.

تر بحث لاندې موضوع هم همداسې ده. پدې كې هېڅ شك نشته چې د عربي مسلمانانو له لارې په نړۍ كې د معاصر ساينسي- انقلاب پيل وشو. خو د دې پيل اصلي لامل دا و چې اسلام هغوى ته يو نوى ذهن وركړ. په دې توګه، د ساينس تاريخ يوازې د يوه قوم كارنامه نه پاتې كېږي، بلكې د هغه دين عطيه ګرځي چې د ټل لپاره د

ټولو انسانانو د سمې لارښوونې لپاره د خـدای جـل جلالـه لـه لـوري خپلو بندګانو ته لیږل شوی دی.

هینري پیرین (Henri Pirenne) د دې تاریخي حقیقـت اعـتراف په دې الفاظو کې کړی دی چې اسـلام د ځمکـې بڼـه بدلـه کـړه او د تاریخ دودیز چوکاټ یې نسکور کړ:

Islam changed the face of the globe. The traditional order of history was overthrown.

دا وړانـدې شـوی کتـاب د اسـلامي انقـلاب د دې اړخ یـوه لنـډه پېژندنه ده. پر دې موضوع ما غوښتل یو هـر اړخیـز او مفصـل کتـاب چمتو کړم. د معلوماتو راټولولو کار په تـدریجي ډول روان و. بـالاخره ماته دا احساس وشو چې له خپلو اوسنیو مصروفیاتو سره به ښایي زه د اړتیا وړ دومره مفصل او جامع کتاب چمتو نه کړای شـم. نـو ځکـه دا پرېکړه وشوه چې تر اوسه شوی کار بې له ځنډه د کتاب په بڼه خپـور شي.

که عمر او حالاتو اجازه راکړه، ان شاء الله په راتلونکي کې بـه نـور مباحث هم ورزیات شي او که دا ممکن نه شول، نو دا لومړنی ګام بـه د راتلونکو ګام اخیستونکو لپاره د دوهم ګام پـه اخیسـتلو کـې مرسـته وکړي.

وحید الدین

۱۶ اپریل ۱۹۸۹

## د مترجم سریزه

هغه څېړنیز اثر چې همدا اوس ستاسو په لاسونو کې دی، د معاصرې نړۍ د نوموتي مفکر، عالم او داعي مولانا وحیدالدین خان( رحمه الله) د هغو اغېزناکو هڅو پایله ده چې د اسلامي فکر د ویښتیا او د نوي عصر د پوهې په رڼا کې یې د دین د حقانیت ثابتولو لپاره کړې دي. د دغه کتاب اصلي نوم «اسلام دور جدید کا خالق» دی، چې په خورا منطقي او علمي استدلال سره دا ثابتوي چې نننۍ نړۍ او د هغې پرمختګونه د هغو بدلونونو پوروړي دي چې اسلام په تاریخ کې رامنځته کړل.

مولانا وحیدالدین خان په دې کتاب کې دا نظر وړاندې کوي چې اسلام یوازې د عقیدې او عبادت یوه ټولګه نه ده، بلکې اسلام یو داسې «فکري انقلاب» و چې د بشریت په تاریخ کې یې د جمود، شرک او ذهني غلامۍ ځنځیرونه مات کړل. د لیکوال په وینا، که اسلام په اوومه میلادي پېړۍ کې هغه ستر بدلون نه وای راوړی، نو نننۍ ساینسي او ډیموکراټیکه نړۍ به په دې بڼه نه وای.

پښتو ژبې ته د داسې اثارو ژباړه ځکه اړینه وه چې زموږ نوی نسل، په ځانګړې توګه محصلین او څېړونکي، په دې پوه شي چې اسلام د پرمختګ ضد نه، بلکې د پرمختګ سرچینه ده. په اوسني وخت کې چې د اسلام او ساینس ترمنځ د ټکر ناسم بحثونه کیږي، د

مولانا صاحب دا معتدل او پر منطق ولاړ استدلال کولی شي زموږ د ځوانانو لپاره فکري ډاډ رامنځته کړي.

ما په دې ژباړه کې هڅه کړې چې د متن اصلي روح، د لیکوال ځانګړی طرز او علمي امانتداري وساتم. د پښتو ژبې د اصطلاحاتو په ټاکلو کې مې کوښښ کړی چې متن روان، ساده او د هر چا لپاره د فهم وړ وي.

په پای کې هیله من یم چې دا کوچنۍ هڅه د اسلام د پوهې په عاملو او د فکري بیدارۍ په لاره کې یو ګټور ګام ثابت شي. له الله تعالی څخه په دې لاره کې د لا ډېر توفیق غوښتونکی یم.

په درنښت

تاند اندېش

۱۳/۴/۲۰۲۶

## اسلام؛ د معاصر دور پنځوونکی

دا د ۱۹۶۵ کال پېښه ده. هغه وخت زه په لکنو کې وم. زما له عالي تحصیلات لرونکي نامسلمان سره لیدنه وشوه. هغه پر مذهب باور نه درلود او مذهبي خبرې یې بې ګټې بللې. د خبرو په ترڅ کې یې وویل:

که اسلام له تاریخه وباسو، نو په تاریخ کې به څه کمی رامنځته شي؟

د دې په اورېدو زما له خولې ووتل: هماغه څه چې له اسلامه مخکې په تاریخ کې وو. زما د دې ځواب په اورېدو هغه سړی ظاهرا چوپ شو. هغه احساس کړه چې د تاریخ له پلوه دا خبره سمه ده چې ټول هغه څه چې ورته پرمختګ ویل کېږي، تر اسلام مخکې په نړۍ کې موجود نه وو، بلکې یوازې تر اسلام وروسته څرګند شول. خو بیا هم هغه دا شک درلود چې ایا د دې پرمختګونو د راڅرګندېدو کوم تړاو له هغې تاریخي پېښې سره شته چې اسلام یا اسلامي انقلاب بلل کېږي.

په دې کتاب کې همدې تاریخي پوښتنې ته کتنه شوې ده. دلته د هغې اړیکې څېړنه شوې چې د اسلامي انقلاب او معاصرو پرمختګونو ترمنځ شتون لري. په دې لړ کې پر ځینو هغو اړخونو هم کار شوی چې له دې موضوع سره تړاو لري یا یې غوښتنه جوړېږي.

په دې کې هېڅ شک نشته چې اسلام په اصل کې د الهي هدايت څرګندونه ده چې انسان ته د اخرت د تلپاتې بريا لار ورښيي. علمي او صنعتي پرمختګونه د اسلام مستقيم هدف نه دی. خو په دې کې هم شک نشته چې علمي او صنعتي پرمختګونه د اسلامي انقلاب يوه نتيجه ده. که اسلامي انقلاب په نړۍ کې نه وای راغلی، نو علمي او صنعتي پرمختګونه به هم هماغسې پټ پاتې وو، لکه څنګه چې تر اسلامي انقلاب مخکې پټ وو.

د ونې اصلي هدف مېوه ورکول دي، خو کله چې لويه شي نو انسانانو ته سيوری هم ورکوي. د اسلام مثال هم همداسې دی. د اسلام اصلي موخه دا ده چې د انسانانو پر وړاندې د الهي هدايت دروازه پرانيزي، تر څو هغوی د خپل رب تلپاتې قرب ترلاسه کړي. خو اسلام بشپړ حقيقت دی او کله چې بشپړ حقيقت څرګند شي، نو په هر لحاظ د انسانيت لپاره د برکت او ګټې لامل ګرځي—هم په مستقيم ډول او هم په غير مستقيم ډول.

## له تيارو تر رڼا

الله تعالی يوه بشپړه نړۍ پيدا کړه او بيا يې انسان په کامل صورت کې پيدا کړ. الله تعالی انسان ته وويل چې ته په دې نړۍ کې ژوند وکړه او له دې څخه ګټه واخله. له دې سره يې انسان ته دا هم وښودله چې ستا خالق او معبود يوازې يو دی. د هماغه يوه خدای عبادت وکړه او له هغه پرته بل هېڅوک خپل معبود مه ګرځوه.

خو انسان په محسوس‌پرستۍ کې ولوېد. هغه ونه توانېد چې نامرئي خدای د خپلې توجو مرکز وګرځوي. ورو ورو هغه د مرئي خدايانو پر لور مايل شو. هر څه چې ورته په ظاهره لوی او څرګند

ښکاره شول، د هغه په اړه يې دا گمان وکړ چې هغه خدای دی یا یکې د خدايي صفت شته. په دې توگه، له يوې خوا د لويو انسانانو د تقدس عقیده پیدا شوه او له بلې خوا د فطرت عبادت پيل شو، چې دې ته د مظاهرو عبادت (Phenomenal worship) يا د فطرت عبادت (Nature worship) ويل کېږي.

همدا د غير الله عبادت شرك بلل کېږي. دا شرك ورو ورو د عقيدې او عمل پر ټولو اړخونو خپور شو. د برکت او نحوست تر فرضي عقايدو لاندې، دا د کورنيو په ټولو رسمونو کې داخل شو او د «الهي پاچا» (Divine king) د نظريې په بڼه د سياسي نظام لازمي برخه وگرځېد.

همدا د پخواني نړۍ مذهب و. پخوانۍ نړۍ په بشپړه توگه پر همدغو فرضي عقايدو ولاړه وه، چې د مذهب په ژبه کې شرك او د علمي اصطلاح له مخې توهمپرستي (Superstition) بلل کېږي.

په پخوانيو زمانو کې چې کوم پيغمبران راغلي، ټول د همدې فساد د اصلاح لپاره راغلي وو. هغوی په هره دوره کې انسان ته دا بلنه ورکړه چې شرك پرېږدي او توحيد اختيار کړي. د يوه روايت له مخې، له حضرت آدم څخه تر حضرت مسيح پورې له يو لکو څخه زيات پيغمبران راغلي دي. خو انسان د هغوی د خبرې منلو ته تيار نه شو. د پيغمبرانو بلنه د حق تر اعلان پورې محدوده پاتې شوه او د حق تر انقلابه ونه رسېده.

د شرك يا توهمپرستۍ له منځه وړل يوازې په ساده مانا يو مذهبي مسئله نه وه، بلکې د دې تړاو د انسان له ټولو چارو سره و. حقيقت دا

دی چې د توهم‌پرستۍ همدې واکمنۍ هر ډول انساني پرمختګونه بند کړي وو.

دې فطرت (Nature) ته د تقدس درجه ورکړې وه او د هغه د څېړنې او تسخیر فکر یې له منځه وړی و، حال دا چې د فطرت تر څېړنې او تسخیر وروسته هغه ټولې پېښې راڅرګندېدلې چې نن یې ساینسي او صنعتي پرمختګ بولو. همدارنګه، دې د بېلابېلو بې‌اساسه فرضیو له مخې د انسانانو ترمنځ د نابرابرۍ عقاید ټینګ کړي وو. تر څو چې دا عقاید موجود وو، دا ناشونې وه چې د انساني مساوات دور پیل شي. په همدې ډول، هغه ټول څه چې نن ورځ ورته رڼا او پرمختګ ویل کېږي، د هغو راڅرګندېدل ناممکن شوي وو، ځکه چې د هغو د ظهور لپاره د نړۍ په اړه ساینسي-لیدلورى اړین و او توهم‌پرست لیدلوري د ساینسي لیدلوري د رامنځته کېدو مخه نیولې وه.

د زرګونو کلونو پیغمبرانه هڅو دا وښوده چې یوازې فکري او دعوتي مبارزه د توهماتو له دې دورې څخه د انسان د راویستلو لپاره بسنه نه کوي. د هغه وخت حکومتونه هم پر همدې توهمي عقایدو ولاړ وو، نو د واکمنانو ګټه په دې کې وه چې دا توهمي نظام همداسې پاتې شي، تر څو پر خلکو د هغوی د واکمنۍ حق تر پوښتنې لاندې رانشي. له همدې امله به هغوی خپله پوځي او سیاسي ځواک په بشپړه توګه د هرې هغې بلنې پر ضد کاراوه چې د شرک او توهم‌پرستۍ د له منځه وړلو لپاره پورته کېده.

نو اوس پوښتنه دا وه چې څه دې وشي؟ همدا هغه وخت و چې په شپږمه میلادي پېړۍ کې د وروستي پیغمبر محمد صلی الله علیه

وسلم ظهور وشو. الله تعالی د خپلې ځانګړي فیصلې له مخې دی نه یوازې «داعي» وګرځاوه، بلکې «ماحي» یې هم وګرځاوه؛ یعنې ده ته دا دنده وسپارل شوه چې نه یوازې د دې تـوهمي نظام د باطل والي اعلان وکړئ، بلکې د هغه د دایمي له منځه وړلو لپاره د هغه پر ضد پوځي اقدام (Military operation) هم ترسره کړئ.

### انا الماحي

په قرآن کې د پیغمبر اسلام صلی الله علیه وسلم ته په خطاب کې ویل شوي دي چې موږ دا کتاب پر تا نازل کړی دی، تر څو خلك له تیارو څخه راوباسې او رڼا ته یې راولې:

﴿كتاب أنزلناه إليك لتخرج الناس من الظلمات إلى النور﴾.

(ابراهيم: ۱)

د انسانانو له تیارو څخه رڼا ته راوستل د ټولو پیغمبرانو دنده وه. خو د پیغمبر اسلام صلی الله علیه وسلم ځانګړنه دا ده چې الله تعالی فیصله کړې وه چې ته یوازې د پیغام په رسولو انسانان پر خپل حال مه پرېږده، بلکې اقدام وکړئ او د هغوی حالت عملاً بدل کړئ. د دې عملي اقدام د بریالیتوب لپاره چې کوم ضروري اسباب پکار وو، هغه ټول الله تعالی درته برابر کړل. همدارنګه دا ضمانت هم ورکړل شو چې د دنیاوي اسبابو هره نیمګړتیا به د فرشتو په ځانګړې مرسته پوره کیږي.

دا خبره په حدیث کې په بېلابېلو طریقو بیان شوې ده. د یوه حدیث الفاظ دا دي: «وأنا الماحي الذي يمحو الله بي الكفر»، یانې زه هغه له منځه وړونکی یم چې الله تعالی به زما په وسیله کفر له منځه یوسي. نو داسې ده لکه چې پیغمبر اسلام صلی الله علیه وسلم یوازې

داعي نه و، بلکې ماحي هم و. هغه بلونکی هم و او په عملي توگـه د خلکو اړکوونکی هم و چې د بلنې منلو ته غاړه کېږدي. قرآن کې ویل شوي دي چې د پیغمبر د ماموریت د پوره کېدو لپاره، د نېکو انسانانو تر څنگ الله او فرشتې هم د هغه مرسته کوونکي دي. دا ځکه چې الله تعالی غوښتل یو نوی دور رامنځته کړي او د هغـه دور ظهـور ممکـن شي.

# د شرک پر لور

د قرآن له مخې، په څمکه کې د انساني نسل پیل له آدم علیه السلام څخه شوی دی. الله تعالی آدم ته ویلي وو چې ستا او ستا د نسلونو دین به توحید وي، په همدې کې ستاسو د دنیا خیر دی او هم په همدې کې د اخرت. په پیل کې خلك د سمې لارې پیرو وو، خو وروسته فساد پیل شو. بیا الله تعالی د پیغمبرانو د لیږلو لړی پیل کړه (البقره ۲۱۳).

له حضرت مسیح علیه السلام څخه شاوخوا درې زره کاله وړاندې، په عراق کې نوح بن لامك وزیږید. الله تعالی هغه پیغمبر وګرځاوه او د خپل قوم د اصلاح دنده یې ور وسپارله. له هغه را وروسته بیا تر حضرت عیسی بن مریم پورې پرله‌پسې پیغمبران راتلل او خلکو ته یې نصیحت کاوه، خو خلك بیا هم د اصلاح منلو ته تیار نه شول (المؤمنون ۴۴).

د دې فساد لامل د خلکو ظاهرپرستي وه. د توحید مانا دا ده چې انسان نامرئي معبود ته عظمت ورکړي او د هغه عبادت وکړي. خو خلکو نامرئي معبود خپل خدای ونه ګرځاوه، نو هغوی مرئي معبودان خپل خدایان وګرځول. نړۍ په پیل کې پر توحید ولاړه وه، خو وروسته د فساد له امله د نړۍ تاریخ د شرك پر لور واوښت.

توحید تر ټولو لوی حقیقت دی. که انسان پر توحید ولاړ وي، نو د هغه ټولې چارې به سمې وي او که توحید پرېږدي، نو ټولې چارې يې ګډوډې شي. توحید د ټولو انسانانو لپاره د عروج او زوال معیار دی.

په قرآن کې ډېر ځله راغلي دي چې الله د هر څه خالق دی او هماغه د هر څه ساتونکی دی. د اسمانونو او ځمکې کیلي د هغه په لاس کې دي. او هغه کسان چې د الله له نښو انکار کوي، هماغوی زیانمن دي. ووایه: ای ناپوهانو! ایا تاسو ماته وایاست چې له الله پرته د بل چا عبادت وکړم؟ حال دا چې تا ته او له تا مخکې خلکو ته وحې شوې ده چې که شرك وکړئ، نو عملونه به مو ضایع شي او تاسو به له زیانمنو څخه شئ. بلکې یوازې د الله عبادت وکړئ او له شکر کوونکو څخه شئ. او خلکو د الله قدر ونه پېژاند لکه څنګه چې د هغه د قدر حق دی. او د قیامت په ورځ به ټوله ځمکه د هغه په ګورت کې وي او ټول اسمانونه به د هغه په ښي لاس کې تاو شوي وي. هغه پاك او لوړ دی له هغه شرك څخه چې دوی یې کوي (الزمر ٦٢–٦٧).

له توحید څخه د انحراف اصلي زیان هغه دی چې په اخرت کې به څرګند شي. اما دا چې توحید د کایناتو اصلي حقیقت دی، ځکه نو له توحید څخه اوښتل په حقیقت کې له واقعیت څخه فرار ګرځي او څوك چې له واقعیت څخه واوړي، د هغوی ژوند نه یوازې په اخرت کې، بلکې په دې دنیا کې هم ګډوډېږي. همدې ټکي ته په پورته ایت کې اشاره شوې ده.

د دې بنسټيز لامل دا دی چې د يوه خدای شعور د انسان په فطرت کې نغښتی دی. انسان د خپلې فطري غوښتنې له مخې اړ دی چې خدای ومني او د هغه پر وړاندې سر ټيټ کړي. انسان کولای شي د يوه خدای له منلو انکار وکړي، خو دا د هغه له وسه بهر ده چې له خپل فطرت څخه انکار وکړي. پايله دا کېږي هغه کسان چې خالق نه مني، اړ کېږي چې مخلوق ومني. هغوی په ناحقه مخلوق ته هغه مقام ورکوي چې په حقيقت کې يوازې د خالق حق دی.

د دې نړۍ خالق او مالك الله دی او ټول حقيقي عظمتونه يوازې د هغه لپاره دي. کله چې انسان الله خپل عظيم وبولي، نو هغه داسې ذات لوی بولي چې په رښتيا د لويوالي او عظمت وړ دی. د الله د لويوالي په منلو سره انسان رښتيا هم پر واقعيت ولاړ وي. په دې حالت کې د هغه ژوند يو سم او برابر ژوند وي، له هر ډول تضاد څخه پاك وي. د هغه فکر او عمل دواړه په سمه لار روان وي او د هغه وجود د حقايقو له نړۍ سره بشپړ همغږی وي، د هغه او د جهاني حقايقو ترمنځ هېڅ ټکر نه وي.

خو برعکس، کله چې انسان غير الله لوی وګڼي او له الله پرته بل چا ته هغه درجه ورکړي چې يوازې د الله حق دی، نو پايله يې دا کېږي چې د هغه ټول چلند غيرحقيقي شي. هغه داسې بې‌جوړې موجود ګرځي چې د حقيقت له نړۍ سره سمون نه خوري. د هغه ټول ژوند د حقيقت‌پالنې پر ځای د توهم‌پرستۍ پر لور ځي.

د دې موضوع د روښانتيا لپاره يو مثال را اخلو: عيسويانو د تثليث د عقيدې له مخې عيسی بن مريم خدای وګاڼه. حال دا چې حضرت عيسی د حقيقت له مخې د مريم زوی و، خو عيسويانو په غلو سره

حضرت مسیح ته د «ابن الله» درجه ورکړه. هغوی حضرت مسیح ته هغه عظمت ورکړ چې دا عظمت یوازې د واحد خدای لپاره دی، هغه خدای چې عیسی او ټول انسانان یې پیدا کړي دي.

د دې په نتیجه کې هغوی د لوی تضاد ښکار شول. له دې تضادونو څخه یو هغه تضاد دی چې د شمسي نظام په اړه د هغوی له کلامي نظریاتو څخه پیدا شو.

په یونان کې یو ستورپوه بطلیموس (Ptolemy) پیدا شو. هغه د سکندر په زمانه کې څېړنې وکړې او یو لوی کتاب یې په لاتیني ژبه ولیکه. په هغه کې یې دا نظریه وړاندې کړه چې ځمکه ثابته ده او لمر، سپوږمۍ او نورې سیارې د هغې شاوخوا ګرځي. د هغه زمانه د لومړۍ او دوهمې پېړۍ ترمنځ (۹۰–۱٦۸) وه. د مسیحي علماوو د ملاتړ له امله دا نظریه پر ذهنونو حاکمه پاتې شوه، تر دې چې په شپاړسمه پېړۍ کې کوپرنیکس دا نظریه بالاخره رد کړه.

د مسیحي عقیدې بنسټ د «کفاره» پر عقیده ولاړ دی، چې له مخې یې خدای د ټول انسانیت د نجات بندوبست کړی دی. د نجات پېښه یو مرکزي (Central event) پېښه ګڼل کېږي چې نه یوازې د انسانانو، بلکې له ټولو کایناتو سره دی. د ټولو کایناتو دا مرکزي پېښه( د ګناهونو د کفارې لپاره د حضرت مسیح مصلوب کېدل ) چونکه پر ځمکه ترسره شوې وه، نو د مسیحي کلام له مخې ځمکه د ټولو کایناتو تر ګردو مهم ځای او مرکزي نقطه وګرځېدله. له همدې امله، مسیحیانو د بطلیموس د ځمکې د-مرکزیت (Geocentric) د نظریې کلک ملاتړ وکړ او ورته یې د مذهبي عقیدې حیثیت ورکړ.

مسیحیان د هرې هغې هڅې مخالف پاتې شول چې د لمر-د مرکزیت (Heliocentric) د نظریې پر لور روانه وه، تر دې چې د کوپرنیکس (Copernicus)، ګالیلیو (Galileo) او کیپلر (Kepler) څېړنو دا نظریه په بشپړه توګه ناسمه ثابته کړه (۴/۵۲۲).

د انسائیکلوپیډیا برټانیکا (۱۹۸۴) یو لیکوال لیکي چې د مسیحي کلام له مخې د نجات طرحه یوه کایناتي پېښه وه. د مسیح د نجات عمل کایناتي مانا لرله او له انسانه تر حیوان پورې یې اغېز درلود. خو د معاصر ستورپوهنې له مخې څرګنده شوه چې ځمکه د کایناتو په پراخ سمندر کې یوازې تر یوې کوچنۍ تېرې زیات حقیقت نه لري. د دې حقیقت له مخې، د مسیح خپل معنویت هم تر یوې اندازې کم شو او د نجات الهي عمل د یوې بې‌ارزښته کرې پر سر یوازې یوه وړه پېښه وګرځېده:

In view of this fact, the meaning of Christ itself lost some of its impact, and the divine act of salvation appeared merely as a tiny episode within the history of an insignificant little star (٤/٥٢٢.)

د دې نړۍ خالق، مالك او مدبر یوازې یو خدای دی. هر ډول لویوالی او اختیار یوازې هغه ته ځانګړی دی. له هغه پرته بل هېڅوك د کوم ډول لویوالي یا اختیار حق نه لري. نو ځکه، کله چې په دې نړۍ کې د بل چا لپاره د عظمت او تقدس مقام ټاکلو هڅه کېږي، نو دا ډول نظریه د ټولو کایناتو له حقیقت سره ټکر کوي او په دې پراخو کایناتو کې خپل ځای نه شي موندلی.

همدا لامل دی چې د شرك نظريه د انساني پرمختګ په لاره کې خنډ ګرځي او د توحيد نظريه د انسان لپاره د هر ډول پرمختګونو دروازې پرانيزي.

## د اسلام نظریه

له قرآن څخه څرګندیږي چې د ټولو پیغمبرانو بلنه یوازې یـوه وه. هغوی په هر دور کې انسـانانو تـه دا ویـلي دي: یـوازې د الله عبـادت وکړئ، له هغه پرته بل معبود تاسو نه لرئ:

﴿اعبدوا الله ما لكم من إله غيره﴾

د امام راغب په «مفردات» کې د «أله يألـه» مانـا «حیرانېـدل» بیـان شوې ده.

په «لسان العرب» کې راغلي دي:

«أصـله مـن ألـهَ يألـهُ إذا تحـيرّ، يُـراد إذا وقـع العبـدُ في عظمـةِ اللهِ وجلالِه، وقيل في اسمِ الباري سبحانه إنه مأخوذٌ من ألهَ يألهُ إذا تحـيرّ، لأن العقولَ تألهُ في عظمته»

یعنې د دې کلمې اصـل لـه «ألـه يألـه» څخـه دی، چـې مانـا یـې حیرانېدل دي؛ کله چې بنده د الله د عظمت او جلال په وړاندې واقـع شي. او ویل شوي چې د «الله» نوم له همـدې څخـه اخیسـتل شـوی، ځکه عقلونه د هغه د عظمت په تصور کې حیرانیږي.

«إله» څخه مراد هغه ذات دی چـې تـر حیرانـوونکې کچـې عظـیم وي، داسې چې د هغه د کمالاتو په فکر کولو سره انسان په حیـرت او تعجب کې ډوب شي. له همدې ځایه د تقـدس عقیـده پیـدا کیـږي. تقدس هغه پټ او اسرارناک صفت ته ویل کیږي چې یو شـی د فهـم

له حده پورته، لوړ او برتر وګرځوي. «إله» هغه دی چې په مطلق ډول مقدس وي، داسې چې انسان په خپل ټول وجود د هغه په وړاندې سر ټيټ کړي او هغه له هر ډول تصرف و غلبې څخه لوړ وي.

په دې مانا يوازې الله، اِله دی. له هغه پرته نه بل معبود شته او نه هم څوک د هغه سره د الوهيت په کومه درجه کې شريک دی. د حقيقي الله منل د ټولو نېکيو سرچينه ده او د غير حقيقي معبود منل د ټولو بديو سرچينه ده.

## د ټولو خرابيو ريښه

غير مقدس ته سپېڅلتيا ورکول د ټولو بديو ريښه ده. همدا هغه څه دي چې په ديني اصطلاح کې ورته «شرک» ويل کېږي. قرآن کې شرک ته «لوی ظلم» ويل شوی دی:

﴿إن الشرك لظلم عظيم﴾ (لقمان: ۱۳)

ظلم اصلاً دا مانا لري چې يو شی په داسې ځای کې کېښودل شي چې د هغه خپل ځای نه وي:

وضع الشيء في غير موضعه المختص به.

شرک ځکه تر ټولو لوی ظلم دی چې دا د همدې ډول تر ټولو درونډ عمل دی. دا داسې شيان مقدس او معبود ګرځوي چې په حقيقت کې نه مقدس دي او نه معبود. دا غير الله ته هغه مقام ورکوي چې يوازې د يوه الله لپاره ځانګړی دی.

د دې ظالمانه عمل تر ټولو لوی زيان دا دی چې د انسان د عبادت مرجع بدلېږي. هغه د داسې موجوداتو عبادت کول پيلوي چې د عبادت وړ نه دي. د دې پايله دا کېږي چې هغه په کايناتو کې له هغه يوازيني ملاتړي څخه محرومېږي چې له هغه پرته انسان ته بل

هېڅ ملاتړی نشته. هغه خپل ځان له دې وړتیا محروموي چې له الهي رحمتونو څخه برخه واخلي او څوک چې لـه الهـي رحمتونـو محـروم شي، هغه همېشه محروم شو، ځکه چـې لـه الله پرتـه بـل هېڅـوک دا توان نه لري چې چا ته رحمت او مهرباني ورکړي.

دا هغه زیان دی چې د اخرت د تلپاتي ژونـد لـه پلـوه دی. خـو د دې دنیا د لنډمهاله ژوند له پلوه هم پکې د زیان او تاوان پرته بـل څـه نشته. په پخوانۍ زمانه کې انسان ډېر غیر مقدس شیان مقـدس ګـڼلي وو او د دې په پایله کې تل له زیان او تاوان سره مخ و.

د دې مشرکانه نظریې له مخې نور ډېر عقاید هم پیدا شول، تر دې چې د اوهامو او خرافاتو یوه بشپړه لـړۍ رامنځتـه شـوه. د بېلګـې پـه توګه: کله به چې تندر کېده، نو ګمان به کېده چې دا د کـوم معبـود د اور چلاخه ده؛ او کله به چې د سپوږمۍ یا لمر ترنځې نیـوی، نـو دا به ګڼل کېده چې کوم معبود ته ستونزه پېښه شوې ده، او داسې نور.

د تقدس دغه مشرکانه عقیده د مذهبي مشرانو لپاره ډېره ګټوره وه. هغـوی دا یـو بشـپړ نظـام وګرځـاوه او د خـدای او انسـان تـرمنځ د منځګړیتوب په توګه یې خلک په پراخه توګه لوټل. هغـوی د خلکـو په ذهن کې دا فکر کېښود چې د مذهبي مشرانو خوشـحاله کـول، پـه غیر مستقیم ډول د خدای خوشحاله کول دي.

د دې تر ټولو لویه ګټه پاچاهانو تـه ورسـېده. هغـوی د خلکـو لـه همدې ذهنیت څخه استفاده وکړه او د «خـدایي پاچـا» (God-king) نظریه یې جوړه کړه. پاچا په هـره ټولنـه کـې تـر ټولـو ډېـر ځـواک او شتمني لري، او په بېلابېلو اړخونو کې له عامو خلکو څخه ممتاز وي. له دې امتیازه په ګټې اخیستنې سره، پاچاهانو خلکو تـه دا بـاور ورکـړ

چې هغوی له عامو انسانانو څخه لوړ دي. هغوی د ځمکې پر مخ د خدای استازي دي. ځینو یوازې دا ویل چې هغوی د خدای او بندګانو ترمنځ منځګړي دي او ځینې لا وړاندې لاړل او دا یې وښودله چې خدای د دوی په بڼه جسماني ظهور کوي او له فوق‌الطبیعي ځواکونو څخه برخمن دي. د همدې پر بنسټ، د پخوانۍ زمانې پاچاهان پر خپلو رعایاوو مطلق واکمنان شول.

د انسائیکلوپیډیا برټانیکا (۱۹۸۳) یو لیکوال د «مقدسې پاچاهۍ»(Sacred kingship) تر سرلیک لاندې لیکلي دي: یو وخت داسې و چې مذهب د فرد له ټول ژوند او د ټولنې له ژوند سره په بشپړه توګه تړلی و، پاچاهۍ هم په بېلابېلو درجو له مذهبي ځواکونو یا مذهبي ادارو سره تړلې وې. په داسې حال کې په نړۍ کې هېڅ داسې پاچاهي نه وه چې په یو نه یو ډول مقدسه نه ګڼل کېده:

At one time, when religion was totally connected with the whole existence of the individual as well as that of the community and when kingdoms were in varying degrees connected with religious powers or religious institutions, there could be no kingdom that was not in some sense sacred (١٦/٤١٨.)

لارډ ایکټن (۱۸۳۴–۱۹۰۲) ویلي دي:

Power corrupts and absolute power corrupts absolutely.

یعنې واک انسان فاسدوي او مطلق واک یې په بشپړه توګه فاسدوي.

کله چې پخواني شرک ته واکمنانو مقدس حیثیت ورکړ، نو په یوه وخت کې یې په ټولنه کې ډېرې سترې بدۍ پیدا کړې. دې د واک د فساد کچه تر وروستي حد پورې ورسوله. له دې سره دا هم وشول چې د واکمن پر ضد د خلکو پورته کېدل ناشوني شول، ځکه چې هغه واکمن چې د خدای استازی یا د خدای سیوری، بلکې خپله خدای ګڼل کېږي، د خلکو لپاره دا تصور هم ناشونی و چې هغه له واکه لرې کړي او د هغه له ظلمونو څخه ځان خلاص کړي.

دا سیاسي بدۍ، چې فرانسوي مورخ هینري پیرین ورته «مطلقه شاهنشاهي» (Empirical absolutism) وایي، د هر ډول پرمختګونو په وړاندې یو دوامداره خنډ ګرځېدلی و. کله چې اسلام دا پخوانۍ شاهنشاهۍ ماتې کړې، نو تر هغه وروسته دا ممکنه شوه چې د انسان پر وړاندې د هر ډول پرمختګونو دروازې پرانیستل شوې. په دې اړه د هینري پیرین د کتابونو مطالعه ډېره ګټوره ده.

د هینري پیرین د نظریې لنډیز دا دی چې پخوانۍ رومي امپراتوري، چې د مدیترانې سمندر دواړو غاړو ته خپره وه، د نظر ازادي یې له منځه وړې وه او د انساني پرمختګ دروازه یې تړلې وه. تر څو چې دا ډول مطلقه شاهنشاهي ونه نړېږي، د انسان ذهن ازادي نه شي ترلاسه کولای. او تر څو چې د انسان ذهن ته په ازاد چاپېریال کې د فعالیت فرصت ور نه کړل شي، د انساني پرمختګ پیل هم نه شي کېدای.

لیکوال په دې لړ کې ایراني شاهنشاهي هم ور زیاتوي. دا دواړه امپراتورۍ د پخوانۍ نړۍ پر لویه برخه واکمنې وې او د دولت د محدود فکر له امله یې د ازاد فکر حق په بشپړه توګه اخیستی و. همدا

وجه وه چې له اوږدې واکمنۍ سره سره، د ایراني او رومي امپراتوریو په سیمو کې د ساینسي فکر ریښتینی پیل ونه شو.

رسول الله صلی الله علیه وسلم او د هغـه اصـحابو پـه حیرانـوونکې توګه په ډېر لږ وینې تویولو سره دا امپراتورۍ پـای تـه ورسـولې او پـه دې ډول یې د فکر ازادۍ ته لاره هواره کړه او د انسان لپاره یې د پراخ پرمختګ دروازې پرانیستې.

# د څېړنې ازادي

د بیرون کارا ډې ووکس (Baron Carra de Vaux) مشهور کتاب د اسلام میراث «The Legacy of Islam» پـه ۱۹۳۱ کـال کـې خپـور شو. د دې کتاب لیکوال که څه هم د عربو لاسته راوړنې منـي، خـو د هغه په نظر د دوی حیثیت یوازې د یونانیـانو د شـاګردانو( Pupils of the greeks) وو. برټرنډ رسل پـه خپـل کتـاب هسـټري اف ویسـټرن فلاسفه «History of Western Philosophy» کې عربو ته یـوازې د ناقل (Transmitter) درجه ورکړې ده، چې ګـواکې هغـوی د یونـان علوم واخیستل او د ژباړې له لارې یې اروپا ته ولېږدول.

خو دا خبره له تـاریخي پلـوه سـمه نـه ده. دا رښـتیا ده چـې عربـو یوناني علوم ولوستل او ترې یې ګټه واخیسته، خو وروسـته یـې چـې څه اروپا ته ولېږدول، دا تر هغه څه ډېر زیات وو چې هغوی له یونـان څخه اخیستي وو. حقیقت دا دی چې کوم څه د عربو لـه لارې اروپـا ته ورسېدل او په اروپا کې یې د رنسانس لامل شو، په خپله لـه یونـان سره موجود نه وو. که په رښتیا هم دا شیان له یونان سره موجـود وای، نو ډېر مخکې به اروپا ته رسېدلي وو او اروپا به د خپل نوي ژوند لپاره زر کاله انتظار نه وای ایستلی.

دا یوه څرګنده خبره ده چې پخواني یونان تر ډېره په هنر او فلسـفه کې پرمختګ کړی و. د ساینس په ډګر کې یې پرمختګ ډېـر کـم و،

آن د یادونې وړ هم نه ګڼل کېږي. په دې برخه کې یوازینی د یـاد وړ استثناء ارشـمیدس (Archimedes) دی، چـې پـه ۲۱۲ ق.م کـې یـو رومي سرتېري هغه په داسې حال کې وواژه چې هغه د ښار نه بهـر پـه شګه کې د هندسې مسئلې حل کولې.

J.M. Roberts, History of the World, p. ۲۳۸

حقیقت دا دی چـې د ساینسي- فکـر او ساینسي- پرمختـګ لپـاره ازاده ذهني فضا ډېر لازمي شرط دی او دا فضا، لکه د پخوانۍ زمـانې د نورو هېوادونو په شان، په یونان کې هم موجوده نه وه. سقراط تـه د همدې «جرم» له امله د زهـرو جـام ورکـول شـو چـې هغـه د ایتنـز پـه ځوانانو کې د ازاد فکر کولو روحیه پیدا کولـه. د پلوټـارک د بیـان لـه مخې، د سپارټا خلکو یوازې د عملي اړتیاوو لپاره لیکل او لوستل زده کول.

د هغوی په ټولنه کې پر نورو ټولو کتابونو او علماؤ بنـدیز لګېـدلی و. په ایتنز کې هنر او فلسـفې پرمختـګ وکـړ، خـو ډېـر هنرمنـدان او فلاسفه یا تبعید شول، یا زندان ته واچول شول، یا په دار وځړول شول او یا له وېرې وتښتېدل. په دې کسانو کې ایسخیلوس (Aeschylus)، ایوریپیدس (Euripides)، اناکساګوراس، سقراط او ارسطو هم شامل وو.

د ایسخیلوس (Aeschylus) وژل کېدل په خپله دا ثابتوي چې پـه پخواني یونان کې د ساینسي پرمختګ فضا نه وه. هغه ځکه ووژل شو چـې د الیـوسي نـین رازونـه «Eleusinian Mysteries» یـې څرګنـد کړي وو. دا رازونه په حقیقت کې لـه هغـو بېشـمېره افسـانوي کیسـو

ځخه وو چې هېڅ واقعي بنسټ يې نه درلـود، خـو د يونـاني فکـر او تخيل لازمي برخه گرځېدلي وو (EB-۱۰۸٤/۳).

له معاصر ساينسي ـ دور ځخـه مخکـې، د سـاينس پـه اړه د اروپـا حالت ځنگـه و، د دې يـوه بېلگـه د پـوپ سيلوېسـټر دوهـم ( Pope Sylvester II) کيسه ده، چې عموماً د «گر برت» (Gerbert) پـه نـوم پېژندل کېږي. هغه په ۹۴۵ کې په فرانسه کې زېږېدلی او په ۱۰۰۳ کې مړ شوی دی. هغه په يوناني او لاتينـي ژبـو ښـه پوهېـده او ډېـر لايـق انسان و.

هغه هسپانيا ته سفر وکړ او هلته په بارسلونا کې درې کاله پاتې شو. هلته يې د عربو علوم زده کـړل او ډېـر تـرې متـأثر شـو. کلـه چـې لـه هسپانيا بېرته راستون شو، نو ورسره د عربو د کتابونو ژبـاړې وې. هغـه له هسپانيا ځخه يو اصطرلاب (د ستورپوهنې وسيله) هم راوړی و. هغه د عربو د منطق، رياضي او فلکياتو علـوم تـدريس پيـل کـړ، خـو لـه سخت مخالفت سره مخ شو. ځينو مسيحيانو وويل چې ده له هسـپانيا جادو زده کړی راغلـی دی، او ځينـو نـورو وويـل چـې شـيطان پـرې مسلط شوی دی. هغه په همدې سختو حالاتو کې ژوند وکړ، تـر دې چې د ۱۰۰۳ کال د مې په ۱۲مه په روم کې وفات شو.

له اسلام ځخـه مخکـې پـه ټـول معلـوم تـاريخ کـې علمـي ازادي موجوده نه وه. همدا وجه وه چې په پخواني زمانه کې کـه ځـه هـم د ساينسي فکر ځينې انفرادي بېلگې ليـدل کېـږي، خـو دا فکـر لـه لنډ مهاله يا فـردي کچـې ځخـه وړانـدې نـه دی تللـی. د ذهنـي ازادۍ د نشتوالي له امله، هره نوې مفکوره راټوکېده او بيا له منځه تللـه. اسـلام

لومړی ځل دا انقلابي بدلون راوست چې مذهبي علم او طبيعي (ساينسي) علم يې له يو بل څخه جلا کړل.

ديني علم له الهي وحې څخه سرچينه اخلي او د هغه مستنده بنه زموږ سره د قرآن په بڼه محفوظه ده. خو په طبيعي علومو کې انسان ته بشپړه ازادي ورکړل شوې ده چې په ازاد ډول پکې څېړنه وکړي او په خپلواکه توګه پايلو ته ورسېږي.

په صحيح مسلم (دوهم ټوك) کې د يوه باب عنوان داسې دی:

«باب وجوب امتثال ما قاله شرعاً دون ما ذکره صلى الله عليه وسلم من معايش الدنيا على سبيل الرأي»

يعنې: د هغه څه منل واجب دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د شريعت له مخې ويلي وي، خو د دنيايي چارو په اړه د هغه د رأی خبرې له دې څخه مستثنی دي.

تر دې باب لاندې امام مسلم دا روايت راوړی دی چې موسی بن طلحه له خپل پلار څخه روايت کوي: زه له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره تېرېدم، داسې خلکو ته ورسېدو چې د خرماوو ونو ته ختلي وو. رسول الله صلى الله عليه وسلم وپوښتل: دا خلك څه کوي؟ خلکو وويل: دوی د خرماوو تلقيح (Pollination) کوي، رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: زه ګمان نه کوم چې دا به ګټه ولري. کله چې دا خبره خلکو ته ورسېده، هغوی تلقيح پرېښود. وروسته رسول الله صلى الله عليه وسلم ته دا خبره ورسېده، نو ويې فرمايل: که دا کار هغوی ته ګټه رسوي، نو هغه دې يې وکړي. ما خو يوازې يو ګمان کړی و، نو تاسو زما د ګمان پيروي مه کوئ. خو کله چې زه

تاسو ته د الله په اړه څه ووایم، نو هغه ومنئ، ځکه چې زه د الله عزوجل په اړه هېڅکله دروغ نه وایم.

او له حضرت عایشه، حضرت ثابت او حضرت انس رضی الله عنهم څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د خلکو له یوې ډلې سره تېر شو چې د خرماوو تلقیح یې کاوه. ویې فرمایل: که دوی دا کار ونه کړي، نو ښايي ښه وي. راوي وايي: تر دې وروسته د خرماوو حاصل کم شول. بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم له هغوی سره تېر شو او ویې پوښتل: ستاسو د خرماوو څه حال دی؟ هغوی ټول حال بیان کړ. نو ویې فرمایل: تاسو خپل کار په خپله طریقه وکړئ، ځکه چې:

«أنتم أعلم بأمور دنیاکم»

تاسو په خپلو دنیاوي چارو ډېر ښه پوهېږئ!

د دې حدیث له مخې، په اسلام کې دیني بحث له ساینسي- څېړنې (Scientific research) څخه جلا شوی دی. په دیني بحث کې د الهي هدایت بشپړه پابندي کېږي، خو ساینسي څېړنه د انساني تجربې پر بنسټ مخ ته ځي. دا د علم په تاریخ کې بېساری او ستر انقلاب دی.

## یو اقتباس

دا سمه ده چې پخوا په بېلابېلو هېوادونو کې ځینې داسې شخصیتونه پیدا شوي چې په انفرادي ډول یې ځینې ساینسي کارنامې ترسره کړې دي، خو د مناسب چاپېریال د نشتوالي له امله هغوی نه په خپل هېواد کې ډېر شهرت وموند او نه له خپل هېواد څخه بهر.

میوسیو لیبا په خپل کتاب «تمدن العرب» کې لیکي چې په پخوانیو زمانو کې ډېرو قومونو واکمني ترلاسه کړې وه. ایران، یونان او روم په بېلابېلو دورو کې پر ختیځو هېوادونو حکومت کړی و، خو پر دغو هېوادونو یې فرهنګي اغېز ډېر کم و. هغوی ونه توانېدل چې خپل مذهب، ژبه، علوم او صنایع خپاره کړي. مصر-د بطلیموسیانو او رومیانو په زمانه کې نه یوازې پر خپل مذهب پاتې شو، بلکې برعکس فاتحانو خپله د مفتوح قومونو مذهب او د ودانۍ طرز اختیار کړ. له همدې امله، د دغو دواړو کورنیو جوړې شوې ودانۍ د فراعنه‌وو د طرز په شان وې.

خو هغه هدف چې یونانیانو، ایرانیانو او رومیانو په مصر-کې ترلاسه نه کړ، عربو ډېر ژر او بې له جبره ترلاسه کړ. مصر چې د نورو قومونو د افکارو منل ورته ډېر سخت وو، په یوه پېړۍ کې یې خپل اوه زره کلن تمدن پرېښود او یو نوی دین او نوې ژبه یې ومنله. عربو همدارنګه په افریقا، شام او ایران کې هم ژور اغېز وکړ. په دې ټولو سیمو کې اسلام په چټکۍ سره خپور شو. آن تر دې چې هغو هېوادونو ته هم ورسېد چې عرب یوازې پرې تېر شوي وو، هلته یې هېڅ حکومت نه و جوړ کړی او یوازې د سوداګرو په توګه ورغلي وو، لکه چین او نور.

د نړۍ په تاریخ کې داسې بېلګه نه موندل کېږي چې یو فاتح قوم دې پر مفتوحو قومونو دومره ژور اغېز کړی وي. حتی هغه قومونه چې یوازې ځو ورځې له عربو سره مخامخ شوي وو، هغوی هم د عربو تمدن ومانه. په داسې حال کې چې ځینو نورو فاتحو قومونو، لکه ترکانو او مغلو، کله چې پر مسلمانانو برلاسي شول، نه یوازې یې

د هغوی مذهب او تمدن خپل کړل، بلکې د هغه ستر ملاتـړي شـول. تر نن ورځې پورې، سره لـه دې چـې د عـربي تمـدن روح لـه پېړيـو راهيسې کمزوری شوی دی، بيا هم له اتلانتيک سمندر څخـه د سـند تر دريابه، او له مديترانې سمندر څخه تر د افريقا تر صحراوو پـورې، يو دين او يوه ژبه رواج لري او هغه د پيغمبر اسلام دين او د هغـه ژبـه ده. (تمدن العرب)

موسيوليبا همدارنگه ليکي چې په لوېديځو هېوادونـو هـم د عربـو اغېز هماغـومره و لکـه پـه ختيځـو هېوادونـو کـې. د همـدې لـه امله لوېديځ تمدن زده کړ. توپير يوازې دومره و چې په ختيځ کې د عربـو اغېز پر مذهب، ژبه، علومو، فنونو او صنعتونو ټولـو برخـو پرېـووت، خو په لوېديځ کې پر مذهب د هغوی اغېـز لـږ و، پـر صـنعتونو نسـبتاً کم، خو پر علومو او فنونو ډېر زيات و.

د عربو له لارې د توحيد دين او هغه تمدن چې د هغه تر سـيوري لاندې رامنځته شوی و، هر لور ته خپـور شـو. دې د پخـوانۍ ابـادې نړۍ ډېره برخه متاثره کړه. په دې توگه هغه چاپېريال او فضـا رامنځتـه شوه چې پکې علمي څېړنه او د طبيعي پديـدو د تسـخير کـار پـه ازاد ډول ترسره کېدای شو.

## څلور ادوار

په قرآن کې شاوخوا لسګونه ځایونه دا خبره شوې ده چې هغه دین چې د اسلام په بڼه نازل شوی، د انسانانو لپاره هم هدایت دی او هم رحمت:

﴿هدى ورحمة﴾. (الأنعام: ۱۵۷)

له «هدایت» څخه مراد د دې دین مذهبي اړخ دی او له «رحمت» څخه، په یوه لحاظ، د دې دنیاوي اړخ مراد دی. د اسلام له لارې یو خوا دا وشول چې انسان ته رښتینی او له ککړتیا پاک دین ورکول شو. د انسان او د هغه د رب ترمنځ چې کوم مصنوعي خنډونه موجود وو، هغه ټول د تل لپاره لرې کړل شول. د قرآن او سنت په بڼه د لارښوونې یو تلپاتی نظام قائم شو چې د هر وخت انسان ترې رڼا اخلي.

له دې سره یو بل، نسبتاً ثانوي اړخ دا و، چې د اسلام له لارې یو داسې انقلاب رامنځته شو چې د انسان پر وړاندې یې د دنیاوي رحمتونو دروازې پرانیستې. دې د انسان تاریخ له تیارو څخه را وایست او د رڼا دورې ته یې داخل کړ. د اسلامي انقلاب پر همدې بل اړخ مشهور لویدیځ مورخ هینري پیرین (Henri Pirenne) په دې ټکو اعتراف کړی دی:

Islam changed the face of the globe. The traditional order of history was overthrown (p. ٤٦.)

یعنې: اسلام د ځمکې بڼه بدله کړه او د تاریخ دودیز جوړښت یې ونړاوه.

هغه څه چې نن ورځ ورته پرمختللی عصر- ویل کېږي-لکه د ساینس او صنعت دوره، د ازادۍ او مساوات دوره-دا ټول د اسلامي انقلاب د همدې اړخ پایله ده چې قرآن ورته «رحمت» ویلي دي. دا دوره، لکه د نورو کایناتي بدلونونو په شان، په تدریجي ډول راڅرګند شو او شاوخوا زرو کلونو کې خپل اوج ته ورسېد.

که دا تدریجي بهیر په مرحلو او دورونو ووېشل شي، نو په عمومي توګه یې په څلورو مرحلو وېشلای شو. له دې جملې څخه لومړنۍ درې مرحلې د اسلامي انقلاب مستقیم پړاوونه دي او څلورم پړاو غیر مستقیم پړاو ګڼل کېږي.

د پیغمبر اسلام صلی الله علیه وسلم زمانه **۶۱۰ – ۶۳۲**

د خلفای راشدینو زمانه **۶۳۲ – ۶۶۱**

د بنو امیه او بنو عباس زمانه **۶۶۱ – ۱۳۹۲** (تر هسپانیې پورې)

د اروپا معاصر انقلاب، چې تر صلیبي جګړو وروسته او د هسپانیې د اسلامي تمدن تر اغېز لاندې د میلادي پنځلسمې پېړۍ په مهال پیل شو.

## معاصر انسان

د اوسنۍ پېړۍ تر پیل پورې، په متمدنه نړۍ کې عموماً داسې ګڼل کېدل چې د پرمختګ راز په ساده ډول دا دی چې انساني کاروان له دود (Tradition) څخه نوښت (Modernity) ته ورسول شي. خو کله چې انسان د دې سفر وروستي پړاو ته ورسېد، نو بیا له مایوسۍ سره مخ شو. هغه دا احساس کوي چې د انسان د حقیقي پرمختګ

لپاره تر دې ډېر ژور بنسټ تـه اړتیـا ده. لـه همـدې املـه اوس ډېـرې داسې مقالې خپرېږي چې سرلیکونه یې داسې وي:

Shallow are the roots

اوس خپله په لوېدیځـه نـړۍ کـې دا موضـوع د لیکوالانـو لپـاره د بحث مهم محور گرځېدلې ده. له دې جملې څخـه یـوه د پروفېسـور کونولي (William E. Connolly) کتاب دی چې په ۱۹۸۸ کال کـې خپور شوی دی:

William E. Connolly, Political Theory and Modernity, Black well, London, ۱۹۸۸

پروفېسور کونولي وايي چې د مـوډرنیزم ټولـه پـروژه، سره لـه دې چې ظاهري بریاوې لري، خو له ډېرو ستونزو ډکه ده. د دې علـت دا دی چې کله خدای له صحنې لرې کړل شو، نو د هغه د ځـای ډکولـو لپاره چې کومې هڅې وشـوې—لکـه عقـل، عامـه اراده، او د تـاریخ ډیالکتیکي بهیر—هغې ټولې بې‌گټې ثابتې شوې او هره یوه په یو ډول ناهیلۍ (nihilism) پای ته رسېدلې ده:

The whole project of modernity, despite its stunning success, is highly problematic. This is because all attempts to fill the place which God was forced to vacate at the start of the project—with reason, with the general will, the dialectic of history—have been of no avail, and each has ended up in one kind of nihilism or another.

له اسلام څخه مخکې دوره د شرک د غلبې دوره وه. په هغه زمانـه کې د انسان پر ذهن مشرکانه افکار حاکم وو. مخلوقاتو د خـالق مقـام

خپل کړی و. انسان د بې‌شمېره خدایانو عبادت کوونکی گرځېدلی و. د دې په پایله کې د انسان ټول فکري نظام گډوډ شوی و او د هغه پر وړاندې د هر ډول پرمختگ دروازې تړل شوې وې.

تر دې وروسته اسلام را څرگند شو. د اسلام اصلي هدف دا و چې د شرك غلبه پای ته ورسوي او توحید ته د برلاسی مقام ورکړي. د پیغمبر اسلام صلی الله علیه وسلم او د هغه د اصحابو د بې‌سارو قربانیو په نتیجه کې شرك په دوامداره توگه له منځه ولاړ او توحید د غلبې مقام تر لاسه کړ. دا انقلاب دومره پراخ او ژور و چې په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره د شرك دوره پای ته ورسېده او پر ځای یې د توحید دوره پیل شوه. دا د توحید دوره نژدې زر کاله په خپل بشپړ ځواك سره روانه وه.

تر دې وروسته معاصر صنعتي تمدن راڅرگند شو. دا تمدن په لومړي سر کې د اسلامي انقلاب تر اغېز لاندې په لوېدیځه اروپا کې پیدا شو او وروسته یې اغېزې ټولې نړۍ ته خپرې شوې. د دې تمدن کوم اړخ چې منفي دی، هغه د انسان خپله گډونه ده او کوم اړخ چې مثبت دی، هغه د اسلامي انقلاب د اغېزو دوام دی.

## د ترقي پر لور سفر

له حضرت مسیح علیه السلام څخه مخکې په نړۍ کې څلور تمدني مرکزونه وو: ایران، چین، هند او یونان. عباسي خلیفه منصور په ۷۶۲م کال کې د بغداد ښار جوړ کړ. هغه د بېلابېلو سیمو علماء او پوهان راټول کړل او له نورو ژبو څخه ژباړو ته یې وهڅول. د دولت تر سرپرستۍ لاندې دا کار پیل شو. په ۸۳۲م کال کې خلیفه مأمون په بغداد کې «بیت الحکمه» جوړ کړ. له دې سره یې یوه رصدخانه، یو کتابتون او یو د ژباړې مرکز هم جوړ کړ. دلته له نورو ژبو څخه عربي ته د ژباړې کار په دومره پراخه کچه پیل شو چې د بغداد تر جوړېدو ډېر ژر وروسته د یوناني کتابونو ډېره برخه د عربو لاس ته ولوېده.

د عباسي دورې پر مهال کاغذ جوړونه یو کورنی صنعت ګرځېدلی و، نو ځکه په ډېره کچه کتابونه لیکل کېدل. په لسمه پېړۍ کې د قرطبې (هسپانیې) په کتابتون کې تر څلور لکه زیات کتابونه موجود وو. په همدې وخت کې په اروپا کې حالت داسې و چې د کاتولیک دائرة المعارف «Catholic Encyclopedia» له مخې، د کینټربري کتابتون کې په دیارلسمې پېړۍ مهال یوازې د ۸۰۰ کتابونو په درلودلو سره د مسیحي کتابتونونو په سر کې و.

په جغرافیه کې، د نهمې میلادي پېړۍ په لومړۍ نیمایي کې خوارزمي او د هغه ملګرو دا وموندله چې د ځمکې محیط شاوخوا

۲۰ زره میله دی او نیم قطر یې ٦٥۰۰ میله دی. دا دقت ډېر حیرانوونکی و. په اسلامي نړۍ کې دا ډول علمي فعالیتونه په داسې وخت کې روان وو چې په ټوله اروپا کې دا عقیده عامه وه چې ځمکه هواره ده. د دولسمې پېړۍ په منځ کې الادریسي- د نړۍ یوه نقشه جوړه کړه، چې په هغه کې یې د نیل سیند سرچینه هم ښودلې وه، داسې څه چې اروپایانو تر نولسمې پېړۍ پورې ونه شوای موندلی. مسلمانانو اروپایانو ته دا نظریه ولېږدوله چې ځمکه ګرده ده او د مد و جزر د علتونو په اړه یې هم نژدې سم تصور ورکړ.

بطلیموس (Ptolemy) د دوهمې میلادي پېړۍ یو مشهور یوناني فلکپوه و. هغه د شمسي نظام لپاره د ځمکه-محور (Earth-centred) نظریه وړاندې کړې وه. د دې موضوع په اړه د هغه کتاب «المجسطي» (Almagest) ډېره مشهوره دی. د بطلیموس نظریه نژدې یو نیم زر کاله د نړۍ پر فکري فضا حاکمه پاتې شوه، تر دې چې د میلادي شپاړسمې پېړۍ په مهال د کوپرنیکس، ګالیلیو او کپلر څېړنو دا په وروستي ډول ناسمه ثابته کړه. اوس په نړۍ کې هېڅوک دا نه مني.

د ځمکې د حرکت په اړه د یوې غلطې نظریې تر دومره اوږدې مودې پورې د غالبه پاته کېدو اصلي لامل دا و، چې غیر مقدس ته د تقدس مقام ورکړل شوی و. عیسویانو دا عقیده لرله چې ځمکه یوه مقدسه کره ده، ځکه چې دا د «د خدای د زوی» (مسیح) د زېږېدو ځای دی. د همدې له امله دا خبره د هغوی د فرضي عقیدې سره سمه برېښېده چې ځمکه مرکز وي او ټول کاینات د هغې پر شاوخوا وګرځي. د ځمکې د تقدس دا نظریه د عیسویانو لپاره د دې مانع شوه

چې نور تحقيق پرې وکړي. هغوی تـر هغـه وختـه پـر دې ولاړ پـاتې شول څو د حقايقو توپان هغوی اړ کړل چې دا ومني.

انسائيکلوپيډيا برټانيکا (۱۹۸۴) ليکـي چـې د پخـوانۍ نظريـې لـه مخې، ځمکه د کايناتو مرکز وه، انسان د ځمکې تر ټولو لوړ مخلـوق و او د انسان نجات (د کفارې له لارې) د ټـولې نـړۍ تـر ټولـو مهمـه پېښه ګڼل کېده. دا کشف چې ځمکه د ډېرو سـيارو لـه جملـې څخـه يوازې يوه سياره ده چې د لمر پر شـاوخوا ګرځـي، او دا چـې لمـر د کايناتو د بې‌شمېره کهکشانونو له جملې څخه يو عادي سـتوری دی، د انسان په اړه پخوانی تصور سخت ولړزاوه. ځمکه د پراخو کايناتو په وړاندې د دوړو د يوې کوچنۍ ذرې په شـان ښـکاره شـوه. نيـوټن او نورو پوهانو دا پوښتنه راپورته کړه چې انسان، چـې پـه خپلـه يـو ډېـر کوچنی موجود دی، څنګه کولی شي دا دعوه وکړي چې هغه داسـې مقدس حيثيت لري چـې د خـدای پـه نقشـه کـې مرکـزي مقـام لـري .(IV/۵۲۲)

عيسويانو حضرت مسيح تثليث د خدايي نظام يوه برخه وبلله او دا فرضي عقيده يې جوړه کړه چې د خـدای د زوی د کفـارې لپـاره پـر صليب ځړېدل د تاريخ تر ټولو مهمه پېښه ده چې پر ځمکه شوې ده. په دې ډول، ځمکه د هغوی په عقيدوي نظـام کـې يـو مقـدس مقـام ترلاسه کړ. له همدې امله هغوی د هر هغه فکر سخت مخـالف شـول چې د ځمکې مرکزي حيثيت له منځه وړي. د عيسويانو دغه عقيده د هغوی لپاره د شمسي نظام په اړه د ازادې څېړنې خنډ وګرځېده.

همدارنګه، په پخوانۍ زمانه کې غير مقـدس تـه تقـدس ورکـول د ټولو پرمختګونو مخه نيولې وه. د سـپوږمۍ مقـدس ګڼـل د دې مـانع

کېده چې انسان دا فکر وکړي چې وربانـدې قـدم کېږدي. د سیند مقدس ګڼل د دې خنډ شو چې انسان هغه تـر خپلـې ولکـې لانـدې راولي او له هغه څخه د برېښنا د تولید پلان جوړ کړي. د غوا مقـدس ګڼل د دې خنډ شو چې انسان د هغې د غوښې غذايي ارزښـت درک کړي او هغه د خوراک پـه توګـه وکـاروي. دا ډول تـولې څېړنـې او د طبیعت تسخیر یوازې هغه وخت پیل شول کله چې د طبیعـي شـیانو تقدس لرې کړل شو او هغه داسې حالت ته راوستل شول چې انسـان وکولای شي هغو ته د عادي شیانو په توګه وګوري.

له اسلام څخـه مخکـې سـتوري یـوازې د عبـادت موضـوع ګڼـل کېدل، خو تر اسلامي انقلاب وروسته انسان په لومړي ځـل پـه پراخـه کچه رصدخانې جوړې کړې او پـر سـتورو یـې څېړنـې پیـل کـړې. د ځمکې معدنیاتو تر دې مخکـې د تقـدس پـه نظـر کتـل کېـدل، خـو مسلمانانو په لومړي ځل د کیمیا علم کشف کړ او پر ماده یـې څېړنـې او تحقیقات شروع کړل. ځمکه مخکې د یـو الهـی موجـود پـه توګـه ګڼل کېده،( لکه دا چې اسمان نر دیوتا او ځمکـه ښـځینه دیوتـا ده)، خو مسلمانانو په لومړي ځـل د هغـې انـدازه واخیسـته او اوږدوالـی او پلنوالی یې معلوم کړ. سمندر مخکې یوازې د عبادت وړ ګڼل کېدی، خو مسلمانانو په لومړي ځل هغه په پراخه کچه د اوبو د لارو په توګـه وکاراوه. توپان او باد مخکې اسرارناک شیان ګڼل کېدل او عبادت یې کېده، خو مسلمانانو هغه د باد چرخ/بادي ژرندې (Windmill) په بڼه وکارول.

ونې له اسرارناکو کیسو سره تړلې وې او د درناوي وړ ګڼل کېـدې، خو مسلمانانو پر هغو څېړنې پیل کړې، تر دې چې د نباتـاتو پـه علـم

کې یې شاوخوا دوه زره بوتې زیات کړل. هغه سیندونه چې خلکو مقدس ګڼل او د هغو د خوشالولو لپاره به یې خپل هلکان او نجونې ژوندي پکې غورځول، مسلمانانو له هغو سیندونو نه ویالې وایستې او د اوبو لګولو لپاره یې وکارولې او کرنه یې یو نوي پړاو ته ورسوله.

په هغه وخت کې مسلمانان له نورو قومونو دومره مخکې وو چې کله هغوی له هسپانیې وایستل شول، د سپین عیسویان په دې نه پوهېدل چې له دې پرېښودل شوو رصدخانو څنګه کار اخیستل کېږي، ځکه یې نو هغه د کلیسا د زنګ برجونو ته واړولې.

دا یو حقیقت دی چې پخوا په ټوله نړۍ کې د شرك او توهم‌پرستۍ غلبه وه. دا هم یو حقیقت دی چې همدغه شرك او توهم‌پرستي د هر ډول پرمختګ په لاره کې خنډ ګرځېدلي وو. د اسلام له لارې چې د توحید کوم انقلاب راغی، هغه په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره د شرك او توهم‌پرستۍ عملي غلبه ختمه کړه. تر دې وروسته، د خپلې فطري نتیجې په توګه، د انسان تاریخ د پرمختګ په لور روان شو.

تېرو زمانو کې په ځینو هېوادونو کې ځینې تخلیقي ذهنونه پیدا شوي وو. هغوی له خپل چاپېریال څخه جلا فکر کاوه. خو د چاپېریال د نه مساعدت، بلکې د مخالفت له امله، د هغوی هڅې مخکې نه ولاړې. د هغوی علم لکه ګل، تر غوړېدو مخکې وچ شو او له منځه ولاړ. اسلامي انقلاب چې کله ورته مناسب چاپېریال برابر کړ، نو د علم سیلاب په ډېرې تېزۍ سره راووت، هغه سیلاب چې زرګونه کاله د توهماتو د بند شاته ولاړ پاتې و.

## علم او اسلام

تر سکندر اعظم وروسته بطلیموس دوهم (Ptolemy II) د مصر د سیمې حاکم شو. د هغه زمانه د دریمې میلادي پېړۍ زمانه ده. هغه په شخصي توگه د علم قدرکاوه. ده په اسکندریه کې یو کتابتون جوړ کړ چې په هغه کې د بېلابېلو علومو شاوخوا پنځه لکه (۵۰۰,۰۰۰) کتابونه موجود وو. همدا هغه کتابتون دی چې په تاریخ کې د اسکندریې د کتابتون (Library of Alexandria) په نوم مشهور دی. دا کتابتون وروسته تر اسلامي دور مخکې له منځه یووړل شو.

د دې کتابتون په اړه په غلط ډول دا تور لگول کېږي چې گواکې د حضرت عمر فاروق په امر وسوځول شو. حال دا چې د اسلام له ظهور څخه ډېر مخکې، په څلورمه میلادي پېړۍ کې، دا له منځه تللی و. انسایکلوپیډیا برټانیکا (۱۹۸۴) لیکي چې دا د رومي حکومت تر واک لاندې تر دریمې میلادي پېړۍ پورې موجود و (۲۲۷/۱)، تر هغه وروسته پاتې نشو.

حقیقت دا دی چې د دې کتابتون یوه برخه جولیس سیزر (Julius Caesar) د جگړې پر مهال وسوځوله. بیا په دریېمه میلادي پېړۍ کې عیسویانو په دغه سیمه کې غلبه ومونده، او غالباً په ۳۹۱ میلادي کال کې عیسویانو دا وروستی ځل له منځه یووړ. د دې خبرې اعتراف انسایکلوپیډیا برټانیکا په دې ټکو کې کړی دی:

These institutions survived until the main museum and library were destroyed during the civil war of the ۳rd century AD; a subsidiary library was burned by Christians in AD ۳۹۱ (۱/٤۷۹.)

له دې روښانه اعتراف سره، په همدې انسایکلوپیډیا کې بل ځای بې له ضرورته د کتابتون ورانول د مسلمانانو دورې سره هم تړل شوي دي. د سنسرشیپ "Scholarship" تر عنوان لاندې راغلي چې داسې شواهد شته چې د اسکندریې کتابتون په بېلابېلو پړاوونو کې سوځول شوی: په ۴۰ ق.م کې د جولیس سیزر له خوا، په ۳۹۱ میلادي کې د عیسویانو له خوا، او په ٦۴۲ میلادي کې د مسلمانانو له خوا. او د وروستیو دوو پېښو په اړه دا ویل شوي چې ګواکي له دغو کتابونو څخه مسیحیت یا قرآن ته خطره وه.

There are many accounts of the burning, in several stages, of part or all of the library at Alexandria, from the siege of Julius Caesar in ٤۷ BC to its destruction by Christians in AD ۳۹۱ and by Muslims in ٦٤۲. In the latter two instances, it was alleged that pagan literature presented a danger to the Old and New Testaments or the Quran (۳/۱۰۸٤).

دلته د اسکندریې د کتابتون د تباهۍ پېښه له اسلام سره تړل په هېڅ ډول سمه نه ده. خپله د برټانیکا پورته دوه اقتباسونه د دې څرګند رد کوي. اسلام د خپل فطرت له مخې د علم هڅونه کوي. د علم د مخنیوي سره د اسلام هېڅ تړاو نشته.

ډاکټر فلپ هټي په خپل کتاب هسټري اف د عربس (History of the Arabs) کې لیکي چې دا کیسه چې ګواکې د اسکندریې کتابتون د خلیفه عمر په امر له منځه یووړل شو او د ښار بې‌شمېره حمامونه تر ډېره وخته پورې د کتابتون په کتابونو تاوده ساتل کېدل— دا ټول له هغو خیالي کیسو څخه دي چې ښه افسانه جوړوي خو بد تاریخ. حقیقت دا دی چې د بطلیموس لوی کتابتون د اسلام نه ډېر مخکې، په ۴۸ ق.م کې د جولیس سیزر له خوا سوځول شوی و. یو بل کتابتون چې د یاد کتابتون فرعي برخه وه، هغه د شاه تېودوسیوس (Theodosius) په امر په ۳۸۹ میلادي کې وسوځول شو. نو د عربو د فتحې پر وخت په اسکندریه کې هېڅ د پام وړ کتابتون موجود نه و. هېڅ معاصر مؤرخ هم کله د خلیفه عمر پر ضد دا تور نه دی لګولی. عبداللطیف البغدادي، چې وفات یې په ۶۲۹هـ (۱۲۳۱م) کې شوی، ښایي لومړنی کس وي چې وروسته یې دا خیالي کیسه نقل کړې ده. هغه ولې دا کار وکړ، په دې موږ نه پوهېږو، خو وروسته لیکوالانو دا روایت نقل کړ او لا یې مبالغه پکې وکړه.

Philip K. Hitti, History of the Arabs, London, ۱۹۷۰, p. ۱٦٦.

اسلامي تمدن د توحید پر اصل ولاړ دی، دا په ځانګړي ډول له نورو پخوانیو تمدنونو څخه متفاوت دی. اسلامي تمدن انسان ته د فکر ازادي ورکړه، هغه څه چې په پخوانیو ټولو تمدنونو کې نه وه. په همدې توګه د اسلامي تمدن په فضا کې علم ته د پرمختګ پوره فرصتونه برابر شول. په نورو پخوانیو تمدنونو کې یقیناً داسې پېښې شوې چې علم او علماء د جبري زور او تشدد ښکار شوي دي، خو

په دې اړه اسلامي تمدن له نورو تمدنونو سره تړل بېشکه یوه ښکاره تاریخي جفا ده.

مسئله یوازې همدومره نه ده؛ حقیقت دا دی چې د نوي ساینسي-دور پیلونکی اروپا نه، بلکې اسلام و. دا داسې تاریخي حقیقت دی چې انکار یې ناشونی دی. د اسلام په عصر کې علم ته ډېره هڅونه وشوه او په هره څانګه کې ډېر ماهرین او څېړونکي منځته راغلل. د دې پېژندنه په عمومي توګه د مورخینو لخوا شوې ده.

پروفیسر هولټ (P.M. Holt) او نورو محققینو د اسلام پر تاریخ یو مفصل کتاب ترتیب کړی، چې د کیمبرج هسټري اف اسلام په نوم څلورو ټوکونو کې خپور شوی دی:

The Cambridge History of Islam

د دې کتاب په دوهم ټوک - بي کې په تفصیل سره ښودل شوي چې ماضي کې اسلام د مغربي نړۍ پر علومو او تمدن ژور اغېز درلود. د دې باب عنوان دا دی:

Literary impact of Islam on the modern West

د تفصیلي معلوماتو تر وړاندې کولو وروسته، مقاله لیکونکي د دې باب په پای کې لیکلي چې د منځنیو پېړیو پر مهال د علم جریان تقریبا ټول له مشرق څخه مغرب ته روان و، کله چې اسلام د مغرب ښوونکی و:

..."during the Middle Ages the trend was almost entirely from East to West (when Islam acted as the teacher of the West) (p. ۸۸۸-۸۹".)

بارون کارا دی واؤکس (Baron Carra de Vaux) یـوه فرانسـوي ختیځپوه هم اعتراف کړی چې عربانو پـه ساینسي- برخـه کـې سـترې لاسته راوړنې در لودې:

"The Arabs have really achieved great things in science".

خو هغه وايي چې موږ باید دا ونه وایو چې عربانو کـې هغـه لـوړه وړتیا، هغه علمي تخیل، توده جذبه او فکري نوښـت موجـود و چـې په یونانیانو کې و. عربـان د یونانیـانو لـومړني شـاګردان وو. د هغـوی ساینس په اصل کې د یوناني ساینس تسلسل دی:

The legacy of Islam(۱۹۳۱)

مانټګومري واټ یاد شوی بیان پر (صفحه ۲۲٦) یاد کړی او د دې نظر تردید یې کړی چې عربان یـوازې د یونانیـانو مترجمـین وو. هغـه عربان تر انتقالوونکو لوړ ګـڼلي دي. هغـه لـیکلي دي چـې عربـانو د ساینس او فلسفې له لارې د اروپا په پرمختګ کـې ډېـر سـتر رول ادا کړی:

Arab science and philosophy.... contributed greatly to developments in Europe (p. ۲۳۲.)

همدارنګه مانټګومري واټ یوه بله خبره کـړې چـې د پورتـه ذکـر شوې خبرې په پرتله حتـی ډېـره د اعـتراض وړ ده. مـانټګومري واټ لیکلي چې هیڅ شك نشته چې عربان د یونانیانو شاګردان وو. عـربي کې ساینس او فلسفه د یوناني ژباړو د هڅونې له لارې رامنځته شوې:

Science and philosophy in Arabic came into existence through the stimulus of translations from Greek (p. ۲۲٦.)

خو د مانټګومري واټ دا بیان سم نه دی چې د عربانو په منځ کې د ساینسي فکر پیدا کېدل د یونان له امله و. حقیقت داسې نه دی چې عربانو لومړی یوناني ژباړې ولولستې او بیا یې ساینسي- فکر منځ ته راغی. سمه خبره دا ده چې د هغوی ساینسي فکر د قرآن او توحیدي عقیدې له لارې رامنځته شو، بیا یې د یونان او نورو هېوادونو کتابونه وژباړل او له خپلې څېړنې څخه یې په ساینس او فلسفه کې لا زیات پرمختګ وکړ.

د تاریخ محققینو ویلي چې که څه هم انکار نه شي کېدای چې عربان په ساینس او فلسفه کې د یونانیانو شاګردان وو، خو دا هم سمه ده چې هغوی یوازې د یوناني علومو مترجمین نه وو. هغوی په خپل ابتکار سره په دې برخه کې ډېر زیات پرمختګ کړی دی (مانټګومري واټ، صفحه ۲۲۶).

بیلګه: عربانو له یونان څخه د طب علم ترلاسه کړ، بیا یې طب ته نوره وده ور کړه، چې طبي کالجونه او روغتونونه یې جوړ کړل، هغه چې مخکې په یونان کې نه وو. د عباسي خلافت په دوره کې په بغداد کې د نړۍ لومړی طبي کالج جوړ شو. په قاهره کې یو روغتون جوړ شو چې په یو وخت کې ۸۰۰۰ کسان پکې استوګن کېدای شول. په دې کې ښځو او سړو لپاره جلا بسترخایونه جوړ شوي وو. همدارنګه د مختلفو ناروغیو لپاره جلا جلا وارډونه جوړ شوي وو. د هرې ناروغۍ لپاره د ماهرو ډاکټرانو خدمتونه برابر شوي و. په دې کې د نورو مختلفو انتظاماتو تر څنګ لایبریري او لکچر روم هم موجود وو.

(صفحه ۲۲۷).

همدارنګـه عربـانو د خپلـې څېړنـې لـه لارې د طـب پـه فـن کـې غیرمعمولي پرمختګونه وکړل. زکریا الرازی (م ۹۲۳م) د نـړۍ لـومړنۍ طبي انسائیکلوپېډیا (الحاوي) تیاره کړه. په دې ضـخیم کتـاب کـې د هر ډول ناروغیو او درملو مفصل ذکر شوی و. دغـه کتـاب وروسـته د هغه شاګردانو لخوا بشپړ شو. الرازي په دې کې د هرې ناروغۍ پـه اړه د یوناني، شامي، هندي، ایـراني او عـربي علـماوو نظریـات وړانـدې کړل او بیا یې خپل تجربې او څېړنې هـم ذکـر کـړې. دغـه کتـاب پـه لاتیني ژبه کې د Continens په نامه وژباړل شو او بیا اروپا کې خپور شو.

ابن سینا (۱۰۳۷م) د عربي ډاکټرانو په منځ کې غیرمعمولي شـهرت ترلاسه کړ. د هغه مشهور کتاب القانون فی الطب ۱۲ مې پېړۍ کې په لاتیني ژبه وژباړل شو او په اروپا کې خپور شـو. د دې کتـاب نـوم پـه لاتیني کـې Canon of Medicine دی. دغـه کتـاب پـه اروپـا کـې د جالینوس او بقراط له کتابونو څخه هـم ډېـر مشـهور شـو. د ابـن سـینا کتاب تر ۱٦ مې پېړۍ پورې په اروپا کې پراخ اغېز درلود. پـه ۱٦ مـې پېړۍ کې په اروپا کې د دې ۱٦ چاپونه خپاره شول. د عربو طب د ۱۱ مې پېړۍ په پیل کې خپل عروج ته ورسېد او بیا تر ۱۷ مې پېړۍ پورې پاتې شو. (صفحه ۲۲۸).

Montgomery Watt, The Majesty that was Islam, London, ۱۹۸٤.

عبدالله بن البیطار (۱۲۴۸م) د نباتاتو ستر عالم و. فلپ هټي د هغـه یادونه کوي چې هغه د نباتاتو په اړه د معلومـاتو ترلاسـه کولـو لپـاره د

اسیا او افریقا لویه برخه وکتله. هغه د بې شمېره بوټو د طبي ارزښت په اړه څېړنه وکړه او خپلې شخصي تجربې یې هم وکړې.

عبدالله بن البیطار تر څېړنې او تجربې وروسته دوه مفصل کتابونه ولیکل چې پکې کابو ۱۵۰۰ بوټو په اړه معلومات ثبت شوي وو. دغه کتابونه د خپل وخت په برخه کې تر ټولو جامع ګڼل کېدل. په ۱۷۵۸ کې دغه کتابونه په لاتیني ژبه وژباړل شول او وروسته د البیطار څېړنې په اروپا کې خپرې شوې او د اروپا د خلکو لپاره د رڼا د ورکولو وسیله شوې. (صفحه ۵۷۵-۷٦).

تر طب، فلکیاتو او ریاضیاتو وروسته د مسلمانانو د دور تر ټولو ستره ساینسي څانګه کیمیا ده. مسلمانو ساینسپوهانو علم د قیاس او فرضیو له حدودو څخه راوایستی او دې ته یې د تجرباتي علم حیثیت ورکړ. د دوی له لارې نړۍ لومړی ځل له ساینسي میتود ( Scientific method) سره بلده شوه.

همدا مسلمانان وو چې په طبیعي علومو کې یې د خارجي تجربې دود راوړی. دا د یونانیانو پر مغلقو قیاساتونو باندې یوه عملي ارتقا وه. جابر بن حیان (۶۷۲-۸۸۵) تر الرازي وروسته د منځنیو پېړیو په کیمیاوي علومو کې تر ټولو لوی نوم لري. فلپ هټي لیکلي چې جابر بن حیان د تجربې اهمیت د نورو ټولو زړو کیمیا پوهانو په پرتله تر ټولو څرګند کړی او په نظری او عملي دواړو برخو کې یې د کیمیا په برخه کې د پام وړ پرمختګ کړی:

He more clearly recognised and stated the importance of experimentation than any other early alchemist and

made noteworthy advance in both the theory and practice of chemistry (p. ۳۸۰.)

د جابر کتابونه تر ۱۵ مې پېړۍ پورې په اروپا کې د کیمیا د علم وروستی سند گڼل کېدل. د ۱۸ مې پېړۍ پرمختللې مغربي کیمیا ابتدايي بنسټ د جابر بن حیان له لارې برابر شوی و. ویل کېږي چې جابر بن حیان شاوخوا دوه زره کتابونه په مختلفو علومو کې لیکلي وو. تر مسلمانانو مخکې کوم داسې لیکوال نه و، چې دومره ډېر علمي کتابونه یې لیکلي وای.

دا یوازې څو بېلابېل او غیر منظم شواهد دي، خو د دې حقیقت څرگندولو لپاره کافي دي چې اسلام یوازې دین نه دی، بلکې د علم ملاتړی دی. د پخوانۍ زماني په ټولو تمدنونو کې د علم دښمني د هغو مذهبي سیستمونو له لارې رامنځته شوې چې پر شرک او توهم پرستي ولاړ وو. اسلام د شرک او توهم پرستي چې د انسان د فکري پرمختگ خنډونه وو، له منځه یوړل او دین یې پر خالص توحید بنا کړ. په همدې حالت کې د دې امکان نشته چې اسلام د علم او څېړنې دښمن شي.

د علم پرمختگ د شرک قاتل دی. له همدې امله مشرکانه مذهبي نظام د علم د پرمختگ په مخ کې خنډ جوړوي. خو د توحید په اړه حالت بېل دی: د علم پرمختگ توحید ته لا نور قوت او ثبات ورکوي. له همدې امله موحدین او د دین پیروان د علم د پرمختگ بشپړ ملاتړ کوي. د دې حقیقت د درک لپاره د موریس بوکائي د کتاب مطالعه کافي ده:

Maurice Bucaille, The Bible, The Qur’an, and Science

## اسلام مناسب چاپېريال برابر کړ

په پخواني مشرکانه دور کې چې په ټوله نړۍ کې کوم چاپېريال حاکم و، هغه د وهمي او خيالي افکارو د خپرېدو لپاره مناسب و، خو د علمي او ساينسي افکارو د پرمختګ لپاره بالکل نامناسب و. همدا وجه وه چې پخوا په هېڅ هېواد کې علم او ساينس پرمختګ ونه کړ. دا کار په مؤثره توګه هغه وخت پيل شو، کله چې اسلامي انقلاب د شرك پخوانۍ غلبه پای ته ورسلوه او يو نوی مناسب چاپېريال يې رامنځته کړ.

### پخوانی يونان

د پخواني يونان پر ذهن تر ټولو زيات اغېز د ديومالا و. يوناني ديومالا يا ګريم مايتالوجي (Greek mythology ) يوه مفصله موضوع ده چې پر هغې ډېر لويي لويي کتابونه ليکل شوي دي. حتی دا چې د "انسائيکلوپيډيا آف «Greek mythology" په نوم پر دې موضوع يوه مستقله انسائيکلوپيډيا هم شته. په پخواني يونان کې د ديوتاؤ او اتلانو په نوم بې‌شمېره عجيبې او غريبې کيسې مشهورې وې، چې يونانيانو به هغه په بشپړه توګه د حقيقت په شان منلې. په داسې چاپېريال کې دا ممکنه نه وه چې رښتينی ساينس پرمختګ وکړي. دا فضا د شاعرانو او هنرمندانو د ذهني الوت او خيال پلو لپاره مناسبه وه. له همدې امله هلته ډېر شاعران او هنرمندان پيدا شول، خو

هغه چاپېريال د علمي تحقيق لپاره مناسب نه و. نو ځکه هلته عالمان او متفکران، يا د ننني ژبې په اصطلاح ساينسپوهان هم پيدا نه شول.

په پخواني يونان کې د هر شي لپاره جلا جلا معبودان وو. د هغو په اړه جادويي او طلسماتي تصورات عام وو. په دغسې حال کې د شعر او هنر په څېر ځيزونو ته د پرمختگ بشپړه فضا سازگاره وه. له همدې امله په يونان او تر يونان بهر په نورو اروپايي هېوادونو کې ډېرى داسې هنرمندان پيدا شول چې د يوناني ديومالا څخه يې ذهني الهام اخيستى و. حتى تر نن ورځې پورې په لوېديځ ادب کې د يوناني ديومالا اغېز ليدل کېږي (٤٠٦-٤٠٥/٨).

يوناني تمدن د پخوانۍ زمانې تر ټولو مشهور تمدن و، خو هغه ونه توانېد چې د ساينس د پرمختگ پيل وکړي. دا کار هغه وخت پيل شو کله چې د مسلمانانو له لارې ساينسي طرز فکر اروپا ته ورسېد. د شرک نظريه د پرمختگ خنډ وه او د توحيد نظريې پرمختگ ته لار جوړه کړه.

## رومي تمدن

د انسائيکلوپيډيا برټانيکا (۱۹۸۴) ليکوال ليکي چې له عيسوي دورې مخکې رومي امپراتورۍ پر ټوله مديترانې نړۍ غلبه موندلې وه. خو د علومو تاريخپوهانو لپاره روم يوه معما پاتې شوه. رومي تمدن ډېر ځواکمن تمدن و. په جگړه‌ييزو فنونو کې يې ډېر پرمختگونه کړي و. همدارنگه د يونان علمي ميراث ته يې مستقيم لاسرسى درلود. له دې سره، په خپل زر کلن دور کې يې يو هم ساينسپوه پيدا نه کړ:

"It failed to produce a single scientist (١٦/٣٧".)

مورخينو هڅه کړې ده چې د ساينس په برخه کې د روميانو د سختې ناکامۍ علت بيان کړي. ويل کېږي چې ښايي د روميانو ټولنيز جوړښت، چې له اوږدې مودې راهيسې د جادو پر ډېرې ابتدايي بنې ولاړ و، د طبيعت د نړۍ په اړه منظم علمي تحقيق ته د هغوی تګ ستونزمن کړی و. حقيقت دا دی چې کله يو څوك دا فکر وکړي چې په تاريخ کې ډېر کم داسې تمدنونه تېر شوي دي چې په هغو کې دې ساينس وده کړې وي، نو د ده په ذهن کې د پوښتنې نوعيت بدلېږي. بيا هغه ته له ساينس څخه د روم لرې والی يوه عادي پېښه ښکاري او پخوانی يونان يو عجيب او نادر استثنايي منظر ګڼل کېږي چې توجيه يې ستونزمنه ده.(EB-١٦/٣٦٧)

عامو مورخينو دې پوښتنې ته کوم قطعي ځواب نه دی ور کړی، خو دا خبره هغه وخت روښانه کېږي کله چې موږ پوه شو چې روميان په بت‌پرستۍ اخته وو. په اصل کې همدغه شرك او بت‌پرستي وه چې د ساينس په ډګر کې د تحقيق او پلټنې لار يې بنده کړې. شيانو ته د تقدس عقيده د دې سبب شوه چې دوی يې له تسخير څخه مخ واړوي.

## يوه حواله

د انسائيکلوپيډيا برټانيکا (١٩٨٤) ليکوال د هسټري اف ساينس "History of Science" تر عنوان لاندې ليکي چې د طبيعت نړۍ ته چې نن ورځ په کوم نظر کتل کېږي، دا د انسان په تاريخ کې يوه ډېره نوې خبره ده. پخوا لويو لويو تمدنونو دا توان درلود چې د علم، مذهب او قانون په ډګرونو کې پرمختګونه وکړي، خو هغه وخت د ساينس اوسنی تصور بالکل موجود نه و. د مصر، ميسوپوټاميا،

هندستان او نورو پخوانیو تمدنونو هماغه پخوانۍ زمانه کې هم همدا حال و. د پخوانیو قومونو په منځ کې ساینس ته ارزښت نه ورکول کېده، یا لږ تر لږه هغه مهم نه بلل کېدی. که څه هم شاوخوا دوه نیم زره کاله مخکې یونانیانو یو داسې فکري نظام رامنځته کړی و، چې تر یوې اندازې له نننی ساینسي نظام سره ورته و، خو وروسته بیا په هغه کې هېڅ پرمختگ ونه شو، تر دې چې آن په هغه پوهېدونکي خلك هم پاتې نه شول. د ساینس ستره ځواکمني او د ژوند پر ټولو اړخونو یې ژور اغېز، دا ټولې نوې خبرې دي.

اروپا کې د ساینس پیل په دودیز ډول له یوناني فلاسفه‌وو څخه گڼل کېږي، چې تر میلاد مخکې له شپږمې او پنځمې پېړۍ سره تړاو لري. د هغوی لیکنې هم موږ ته یوازې په جزئي ډول رسېدلې دي، هغه هم د هغو لیکوالانو له لارې چې تر هغوی سلگونه کاله وروسته پیدا شوي وو او په خپلو کتابونو کې یې د هغوی لنډ اقتباسات راوړي دي.

دا لنډ اقتباسات هم ډېر مغالطه‌اچوونکي دي. د بېلگې په توگه د یوناني فیلسوف تیلس (Thales) دا وینا را نقل کېږي چې: "هر څه اوبه دي." په ظاهره دا یو علمي جمله ښکاري، خو که د هغه بشپړه وینا ته وکتل شي، نو هغه به یو وهم‌پرست عقیده ښکاره شي. ځکه چې د هغه بشپړه وینا داسې ده: "هر څه اوبه دي، او نړۍ له خدایانو ډکه ده." په انگلیسي ژبه کې دا جمله داسې راغلې ده:

"All is water, and the world is full of gods (١٦/٣٦٦".)

تیلس (Thales) د پخواني یونان یو فیلسوف و چې زمانه یې تر میلاد مخکې شپږمه پېړۍ بلل کېږي. د یونان د نورو فلاسفه‌وو په

ځېر، د هغه د ژوند په اړه مستند معلومات نشته. کـه څـه هـم هغـه د پخوانی نـړۍ د اوو هوښـیارانو (Seven Wise Men) لـه ډلـې څخـه شمېرل کېږي، خو نن د هغه هېڅ کتاب خوندي نـه دی، او نـه هـم د هغه په اړه کوم معاصر ریکارډ مونـدل کېـږي (X۱/۹۲۰). حقیقـت دا دی چې د یونانیانو او رومیانو دواړو د ساینس په لاره کې د پرمختګ یوازینی خنډ د هغوی مشرکانه مزاج و. د هغوی شرک له هغوی څخه هغه حقیقت‌پسنده ذهن اخیستی و، چې د ساینسي تحقیق لپاره اړیـن دی. په داسې حالت کې هغوی څنګه کولای شول ساینسي پرمختګ وکړي؟

## د علم پر لور سفر

یونان د اروپا یـو هېـواد دی. پـه تېـرو وختونـو کـې دلتـه ځینـې د اوچتې درجې ساینسي ذهنونـه پیـدا شـوي وو، پـه دې لـړۍ کـې یـو مشهور نوم د ارشمیدس (Archimedes) دی. ویل کېږي چې هغه د لومړني ډول یـو سـاده ماشـین، لکـه د اوبـو ژرنـده (Water Screw) اختراع کړه. خو عجیبه خبره دا ده چـې د یونـان دا ساینسي- هڅـې د برېښنا د ځلا په شان لنډمهاله وې او ډېر ژر پای ته ورسـېدې. هغـوی نه یونان او نه هم پراخـه اروپـایي نـړۍ د سـاینس او صـنعت دور تـه داخله کړای شوه. حتی د ارشمیدس برخلیک هم دا شو چې یو رومي سرتېري دی هغه وخت وواژه، کله چې ده له ښار څخه بهـر پـر شـګو باندې د ریاضي یو مسئله حلوله.

د پخواني یوناني علم او د نوې ساینسي اروپا ترمنځ یـو ډېـر اوږد علمي واټن موجود دی. ارشـمیدس خپلـه میخـانیکي ژرنـده پـه ۲۶۰ ق.م کې اختراع کړې وه او د جرمني ګوټنبرګ (Gutenberg) لومړی

چاپي ماشين په ۱۲۵۰ میلادي کې ایجاد کړ. د دواړو ترمنځ تر پنځلسو سوو کلونو زیات واټن دی.

دا ولې وشول؟ څه وجه ده چې د پخواني یوناني ساینس تسلسل نه په یونان او نه په اروپا کې جاري پاتې شو؟ د دې ځواب دا دی چې تر اسلامي انقلاب مخکې هغه فضا موجوده نه وه چې په هغې کې علمي تحقیق په ازاد ډول دوام ومومي. اسلام د توحید پر بنسټ چې کوم انقلاب رامنځته کړ، تر هغه وروسته په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره دا وشول چې د دې ډګر خنډونه له منځه ولاړل او داسې مناسب چاپېریال برابر شو چې پکې علمي څېړنه بې له کوم خنډه روانه پاتې شي.

علمي پرمختګ د یو مسلسل عمل نوم دی. خو د یوناني علماوو کار، د زماني نامناسبو شرایطو دغه بهیر دوامداره کېدو ته پرېنښود. هغه یوازې یوه لنډمهاله برېښنایي ځلا وه. وروسته په اوومه میلادي پېړۍ کې کله چې اسلامي انقلاب وهمي دور پای ته ورساوه، نو د علمي پرمختګ لپاره مناسب فرصتونه برابر شول. تر دې وروسته ساینسي تحقیق د یو مسلسل بهیر په توګه روان شو، حتا تر دې چې همدغه د نن عصري دور ته یې راوستلو.

د چاپېریال د همدې نامناسب والي له امله د یوناني علماوو کار تر ډېره د ذهني فکر تر دایرې محدود پاتې شو او عملي تجربو ته ونه رسېد. د بېلګې په توګه ارسطو د طبیعاتو په موضوع لیکنې کړې دي، خو هغه په خپل ټول ژوند کې یوه عملي تجربه هم ونه کړه. د یوناني علماوو فعالیتونه د منطق پر ډګر ښکاري، خو په تجربوي ساینس کې هېڅ نه لیدل کېږي. د ساینس حقیقي پیل هغه وخت وشو کله چې د

انسان په دننه کې د پلټنې روح (Spirit of Enquiry) په ازاد ډول پیدا شو. په پخوانۍ زمانه کې دا روح په انفرادي او موقتي ډول کله نا کله راڅرګنده شوی و، خو د چاپېریال د نامناسب والي له امله یې په پراخه کچه وده ونه کړه.

د ازادې څېړنې لپاره دا مناسب چاپېریال یوازې د اسلام تر توحیدي انقلاب وروسته را څرګند شو. اسلامي انقلاب ناڅاپه ټول چاپېریال بدل کړ او داسې سازګاره فضا یې رامنځته کړه چې پکې د طبیعت ازاده څېړنه ممکنه شي. دا ساینسي فکر لومړی په مکه کې پیل شو، بیا مدینې ته ورسېد، وروسته دمشق ته ولاړ، بیا یې بغداد خپل مرکز وګرځاوه. تر هغه وروسته د هسپانیا او سسلي له لارې تېر شو او ټولې اروپا ته خپور شو. دا بهیر همداسې دوام وکړ تر دې چې د نړۍ عمومي ذهنیت یې بدل کړ.

د علم دا ارتقایي سفر تر اسلامي انقلاب مخکې ممکن نه و. تر دې مخکې ساینسي فکر یوازې په انفرادي یا محلي کچه پیدا کېده او د چاپېریال د نامناسب والي له امله ډېر ژر له منځه تللو. اسلام د لومړي ځل لپاره د ساینسي پرمختګ لپاره مناسب چاپېریال برابر کړ.

# دوهم باب

## له خدای پرته بل څوک مقدس ګڼل

ناتن سوډربلوم (Nathan Soderblom) په ۱۹۱۳ کال کې ویلي وو چې د مذهب بنسټیز تصور (Central notion) د تقدس عقیده ده. له هغه وخت څخه تر اوسه پورې د مذاهبو د تاریخ څېړنې په پراخه کچه شوې دي. په جرمني، فرانسوي او انګلیسي ژبو کې ډېرې تحقیقي کتابونه لیکل شوي دي. د نن ورځې د مذهبي علماوو ترمنځ تقریباً اتفاق دی چې د مذهب اساسي تصور د تقدس (Holiness) عقیده ده. یانې په شیانو کې د داسې پټو ځانګړتیاوو یا پټو قوتونو منل، چې په عادي انسانانو کې نه وي او یا د عادي عقلي اصولو له مخې یې توجیه ممکنه نه وي. "انسائیکلوپیډیا آف ریلیجن اینډ ایتکس" پر دې موضوع تر "Holiness" سرلیک لاندې مفصل بحث کړی دی.

د تقدس دا عقیده کومه خیالي خبره نه ده، بلکې د انسان د فطرت تر ژورو پورې ننوتې ده. د دې د استعمال سمه بڼه دا ده چې انسان خپل دا احساس یوازې د یو خدای لپاره ځانګړی کړي. خو اکثره داسې کېږي چې د انسان دا احساس له خدای پرته بل لور ته واوړي. هغه د تقدس احساس چې باید د حقیقي خالق پر لور وای، د مخلوق پر لور واوړي.

د دې سبب دا دی چې خدای یو غیبي حقیقت دی او انسان هغه په خپلو سترګو نه شي لیدلی. نو انسان دا کار کوي چې د خپل چاپېریال هغه شیان چې ښکاره او مهم ښکاري، مقدس ګڼي او د هغو عبادت پیل کړي. همدې رواني حالت په پخوانۍ زمانه کې هغه څه پیدا کړل چې په مذهبي اصطلاح کې شرک او په علمي اصطلاح کې د فطرت پرستش (Nature worship) بلل کېږي. د انسان د تقدس احساس له دننه څخه دا غوښتنه کوله چې یو څوك مقدس وګڼي او عبادت یې وکړي، بیا ده د هر هغه شي عبادت وکړ چې ورته ځرګند او ممتاز ښکاره شو، لکه لمر، سپوږمۍ، ستوري، غرونه، سیندونه، اور، زلزلې، حیوانات او نور. د پیغمبرانو د تعلیماتو له مخې د یو لوړ خدای تصور موجود و، خو انسان دا فرض کړه چې یو خدای د اسمان په لوړو کې دی او دا ټول نور شیان د هغه تر واك لاندې دیوي او خدایان دي (EB-۸۷۷/۱۲).

د نن زمانې د مذاهبو علماء عموماً پر دې خبره متفق دي چې د مذهب اصل د تقدس عقیده ده. یانې انسان په ځینو شیانو کې داسې خاصې ځانګړتیاوې یا پټې قوې مني چې په نورو کې نه وي او د عادي عقلي اصولو له مخې یې توجیه ممکنه نه وي.

له همدې امله د دغو مقدسو شیانو په اړه د وېرې او هیلې ذهن پیدا کېږي. انسان د هغو په وړاندې ځان عاجز احساسوي او فکر کوي چې دلته زما حد پای ته رسېدلی دی. دا مقدس شیان بېلابېل ډولونه لرلای شي، لکه: ډبرې، حیوانات، سمندر، لمر، سپوږمۍ او همدارنګه پاچاهان و مذهبي شخصیتونه. انسان چې کوم شیان په دې ډول مقدس وګڼي، نو د هغو عبادت کوي، د هغو په نوم قرباني کوي

او د هغو د خوښولو لپاره بېلابېل رسمونه ترسره کوي، تر څو د هغو له قهره ځان وساتي او د هغو مهربانۍ خپل لور ته راواړوي.

د انسائیکلوپیډیا برټانیکا (۱۹۸۳) لیکوال لیکي چې د تقدس عقیده په مقدسو شخصیتونو کې څرګندېږي، لکه مذهبي مشران، پاچاهان او ځانګړي ځایونه لکه معبدونه او همدارنګه طبیعي مظاهر لکه سیندونه، لمر، غرونه او ونې. مذهبي مشر د عبادت په عمل کې د یوې ځانګړې وسیلې حیثیت لري او د هغه رسمي اعمال د خدایي عمل استازیتوب کوي. همدارنګه پاچا د اسمان او ځمکې ترمنځ یوه ځانګړې کړۍ ګڼل کېږي، له همدې امله ورته د "اسمان د زوی" یا "خدایي وسیلې" په څېر لقبونه ورکول کېږي.

د انسانپېژندنې هغه پوهان چې تقدس (Holiness) د مذهب بنسټ ګڼي، د دوی له جملې د بېلګې په توګه د څو نومونه دا دي:

Nathan Soderblom, Rudolf Otto, Emile Durkheim, Max Scheler, Gerardus van der Leeuw, W. Brede Kristensen, Friedrich Heiler, Gustav Mensching, Roger Caillois, Mircea Eliade (۱۶/۱۲٤.)

د معاصرو علماوو دا خبره سمه ده چې د مذهب اساسي تصور د تقدس (Holiness) عقیده ده. دا د تقدس احساس په خپله یو فطري احساس دی، خو کله چې له یوه الله پرته بل څوک مقدس وګڼل شي، نو دا د همدې فطري احساس ناسم استعمال ګرځي. همدا د هر ډول بدیو بنسټیزه ریښه ده.

کله چې انسان غیر مقدس شی مقدس وګڼي، نو هغه د هر ډول پرمختګ دروازه پر خپل ځان تړي. د غیر مقدس د مقدس ګڼلو دوه

بنې دي: یوه دا چې طبیعت مقدس وګڼل شي او بله دا چې له انسانانو څخه څوك مقدس وګڼل شي. دا دواړه بدئ په پخواني تاریخ کـې د نړئ په بېلابېلو برخو کې په جلاجلا بڼو موجودې وې او همدا تر ټولو لوی سبب و چې د انسان فکر یې غیر علمي ساتلی و.

د تقدس موضوع د انسان له روان سره ژورې اړیکې لري او د دې ډول رواني حالاتو بیانول په یوه کلمه کې ډېـر سـتونزمن دي. د ژورو انساني کیفیاتو لپاره چې کوم الفاظ کارول کېږي، هغه ټل سـمبولیك وي، نه حقیقي. د دې حقیقت په نظر کې نیولو سره، په اصـولي ډول زه له دې خبرې سره موافق یم چې د تقدس عقیده د مذهب خلاصـه ده، خو دا تقدس حقیقي دی، نه دا چې لکه د اوسنیو علماوو د نظـر له مخې یوازې یو فرضي شی وي.

اصل خبره دا ده چې دا یو فطري احساس دی چې پـه هـر انسـان کې له پیدایښته موجود وي. انسان په خپلـې ورسره جـذبې دا غـواړي چې یو څوك مقدس وګڼي او د هغه په وړاندې سر ټیټ کړي. د دې جذبې د څرګندېدو دوه بڼې دي: یوه توحیدي بڼه او بله مشرکانه بڼه.

که انسان یو الله مقدس وګڼي، هغه خپل معبود وګرځوي او عبادت یې وکړي، بیا هغه خپـل دا احسـاس پـه سـمه توګـه کـارولی دی. پـه حقیقت کې یوازې الله دی چې د تقدس صفت لـري، نـو الله مقـدس ګڼل د یو حقیقي واقعیت منل دي.

خو که انسان داسې وکړي چې په نړئ کې هر هغه شی چـې ورتـه ظاهرا ځلبل او له ځان څخه بېل ښکاري، مقدس وګڼـي او د هغـه پـه عبادت و درناوي کې اخته شي، نو دا د یو سم احساس ناسم استعمال دی. دا داسې ده لکه څه چې باید الله ته ورکړل شوي وای، هغـه غیـر

الله ته ورکړل شي. د مذهب په ژبه کې همدې ته شرك ويل کيږي، او په بله اصطلاح يې توهم‌پرستي (Superstition) بللای شو.

له الله څخه پرته د نورو شيانو مقدس ګڼلو همدا تېروتنه وه چې په پخوانی زمانه کې يې د زرګونو کلونو لپاره د ساينس د را څرګندېدو مخه ونيوله. که يوازې يو الله مقدس وګڼل شي، بيا له دې څخه هېڅ علمي او فکري ستونزه نه پيدا کيږي، ځکه چې خدای زموږ د اختيار له دايرې بهر دی. هغه د اسمانونو هاخوا دی، هلته چې د انسان لاسرسی نه شي کېدای.

خو نور شيان چې مقدس وبلل شي، هغه زموږ د اختيار په دايره کې راځي. همدا هغه شيان دي چې تسخير يې په حقيقت کې د ساينس پيل بلل کيږي. خو کله چې دا مقدس وګڼل شي، نو د تسخير کېدونکو شيانو له کټګورۍ څخه وځي او د هغو شيانو په کټګورۍ کې داخليږي چې عبادت يې کيږي.

له خدای پرته په دې نړۍ کې ټول شيان مخلوقات دي. همدا هغه دي چې عموماً د مظاهر فطرت په نوم يادېږي. همدا مظاهر فطرت د ساينسي ـ عمل ډګر دی. د دې مظاهرو مطالعه کول او پر هغو واکمنېدلو ته ساينس ويل کيږي.

خو دا چې تېرو وختونو کې ټولو قومونو مظاهر فطرت مقدس ګڼلي وو، نو دا د هغوی لپاره د عبادت موضوع ګرځېدلې وه، نه د تسخير موضوع. همدا هغه فکري ګمراهي وه چې په پخواني زمانه کې يې د زرګونو کلونو لپاره د ساينسي ـ تحقيق مخه نيولې وه. د پرمختګ دا دروازه يوازې هغه وخت پرانيستل شوه کله چې د توحيد

انقلاب د انسان ذهن بدل کړ او مظاهر فطرت یـې د تقـدس لـه مقـام
څخه راکوز کړل.

## يو مثال

ښخوا چې نړۍ کې څه پېښ شوي، يو کوچنی مثال يې لا هم نن په هندستان کې موجود دی. هندستان د نننۍ نړۍ يوازينی هېواد دی چېرته چې شرك لا هم په قوي بنه پاتې دی. که څوك غواړي ووينې چې شرك څنګه داسې چاپېريال نه پربږدي چې علمي تحقيق په ازاد ډول وشي، نو هغه يې لږ تر لږه يو جزئي نمونه نن هم په هندستان کې ليدلی شي.

په ۱۹٦۷ کال کې د ډيلي په يوه انګليسي ورځپاڼه کې د يوه هندي ساينسپوه مرکه خپره شوه. دې مرکې ناڅاپه په ټول هېواد کې د حيرانتيا څپه خپره کړه. په هغې کې ويل شوي وو چې که د پروټينې کمښت ستونزه ژر حل نه شي، نو هندستان به په راتلونکو دوو لسيزو کې د پراخ ذهني کمزورۍ له خطر سره مخ شي:

India may have to face the danger of large-scale intellectual dwarfing in two decades if the problem of malnutrition and protein hunger was not tackled soon.

Statesman, Delhi, September ٤, ١٩٦٧

دا خبرې د ډاکټر ايم. ايس. سواميناتن وې، چې هغه وخت په نوي ډيلي کې د انډين اېګريکلچرل انسټيټيوټ رئيس و. هغه زياته کړه چې که څه هم د متوازنې غذا تصور نوی نه دی، خو د دماغ د

ودې په برخه کې يې اهميت يوه نوې حياتي موندنه ده. اوس دا خبره قطعي ده چې د څلورو کلونو په عمر کې د انسان دماغ لـه ۸۰ تـر ۹۰ سلنه پورې خپل بشپړ وزن ته رسيږي او که په دې نـازک وخـت کـې ماشوم ته مناسب پروټين ونه رسيږي، نو د هغه دماغ سـمه وده نـه شي کولای.

ډاکټر سـواميناتن وويـل چـې کـه د ناقصـې تغـذيې او د پروټينـي کمښت (Protein hunger) ستونزې تـه ژر پاملرنـه ونـه شي، نـو پـه راتلونکو دوو لسيزو کې به داسې حالت رامنځته شي چې له يوې خوا بـه د پرمختللـو قومونـو ذهنـي ځـواک (Intellectual power) پـه چټکۍ سره لـوړيږي او لـه بلـې خـوا بـه زمـوږ پـه هېـواد کـې ذهنـي کمزوري زياته شي. که مـوږ ژر تـر ژره ځـوان نسـل لـه دې پروټينـي کمښت څخه ونه ژغورو، نو دا به ډېر خطرناک نتيجه ورکړي چې هره ورځ به زموږ په هېواد کې لـس لکـه ذهنـي کمـزوري( Intellectual dwarfs) پيـدا شي. د دې اغېـزې بـه زمـوږ پـر نسـلونو پـه همـدې وروستيو کلونو کې هم ډېرې شوې وي.

کله چې ترې وپوښـتل شـول چـې د دې سـتونزې حـل څـه دی، ډاکټر سواميناتن په ځـواب کـې وويـل چـې حکومـت بايـد د خپلـو اقداماتو لـه لارې د خلکـو پـه منـځ کـې د پـروټين شـعور ( Protein consciousness) پيدا کـړي او پـه دې برخـه کـې عامـه افکـار برابـر کړي. د پروټين اړتيا بايد د مقدار او کيفيـت لـه مخـې وټاکـل شي. د عادي ودې لپاره په پروټيني مرکباتو کې د امينو اسـيدونو شـاوخوا ۸۰ ډولونه اړين دي. په نباتي غذاوو کې عموماً ځينې مهـم اسـيدونه لکـه لايسين (Lysine) او مېتهيونين (Methionine) نه وي، حـال دا چـې

په جوارو کې د لوسين زياتوالى په ډېرو سيمو کې د ناروغيو سبب شوی دی، هلته چې دا اصلي غذا ده. که څه هم حيواني غذا (لکه شيدې) په پراخه کچه کارول غوره دي، خو دا ډېره گرانه ده، ځکه چې نباتي غذا په حيواني غذا د بدلولو لپاره ډېره انرژي مصرفېږي. (Statesman، ۴ سپتمبر ۱۹٦۷)

د ډاکټر سواميناتن د مرکې تر خپرېدو وروسته، "انډين اکسپريس" (سپتمبر ۱۹٦۷) يوه سرمقاله خپره کړه چې عنوان يې و: "پروټيني لوږه" (Protein hunger). په دې سرمقاله کې ويل شوي وو چې کله د هند مرکزي حکومت د غلو په اړه ملاتړې پاليسي غوره کړه، نو دا اټکل کول گران وو چې د خوراکي توکو له ډېرښت سره سره به د پروټيني لوږې ستونزه راپيدا شي، لکه څنگه چې د انډين اېگريکلچرل ريسرچ انسټيټيوټ رئيس ډاکټر سواميناتن ورته اشاره کړې ده. پر غلو زيات تکيه کول داسې حالت رامنځته کوي چې حتی ښه خوراک لرونکي خلک هم د ناقصې تغذيې ښکار شي. هغه کسان چې د پروټيني لوږې سره مخ کېږي، نه يوازې جسمي ستونزې لري، بلکې د هغوی پر ذهنونو هم اغېز کوي او د ماشومانو ذهني وړتياوې په بشپړه توگه وده نه شي کولای.

"انډين اکسپريس" دا هم ليکلي وو چې د دې حالت په نظر کې نيولو سره د اوسني کرنيز سياست بياکتنې ته اړتيا ده. خو اصلي ستونزه هغه محدوديتونه (Limitations) دي چې حکومت پکې کار کوي. د کرنيزو توليداتو حيواني پروټينو ته بدلول ډېر گران کار دی. که څه هم حکومت د متوازنې غذا، خوراك، غوښه، هگۍ او کبانو د زيات استعمال يوه کمپاين هم پيل کړی دی، خو له دې سره سره خلك د

خپلو غذایي عـادتونو (Food habits) پـه بـدلولو کـې سسـتي کـوي (Indian Express، سپتمبر ۱۹٦۱). کله چې د ډاکټر سوامیناتن دغـه بیان په ورځپاڼو کې خپـور شـو، نـو پـه هندسـتان کـې لـوی شـور او جنجال راپورته شو. حتی ځینـو تونـدلارو خلکـو غوښـتنه وکـړه چـې ډاکټر سوامیناتن دې د اېګریکلچرل انسټیټیوټ له خپلې دندې استعفا ورکړي، ځکه چې هغوی هغه د دې ملي ادارې د مشرۍ لپاره مناسب نه ګاڼه. تر دې وروسته ډاکټر سوامیناتن په بشپړه توګـه چـوپ شـو او خبره همدلته پاته شوه.

د دې علت دا دی چې د هندستان په دودیز مذهب کې د ژونـدي موجـود وژل تـر ټولـو لویـه ګنـاه بلـل کېـږي. او دا چـې د غوښـې د خوراک لپاره باید ژوندي موجـودات ووژل شي، نـو لـه همـدې املـه دلته په دودیز ډول سبزي خوړل (Vegetarianism) د غوره خـوراک په توګه منل شوي دي. په ځانګړي ډول غوا د دوی په دودیز مـذهب کې یو مقدس حیوان دی. په رګ وید کې غوا د خدای (Goddess) په توګه یاده شـوې ده (۲۰٦/۱۱۱). لـه دې بېلګـې څخـه څرګنـدېږي چې غیر توحیدي عقیده څنګه د انسان د پرمختګ مخه نیسي.

هندستان یو داسې هېواد دی چې ډېـر زیـات وسـایل او امکانـات لري، خو بیـا هـم تـر اوسـه پـه رښـتیني مانـا پرمختللـی هېـواد نـه دی ګرځېدلی. د دې یوازینی علت همـدا ډول مشرکانه محدودیتونـه دي چې د دې د پرمختګ لاره یې بنده کړې ده. دا لاره به تر هغـه وختـه بنده وي څو پورې چې هېواد له دې غیر حقیقي بندیزونو څخه ازاد نه شي.

## د ساینس را څرګندېدل

د اروپا په تـاریخ کـې د شـپږمې مـیلادي پېـړۍ څخـه تـر لسـمې میلادي پېړۍ پورې زمانې ته "توره دوره" (Dark Ages) ویل کېږي. دا هغه وخت و چې اروپا له تمدن او کلتور څخه په بشپړه توګـه لـرې وه. دا د اروپا لپاره د فکري جمود او وحشت زمانه وه:

"A period of intellectual darkness and barbarity (III/۳۸۰")

خو دې تیارې یوازې پر اروپا وزرې خپرې کړې وې. پـه همـدې وخت کې چې پر اروپا د تیارو سیورى خپور و، په اسلامي نړۍ کې د تمدن رڼا په بشپړه توګه ځلېدله. د برټرنډ رسل په وینا، په همدې زمانه کې له هند څخه تر هسپانیا پورې د اسلام روښانه تمدن غوړېدلی و:

"From India to Spain, the brilliant civilization of Islam flourished (p. ۳۹۵".)

دا اسلامي تمدن چې له سسلي او هسپانیا څخه تېر شـوى او روپـا ته یې لار موندله، د اروپا خلك یې متـأثر کـړل. د لوېـدیځې اروپـا زده‌کوونکي د هسپانیا اسلامي پوهنتونونو ته د زده‌کړې لپاره راتلـل. د اسلامي نړۍ ډېر خلك اروپا ته ولاړل. کله چې اروپایانو ولیـدل چـې مسـلمانان د علـم لـه پلـوه تـر هغـوى ډېـر مخکـې دي، نـو هغـوى د مسلمانانو کتابونه لاتینـي ژبـې تـه ژبـاړل پیـل کـړل. د انسـائیکلوپیډیا

برټانیکا (۱۹۸۴) لیکوال لیکي چې په هغه وخت کې د مسلمانانو داسې کتابتونونه موجود وو چې د کتابونو شمېر یې له یو میلیون (۱,۰۰۰,۰۰۰) جلدو څخه زیات و. هغه ټول بنسټیز علم چې د اروپا د رنسانس (Renaissance) سبب شو، د مسلمانو کتابتونونو د عربي نسخو له ژباړې څخه ترلاسه شوی و:

"Most of the classical literature that spurred the European Renaissance was obtained from translations of Arabic manuscripts in Muslim libraries (۱۵/٦٤٦".)

په معاصر زمانه کې ډېری داسې محققین پیدا شوي دي چې په ښکاره ټکو یې د دې حقیقت اعتراف کړی دی چې د عربو د تحقیقاتو له لارې په اروپا کې د معاصر ساینس دور پیل شو، لکه گستاولی بان، رابرټ بریفالټ، جې. ایم. رابرټس، مانتگومري واټ او نور.

له دې نظره دا ویل سم دي چې دلته چې کومه خبره کېږي، هغه په نړیواله کچه منل شوې ده. توپیر یوازې دا دی چې نورو خلکو دا پېښه د "مسلمانانو تاریخ" تر عنوان لاندې لیکلې ده، خو زموږ خبره دا ده چې دا باید د "اسلام تاریخ" تر عنوان لاندې ولیکل شي. یعنې دا د انسان له خانې راووځي او د خدای حساب ته واچول شي.

## څو بېلگې

پخوا د مشرکانه عقایدو له مخې شیان مقدس گڼل کېدل. دې ذهن د شیانو په اړه د ازاد فکر دروازه تړلې وه. د توحید انقلاب په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره د ازاد فکر چاپېریال رامنځته کړ. په هره برخه کې بې له خنډه تحقیق او مطالعه پیل شوه. په دې ډول، د توحید

انقلاب په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره د منظم ساینسي۔ فکر بنسټ کېښودل شو. که څه هم له دې مخکې هم په انفرادي توګه ځینو کسانو ساینسي څېړنې کړې وې، خو د مناسب چاپېریال د نشتوالي له امله هغو ته وده ورنه کړل شوه او کار یې دوام ونه کړ.

په عمومي توګه د دوربین اختراع ګالیلیو (م ۱۶۴۲) ته منسوبېږي، خو په حقیقت کې ابو اسحاق ابراهیم بن جندب (م ۷٦۷ء) د اسماني اجرامو مطالعه کړې وه. هغه د لرې شیانو د لیدلو لپاره ځینې اصول وموندل او د هغو پر بنسټ یې یو ابتدایي دوربین جوړ کړ. وروسته ګالیلیو همدغه ابتدایي دوربین لا نور پرمختللی کړ. دا فن همداسې پرمختګ وکړ، تر دې چې د نن ورځې برېښنایي دوربینونو ته ورسېد.

د معاصر ساینس بنسټ پر تجربو ولاړ دی، خو په پخوانۍ زمانه کې بېلابېلو توهمي عقایدو د تجربو په لار کې خنډونه جوړ کړي وو. جابر بن حیان (م ۸۱۵) د تجربې اهمیت درک کړ او هغه یې په علمي څېړنو کې وکاراوه. د هغه لیکنې وژباړل شوې او اروپا ته ورسېدې. دا فکري بهیر همداسې پر مخ ولاړ، تر دې چې هغه څه رامنځته شول چې نن ورځ ورته تجربوي علم (Experimental knowledge) ویل کیږي.

نن سبا دا منل شوې ده چې ځمکه د لمر شاوخوا په بشپړ ګردي مدار نه ګرځي، بلکې په بیضوي مدار کې حرکت کوي. د سیارو دا حرکت نن د کپلر د درېیم قانون (Kepler's third law) په نوم مشهور دی. خو دا کایناتي حقیقت په لومړي ځل ابو عبدالله محمد بن جابر البناني (م ۹۲۹) وموند. هغه د خپلو فلکي مشاهداتو له لارې دا حقیقت کشف کړ او په دې اړه یې کتاب ولیکه. د هغه کتاب

وژبـاړل شـو، اروپـا تـه ورسـېد او د معـاصر تجربـوي سـاينس د را څرګندېدو سبب وګرځېد.

ابو علي حسن بن الهيثم (م ۱۰۲۱ء) په تاريخ کې لـومړنی شـخص دی چې په مادي اجسامو کې يې د جمود (Inertia) تصـور وړانـدې کړ. د هغه ليکنې وژباړل شوې او اروپا ته ورسـېدې. د اروپـا علـماوو هغه ولوستلې او پر بنسټ يې نورې څېړنې وکړې، تر دې چې هغه څه رامنځته شول چې نن د نيوټن د لومړي قانون په نوم پېژندل کېږي. پـه اصل کې همدا ابن الهيثم و چې لومړی يې دا کشف کړه چې رڼـا لـه يو ځايه تر بل ځايه د تګ لپاره داسې لاره غوره کوي چې تر ټولو لږ وخــت ونيسيـ. همــدا کشــف دی چــې نــن ورځ د فرمـا د اصــل (Fermat's principle) په نوم په ټوله نړۍ کې مشهور دی.

## د ځمکې عمر

پر ځمکه باندې د انسان د را څرګندېدو دقيق تـاريخ ساينسـپوهانو ته معلوم نه دی، خو هغوی داسې د انسانانو پاتې شـوني مونـدلي دي چې د هغو په انـد تـر مـيلاد مخکـې لـس زره کالـه پخـواني دي. لـه همدې امله ساينسپوهان پـه دې اړه د بايبـل بيـان نـه منـي. د بايبـل د پيدايښت په کتاب کې د انساني نسـلونو چـې کـوم تاريخونـه ورکـړل شوي دي، د هغه له مخې د آدم ظهور له ميلاد نه څو زره کاله مخکې ښودل شوی دی. حتی د ۱۹۷۵ د عبري کلينـدر لـه مخـې دا حسـاب شوی و چې انسان شاوخوا ۵۷۳۶ کالـه مخکـې پـر ځمکـه را څرګنـد شوی دی. د معاصر ساينس له نظره دا حساب تر ډېره حده ناسم دی.

عيسويانو په دې ډول د ځمکې ټوله تاريخ د بايبل له مخې يوازې په څو زرو کلونو کې را لنډ کـړی و. د دې حسـاب د ساينسيـ ناسـم

والي څرګندونه په اتلسمه پېړۍ کې جيمز هټن (James Hutton) د څېړنو له لارې دا خبره څرګنده کړه. هغه د ځمکپوهنې (طبقات الارض) متخصص و او خپل ټول عمر يې د ډبرو او د ځمکې د جوړښت په مطالعه کې تېر کړ. هغه ثابته کړه چې ځمکه په خپل اوسني شکل کې د ميليونونو کلونو په اوږدو کې جوړه شوې ده.

تر هغه وروسته په نولسمه پېړۍ کې د چارلس لايل ( Charles Lyell) مشاهداتو د هټن نظريه لا نوره هم تاييد کړه. د چارلس لايل مشهور کتاب د طبقات الارض اصول "Principles of Geology" چې لومړی ټوک يې په ۱۸۳۰ کې خپور شو، تر ډېره حده د دې سبب شوه چې د بايبل حسابي نظريه نور د جدي بحث وړ پاتې نه شي. حقيقت دا دی چې د لايل کتابونو نړۍ ته دا قناعت ورکړ چې بايبل په ځينو برخو کې غلط کېدای شي، حال دا چې تر دې مخکې دا تصور هم ناشونی و:

"Indeed, Lyell's books were largely responsible for convincing the world at large that the Bible could be wrong, at any rate in some respects, a hitherto unthinkable thought (p. ۲۹".)

دا ډول نظرياتو د اروپا د علمي پرمختګ په لار کې خنډونه جوړ کړي وو. هر هغه چا چې له دې مخالف نظر وړاندې کاوه، هغه به د غير مقدس په بللو د سزا وړ ګڼل کېده. خو په اسلام کې دا ډول غير واقعي نظريات موجود نه وو، له همدې امله کله چې په هسپانيا کې د اسلام تر اغېز لاندې ساينسي څېړنې پيل شوې، نو د مذهب له لوري ورسره هيڅ مخالفت ونه شو.

## یوناني علوم

د اروپا د معاصر پرمختګ دوره د ۱۴مې بیا تر ۱۶مې پېړۍ پورې پیل شوه، چې عموماً ورته رنسانس (Renaissance) ویل کېږي. رنسانس د "Rebirth" یا "Revival" مانا لري، یعنې بیا راژوندي کېدل. اروپایان د دې دور اړیکه له یوه لوېدیځ هېواد، یعنې یونان سره تړي. هغوی دا څرګندوي چې د اروپا نوی دور په اصل کې د پخواني یونان د دور بیا راژوندي کېدل دي. خو حقیقت دا دی چې دا یوازې "احیا" وه، نه "احیاء ثانیه". دا د اروپا په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره پېښه شوه. له همدې امله منصف مزاجه محققینو دا منلې ده چې د لوېدیځ رنسانس په مستقیم ډول د عربو احسان دی. بریفالټ لیکي چې زموږ د ساینس لپاره د عربو احسان یوازې دا نه دی چې هغوی انقلابي نظریات وړاندې کړل، بلکې د ساینس لپاره د عربو ونډه تر دې هم ډېره ده؛ ساینس د خپل وجود لپاره د عربو د کلتور پوروړی دی:

"The debt of our science to that of the Arabs does not consist in startling discoveries of revolutionary theories. Science owes a great deal more to Arab culture, it owes its existence (Making of Humanity, ۱۹۰".)

بریفالټ دا هم لیکي چې ډېر احتمال دا دی چې که عرب نه وای، نو معاصر صنعتي تمدن به هېڅکله هم رامنځته شوی نه وای:

"It is highly probable that but for the Arabs, modern industrial civilization would never have arisen at all (p. ۲۰۲".)

د انسائيکلوپيډيا برټانيکا (۱۹۸۳) ليکوال ليکي چې کتابتون د اسلامي ټولنې يو مهم اړخ و. ډېر داسې بنسټونه موجود وو چې په هغوی کې تر يو لک زيات کتابونه موجود وو. هغه اساسي علمي مواد چې د اروپا د رنسانس سبب شول، د هغوی لويه برخه د مسلمانو کتابتونونو د عربي کتابونو له ژباړو څخه ترلاسه شوې وه:

"Most of the classical literature that spurred the European Renaissance was obtained from translations of Arabic manuscripts in Muslim libraries (۱۵/٦٤٦".)

د ځينو خلکو په نظر، د عربو کارنامه يوازې دا ده چې هغوی يوناني علم د ژباړې له لارې اروپا ته انتقال کړ. پروفيسور هټي ليکي چې د يوناني کلتور جريان د هسپانيا او سسلي د عربانو له لارې اروپا ته واړول شو او همدغه بهير د اروپا د رنسانس په رامنځته کولو کې مرسته وکړه:

"This stream (of Greek culture) was redirected into Europe by the Arabs in Spain and Sicily, whence it helped create the Renaissance of Europe (p. ۳۰۷".)

خو دا خبره سمه نه ده، ځکه چې له يوناني فلاسفه‌وو څخه عربو ته چې څه رسېدلي وو، هغه نظري بنسټونه وو، نه تجربوي علم. په بل عبارت، هغوی له يونانيانو څخه فلسفه ترلاسه کړه، نه ساينس؛ ځکه چې ساينس په اصل کې هلته موجود نه و. ساينس يا تجربوي

علم د مسلمانانو ایجاد دی. هغوی په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره دې علم ته ورسېدل او بیا یې نورو قومونو، په ځانګړي ډول اروپا ته، انتقال کړ.

برټرنډ رسل سهي لیکي چې ساینس د عربو تر زمانې پورې دوه اړخونه لرل: (۱) موږ ته دا وړتیا راکول چې شیان وپېژنو، او (۲) موږ ته دا وړتیا راکول چې شیان ترسره کړو. یونانیانو، پرته له ارشمیدس څخه، یوازې له لومړي اړخ سره علاقه درلوده. د ساینس له عملي کارونې سره علاقه په پیل کې د توهمپرستۍ او جادو له لارې پیدا شوه:

"Science, ever since the time of the Arabs, has had two functions: (۱) to enable us to know things, and (۲) to enable us to do things. The Greeks, with the exception of Archimedes, were only interested in the first... Interest in the practical uses of science came first through superstition and magic (The Impact of Science on Society, p. ۲۹".)

برټرنډ رسل دا هم لیکي چې نن یو تعلیمیافته انسان ته دا یوه څرګنده خبره ده چې د هرې دعوې تر منلو مخکې باید د مشاهدې له لارې یې تحقیق وشي، نه دا چې یوازې د تقلید له مخې ومنل شي. خو دا طرز فکر په بشپړه توګه یو نوی نظر دی چې تر شپاړسمې پېړۍ مخکې ډېر کم موجود و. ارسطو دا دعوه کړې وه چې د ښځو په خولو کې د نارینهوو په پرتله کم غاښونه وي، خو که څه هم هغه دوه مېرمنې لرلې، بیا یې هم دا زحمت ونه ایست چې د خپلې مېرمنې

خوله وګوري او د مشاهدې پر بنسټ خپله خبره وتلي. برټرنډ رسل د دې ډول بېلګو په راوړلو سره ليکي چې ارسطو ډېرې خبرې بې له تحقيق څخه کړې او وروسته خلکو هم همداسې بې له تحقيق څخه هغه تکرار کړې. (مخ ۱۷).

## ذهني خنډ

ساينس ته پکار ده چې د شيانو د حقيقت د پېژندلو لپاره ژوره مشاهده او تجربه وکړي. خو په يونانيانو او نورو پخوانيو قومونو کې دا ډول چاپېريال موجود نه و، ځکه چې له خدای پرته د نورو شيانو د تقدس منلو له امله دا حالت پيدا شوی و چې ټول شيان د خلکو په نظر مقدس او پُراسراره ګرځېدلي وو. د دې پايله دا شوه چې په هر قوم کې جادو، توهم‌پرستي او د غير الله تقديس عام شو. دا ډول ذهنيت د شيانو د ساينسي تحقيق په وړاندې خنډ ګرځېدلی و. که د خلکو په ذهن کې دا عقيده ځای ونيسي چې پېښې د جادو په زور رامنځته کېږي، يا په شيانو کې پټې خدايي ځانګړتياوې شته، نو په داسې حالت کې د تحقيق روح نه شي راټوکېدلی. په داسې فضا کې هماغه څه را څرګندېږي چې برټرنډ رسل يې جادو او توهم‌پرستي بولي.

د پخوانۍ زمانې عربان هم پخپله په همدې ډول توهماتو اخته وو. دا حالت، لکه د نورو قومونو په شان، د هغوی لپاره هم يو ذهني خنډ (Mental block) و. خو کله چې د اسلام له لارې په هغوی کې فکري انقلاب راغی، نو دا ذهني خنډ له منځه ولاړ. اوس هغوی شيان يوازې د شيانو په توګه ليدل، حال دا چې مخکې به هر شی ورته مقدس او پُراسراره ښکاره کېده. همدا فکري انقلاب و چې په عربو

کې يې د لومړي ځل لپاره ساينسي ذهن رامنځته کړ او بيا د همدې پرمختګ په وسيله هغوی د ټولې نړۍ لپاره هغه څه وړاندې کړل چې نن ورځ ورته ساينس ويل کيږي.

# طبيعي علوم

ارنلډ ټواين‌بي دا پوښتنه راپورته کړې ده چې ساينس د طبيعت د استعمال علم دی او طبيعت له ميليونونو کلونو راهيسې زموږ په نړۍ کې موجود و، نو بيا د طبيعت د کنټرول او د انسان د ګټې لپاره د هغه د استعمال کار ولې دومره ناوخته پيل شو؟ بيا هغه خپله د دې ځواب داسې ورکړی دی چې په پخوانی زمانه کې طبيعت د انسان لپاره د عبادت موضوع ګرځېدلی و او کوم شی چې انسان د عبادت وړ وګڼي، نو په هماغه وخت کې هغه د استعمال او تسخير وړ نه ګڼي.

ارنلډ ټواين‌بي په څرګنده توګه ليکي چې د پخواني انسان لپاره طبيعت يوازې د طبيعي منابعو يوه زيرمه نه وه، بلکې هغه يوه اِله وه، هغه ورته د مور په شان وه. او هغه نباتات چې له ځمکې راټوکيدل، هغه حيوانات چې د ځمکې پر مخ ګرځېدل، او هغه معدنيات چې د ځمکې په تل کې پټ وو، دا ټول د خدايي ځانګړتياوو لرونکي ګڼل کېدل. همدا شان ټولې طبيعي ننداري—چينې، سيندونه، سمندر، غرونه، زلزلې، برېښنا او تندر—ټول د ديوتاؤ په توګه ګڼل کېدل. همدا د پخواني انسان عمومي مذهب و:

"For (the ancient man) nature was not just a treasure trove of "natural resources" but a goddess, "Mother Earth". And the vegetation that sprang from the earth,

the animals that roamed the earth's surface, and the minerals hiding in the earth's bowels, all partook of nature's divinity. So did all natural phenomenon - springs and rivers and the sea; mountains; earthquakes and lightning and thunder. Such was the original religion of all mankind".

Arnold J. Toynbee, Reader's Digest, March ۱۹۷٤.

کوم طبیعت ته چې انسان د معبود په نظر ګوري، هغه ته بیا د تحقیق او تسخیر له نظره نه شي کتلی. ټواینبي د دې تاریخي حقیقت په بیان کې دا هم منلې ده چې د طبیعت د تقدس دا دوره د توحید (Monotheism) د عقیدې له لارې پای ته ورسېده. د توحید عقیدې طبیعت د معبود له مقامه راکوز کړ او د مخلوق په مقام کې یې کېښود. د طبیعت مظاهر یې د عبادت پر ځای د تسخیر وړ وګرځول.

توحید د دې نظر له مخې په پخواني دور کې ټولو پیغمبرانو وړاندې کوله. خو د پخوانیو پیغمبرانو په زمانه کې د توحید تحریک یوازې تر فردي اعلان پورې محدود و او د عمومي انقلاب مرحلې ته ونه رسېد. د پیغمبر اسلام ﷺ او د هغه د اصحابو هڅو د توحید عقیده د عمومي انقلاب مرحلې ته ورسوله. تر دې وروسته د هغې لازمي پایلې په توګه د طبیعت په اړه د تقدس ذهنیت ختم شو. اوس انسان طبیعت ته له دې نظره کتل پیل کړل چې هغه وپېژني او د خپل کار لپاره یې وکاروي. دا بهیر همداسې روان پاتې شو، تر دې چې د نني ساینسي پېر ته ورسېد.

د انسائیکلوپیډیا برټانیکا (۱۹۸۴) لیکوال د فزیکي علومو د تاریخ تر عنوان لاندې لیکي چې یوناني ساینس تر دویمې میلادي پېړۍ وروسته د رکود ښکار شو. ځکه چې رومیانو له دې سره هېڅ خاص علاقه نه لرله. ټولنیز فشار، سیاسي سختۍ او د کلیسا د مسوولینو د علم ضد پالیسۍ په نتیجه کې یوناني علما مجبور شول چې خپل وطن پرېږدي او ختیځ ته لاړ شي. په اوومه میلادي پېړۍ کې چې اسلام عروج ته ورسېد، نو په اسلامي نړۍ کې بالاخره دې ډول علماوو ته پاملرنه او قدر ورکول پیل شول. د یونانیانو زیاتره کتابونه عربي ته وژباړل شول. عربانو پر پخواني یوناني علم ځینې ډېر مهم اضافات وکړل. په دولسمه او دیارلسمه پېړۍ کې چې په لوېدیځ اروپا کې له یوناني علومو سره علاقه پیدا شوه، نو اروپایي علما د علم د ترلاسه کولو لپاره اسلامي اسپانیا ته تګ پیل کړ. د عربي کتابونو لاتیني ژباړو په لوېدیځه اروپا کې د ساینس بیا راژوندي کېدو ته لاره هواره کړه. د منځنیو پېړیو دا پوهان د لوړ کمال درجې ته ورسېدل او هغوی د شپاړسمې او اوولسمې پېړۍ د ساینسي انقلاب لپاره زمینه برابره کړه:

"Scientists of the Middle Ages reached high levels of sophistication and prepared the ground for the scientific revolution of the ١٦th and ١٧th centuries (١٤/٣٨٥".)

موسیو لیبان په "تمدن عرب" کې لیکي چې په اروپا کې عربي علوم د صلیبي جګړو له لارې نه دي رسېدلي، بلکې د اندلس، سسلي او اټالیا له لارې ورسېدل. په ۱۱۳۰ میلادي کال کې د طلیطله ښار د پاپانو د مشر ریمون (Remond) تر سرپرستۍ لاندې د ژباړونکو یو مرکز جوړ شو چې د بېلابېلو علومو مشهور عربي کتابونه

يې لاتيني ژبې ته وژباړل. د دې ژباړو له امله د اروپا سترګې يوې نوې نړۍ ته پرانيستل شوې.

تر دولسمې پېړۍ پورې د دې ژباړې لړۍ روانه وه. نه يوازې د رازي، ابن سينا او ابن رشد کتابونه، بلکې د جالينوس، بقراط، افلاطون، ارسطو، اقليدس، بطليموس او نورو آثار هم د عربي ژباړو له لارې لاتيني ژبې ته وژباړل شول. ډاکټر کلارک په خپل تاريخ کې تر درې سوه د زياتو عربي کتابونو د لاتيني ژباړو يادونه کړې ده (تمدن عرب).

نورو لوېديځ علماؤ هم دا تاريخي حقيقت په ډېر وضاحت سره منلی دی. د بېلګې په توګه، رابرټ بريفالټ ليکي چې يونانيانو سيستمونه جوړ کړل، تقسيمات يې وکړل او اصول يې وضع کړل، خو تفصيلي او اوږده مشاهده او تجربوي تحقيق د يوناني مزاج لپاره بالکل اجنبي و. هغه څه چې موږ ورته ساينس وايو، هغه د نويو تجربوي، مشاهداتي او حسابي طريقو پايله ده، او دا شی اروپا ته د عربو له لارې ورسېد. معاصر ساينس د اسلامي تمدن تر ټولو ستر وياړ دی.

بريفالټ د دې تفصيل په ترڅ کې ليکي چې زموږ ساينس پر عربو يوازې دا احسان نه لري چې هغوی موږ ته انقلابي نظريات او حيرانوونکي کشفونه راکړل، بلکې ساينس تر دې هم زيات د عربي کلتور پوروړی دی، ځکه که هغه نه وای، نو معاصر ساينس به هېڅکله وجود ته نه و راغلی:

“The debt of our science to that of the Arabs does not consist in startling discoveries of revolutionary theories;

science owes a great deal more to Arab culture, it owes its existence".

Briffault, Making of Humanity, p. ۱۹۰.

جورج سارټن (George Sarton) چې د ساینس د تاریخ مشهور مؤرخ دی، لیکي چې د منځنیو پیړیو تر ټولو اساسي او څرګنده لاسته راوړنه د تجربوي روح رامنځته کول وو، او دا روح په اصل کې مسلمانانو رامنځته کړ او تر دولسمې پیړۍ پورې یې دوام وکړ.

## د اسلام خدمت

اسلام په دې لړۍ کې دوه مهم کارونه ترسره کړل: یو د ذهني خنډ لرې کول چې د پرمختګ په لاره کې خنډ و، او بل د نوي پرمختیایي دور پیلول.

ذهني خنډ لرې کول دا مانا لري چې شیان د تقدس له مقامه راکوز کړل شي. بېشکه چې دا یو ډېر سخترین کار و. دغه کار په نبوي دور او د خلفای راشدینو په زمانه کې په بشپړه توګه ترسره شو.

د علمي فعالیتونو پیل که څه هم لا وړاندې شوی و، خو منظم او رسمي پیل یې د عباسي خلافت په زمانه کې د "بیت‌الحکمت" له جوړېدو (۸۳۲) سره وشو. تر هغه وروسته دا بهیر په اندلس او سسلي کې د عربانو د حکومت پر مهال لا نور هم قوي شو، بالاخره اروپا ته ورسېد او د معاصر صنعتي انقلاب سبب وګرځېد.

دا خبره عموماً منل شوې ده چې د ننني پرمختګونو اړیکه له صنعتي انقلاب سره ده. دا یو حقیقت دی چې ټول پرمختګونه د صنعتي انقلاب له برکت څخه راټوکېدلي دي او خپله صنعتي انقلاب تر ځمکه لاندې د پټو ځواکونو د استعمال بل نوم دی. انسان د

ډېروسکاره په انرژۍ بدل کړل، په روانو اوبو يې جنراتور چالاند کړ او برېښنا يې توليد کړه، معدني مواد يې راويستل او د ماشينونو په بڼه يې بدل کړل. په دې ډول صنعتي انقلاب رامنځته شو.

اوس پوښتنه دا ده چې دا ټول شيان خو له ميليونونو کلونو راهيسې د ځمکې پر مخ موجود وو، نو بيا ولې تر اسلام مخکې انسان دا وړتيا ونه لرله چې له دې شيانو داسې استفاده وکړي چې يو پرمختللی تمدن جوړ کړي؟ د دې ځواب يوازې يو دی: "شرک" د دې عمل په لاره کې خنډ و.

شرک څه دی؟ شرک د طبيعت د ننداري عبادت ته وايي. په بل عبارت، د طبيعت شيانو ته د تقدس ورکولو ذهن. له حضرت محمد ﷺ نه مخکې په ټولو پخوانيو زمانو کې انسان د طبيعت مظاهر د معبودانو په توګه منلي وو. يوناني تمدن، مصري تمدن، رومي تمدن، ايراني تمدن ـــ لنډه دا چې د نړۍ ټول پخواني تمدنونه مشرکانه تمدنونه وو. د طبيعت هر ښکاره شی، که ځمکه وه، سيند و، غر و، لمر و، سپوږمۍ وه يا ستوري، ټول د انسان لپاره د عبادت موضوع ګرځېدلي وو. اسلام دا ټول شيان د عبادت له مقامه راکوز کړل، او تر همدې وروسته هغه څه پيل شول چې نن ورته ساينسي ـ انقلاب ويل کيږي.

# دريم باب

## شمسي نظام

د علم پرمختګ لپاره د ازادۍ څېړنې فضا تر ټولو زياته ضروري ده. پخوا د بېلابېلو له ځانه جوړو عقايدو له امله د ازادۍ څېړنې چاپېريال نه و. په پخوانيو زمانو کې څو څو ځله داسې شوي چې يو هوښيار او عالم انسان د فکر او غور له لارې يوه حقيقت ته رسېدلی، خو کله چې يې خپل نظر خلکو ته وړاندې کړ، هغوی يې د خپلو توهمي عقايدو له امله نه يوازې مخالف شول، بلکې دښمنان يې هم وګرځېدل. په نتيجه کې د هغه فکر نور پرمختګ و نه کړ.

د يونان فيلسوف سقراط (Socrates) ته جبرا د زهرو د پيالې په ور کړه هغه ووژل شو. جرم يې دا و چې ده هغه خدايان او معبودان له پامه غورځول چې د ايتنز خلکو يې عبادت کاوه. هغه په دين کې نوي نظريات وړاندې کول او د يونان د ځوانانو ذهنونه يې خرابول. د سقراط د وژلو دا پېښه په ۳۹۹ ق.م کې رامنځته شوه.

کله چې ګاليليه د ځمکې د حرکت نظريه تأييد کړه، نو رومي کليسا د هغه سخته مخالفه شوه. په مذهبي محکمه کې يې دوسيه درج شوه. هغه وېرېدی چې ممکن تر مرګ هم سخته سزا ورکړل شي. ځکه يې نو له خپل علمي نظر څخه توبه وکړه. هغه د رومي کليسا د محکمې مخې ته په دې الفاظو د خپلې تېروتنې اعتراف وکړ او د ځمکې د حرکت له نظريې يې لاس واخيست:

«زه ګالیلیو چې عمر مې اویا کاله دی ستاسو په وړاندې په زنګونونو ناست یم، انجیل مقدس شاهد ګرځوم، خپل دواړه لاسونه پرې ږدم، د خپلې غلطۍ اعتراف کوم او د ځمکې د حرکت له بېاساسه دعوې څخه تېرېږم، هغه ردوم او دا نظریه د نفرت وړ ګڼم.»

دا یوازې یو پېښه نه وه. په هغه زمانه کې د عالمانو عامه طریقه همداسې وه. د نوو حقیقتونو موندل او د طبیعت رازونه څېړل—چې نن ورځ یې ساینس بولو—دوی تر څو پېړیو پورې منع کړي وو. داسې شیان به یې "تور علم"، "جادو" او "شیطاني تعلیم" باله.

په دې حالاتو کې دا ممکنه نه وه چې د څېړنې او تحقیق بهیر په ګټور ډول ادامه ومومي. په منځنیو پېړیو کې دا کار لومړی ځل د مسلمانانو په وسیله پیل شو. ځکه د قرآن تعلیماتو د هغوی له ذهنه تول هغه خنډونه لرې کړل چې د ګالیلیو په څېر د خلکو مخه یې نیولې وه.

د دې یوه بېلګه د شمسي نظام د حرکت مسئله ده. په دې موضوع کې د علمي پرمختګ لومړنۍ مرحله تر اسلامي انقلاب وروسته پیل شوه او بیا په تدریجي ډول تر معاصر کشف پورې ورسېده.

په پخواني یونان کې د فلکیاتو یو عالم تېر شوی چې ارسطارخس (Aristarchus of Samos) بلل کېږي. هغه په ۲۷۰ ق.م کې وفات شوی. ده د شمسي نظام مطالعه وکړه او احتمالاً یې لومړی ځل د لمر-د مرکزیت (Heliocentric) نظریه وړاندې کړه، یانې دا چې لمر په مرکز کې دی او ځمکه د هغه په شاوخوا ګرځي. خو د هغه دې نظریه په خلکو کې مقبولیت پیدا نه کړ.

وروسته بطليموس (Ptolemy) را څرګند شو. د هغه زمانـه دويمـه مـيلادي پېـړۍ ده. بطليمـوس د دې بـرعکس د ځمکـې-د مرکزيـت (Geocentric) نظريه وړاندې کړه، ياني دا چې ځمکه په مرکز کې ده او لمر د هغې شاوخوا ګرځي.

د ځمکې-د مرکزيت نظريـه د عيسـويانو ځينـو طبقـو تـه د خپلـې عقيدې د افکارو مطابق ښکاره شوه، هغه افکار چې دوی تر حضرت مسيح وروسته جوړ کړي و او چې وروستی تأييد يې په **۳۲۵** مـيلادي کال کـې د نيقيـا (Nicaea) پـه کونسل/مشـورتي جرګـه کـې وشـو. د قسـطنطين اعظـم (۲۸۰–۳۳۷) لـه خـوا د مسـيحيت تـر منلـو وروسـته عيسويت د روم په ټول قلمرو کې خپـور شـو او ځـواکمن اقتـدار يـې ترلاسه کړ. دغه وخت مسيحي علماوو د بطليموس د نظريې ځانګړې سرپرستي کوله او د ارسطارخس نظريه يې په بشپړه توګه د تيـارو لـور ته ټېل وهله. د انسائيکلوپيډيا برټانيکا (۱۹۸۴) په وينا، تر هغه وروسته د کائناتو په دې نقشې کې نور د فکر او څېړنې ځای پاتې نه شو او دا نظريه تـر ۱۷مـې پېـړۍ پـورې تقريبـاً پـه هـر ځـای کـې تـدريس او استعماليده:

"There was no further scope for cosmology in the model, which continued to be taught and used almost everywhere until the ۱۷th century (۱۸/۱۰۱۳".)

خو مسلمانان، چې د نامقدسو شيانو د تقدس په غلطۍ کې نـه وو اخته، په دې موضوع يې په خلاص ذهن او خالص علمي انـداز فکـر وکړ. هغوی دا وموندله چې د لمر-د مرکزيت نظريه له عقل سره ډېـره سمون لري، ځکه يې نو هغه ومنله.

ایډوارډ مکانل برنز (Edward McNall Burns) پر دې موضوع لیکي: دا نظریه چې لمر زموږ د شمسي نظام په مرکز کې دی، اوس یو ثابت شوی حقیقت گرځېدلی دی. دا نظریه په اصل کې ارسطارخس (۲۳۰–۳۱۰ ق.م) وړاندې کړې وه، خو شاوخوا څلور سوه کاله وروسته د هغه نظریه کمزورې شوه او د بطلیموس د ځمکې-مرکزیت نظریه برلاسی شوه. تر هغه وروسته له ۱۲۰۰ کلونو زیات وخت د بطلیموس نظریه د ټولې نړۍ د خلکو پر ذهنونو حاکمه پاتې شوه. په ۱۵۴۳ کې کوپرنیکس څرگنده کړه چې ځمکه زموږ د نړۍ مرکز نه ده. د خپلو څېړنو او فلکیاتي مطالعو له لارې هغه دې نتیجې ته ورسېد چې سیارې د لمر په شاوخوا گرځي. خو د کلیسا د مخالفت له وېرې هغه د خپلو څېړنو پایلې تر ۱۵۴۳ پورې له خپرولو رابندې کړې وې.

هسپانیوي مسلمانانو د ساینس په نسبت د هېڅ بل علم په ترقۍ کې دومره برخه نه ده اخیستې. حقیقت دا دی چې په دغه برخه کې د هغوی لاسته راوړنې دېرې لوړې وې چې تر دې مخکې نه وې لیدل شوې. د هسپانیا مسلمانان په فلکیاتو، ریاضیاتو، فزیک، کیمیا او طب کې تر ټولو لوړ مقام ته رسېدلي وو. د ارسطو له درناوي سره سره هغوی له دې نه ډډه ونه کړه چې د هغه پر دې نظر نیوکه وکړي چې ځمکه د کائناتو مرکز ده. هغوی دا امکان هم ومانه چې ځمکه په خپل محور راڅرخي او د لمر په شاوخوا گرځي:

“Despite their reverence for Aristotle, they did not hesitate to criticize his notion of a universe of concentric spheres with the earth at the centre, and they admitted

the possibility that the earth rotates on its axis and revolves around the sun (p. ٢٦٤".)

Edward McNall Burns, Western Civilization, W. W. Norton & Company Inc., New York, ١٩٥٥, p. ٣٦.

د شمسي نظام په اړه د مسلمانانو ځکه پخې نظريې ته يې رسېدل شوني شول چې اسلام هغه فکري بنديزونه مات کړل چې د انسان د ذهني پرمختګ په لاره کې خنډ وو. د مصنوعي بنديزونو له لرې کېدو سره د بشريت فکري قافله په چټکۍ سره د پرمختګ په لور روانه شوه او بالاخره هغې مرحلې ته ورسېده چې په شلمه پېړۍ کې يې موږ وينو.

## د طب فن

انسانان په هره دوره کې ناروغه شوي دي، له همدې امله د طب فن هم په هر زمانه کې په یو نه یو ډول شتون ساتلی دی. البته پخوا د طب فن هغې لوړې ترقۍ ته ونه رسېد چې د اسلام تر راتلو وروسته او بیا په اوسنۍ زمانه کې ورته ورسېد.

ویل کېږي چې طب ته قدیم یونان لومړی د طب په شکل ډېره پاملرنه وکړه. په قدیم یونان کې دوه ډېر ستر طبیبان پیدا شول: یو بقراط او بل جالینوس. بقراط (Hippocrates) د ماقبل المسیح له پنځمې او څلورمې پېړۍ سره اړه لري. خو د هغه د ژوند په اړه ډېر لږ معلومات شته. وروسته خلکو د اټکل له مخې ویلي دي چې ښایي بقراط په ۴۶۰ ق م کې پیدا شوی او ښایي په ۳۷۷ ق م کې وفات شوی وي. آن تر دې چې ځینو څېړونکو د هغه د تاریخي شخصیت (Historical figure) په اړه هم شک څرګند کړی دی. هغه کتابونه چې د فلسفې او طب په اړه د هغه په نوم مشهور دي، د هغو په اړه هم دا شک څرګند شوی چې ایا رښتیا هم د هغه دي او که نورو لیکلي او بقراط نامه ته یې منسوب کړي دي. (EB-۹٤۲/۸-٤۳).

جالینوس (Galen) د قدیم زماني بل مهم فیلسوف او طبیب ګڼل کېږي. ویل کېږي چې هغه د عقلي طب (Rational medicine) بنسټ کېښود. جالینوس ښایي په ۱۲۹ میلادي کال کې پیدا شوی او

ښايي په ۱۹۹ ميلادي کال کې وفات شوی وي. په روم کې جالينوس له ډېر مخالفت سره مخ شو. د جالينوس زياتره ليکنې له منځه ولاړې. پاتې شوې هم ښايي له منځه تللې وای، خو يوازې عرب وو چې په نهمه ميلادي پېړۍ کې يې د هغه يوناني نسخې بېرته راټولې کړې او عربي ژبې ته يې وژباړلې. وروسته په يوولسمه پېړۍ کې دا ژباړې اروپا ته ورسېدې او له عربي څخه لاتيني ته واړول شوې.

انسائيکلوپيډيا برټانيکا (۱۹۸۳) د جالينوس په اړه خپله مقاله په دې ټکو پای ته رسولې ده چې د جالينوس د وروستيو کلونو په اړه ډېر لږ معلومات شته:

Little is known of Galen's final years (٧/٨٥٠.)

واقعا هم دا خبره سمه ده چې په قديم يونان کې ځينې لوړ طبي ذهنونه پيدا شوي وو، خو د بقراط او جالينوس په څېر د خلکو پايله دا ښيي چې په قديم يونان کې داسې شرايط موجود نه وو چې په هغو کې دې دغه ډول خلکو ته بشپړ ارزښت ور کول شوی وای.

اصلي خبره دا ده چې په قديم يونان کې د طب د ودې لپاره مناسبه فضا نه وه. بېلابېل وهمي عقايد د ازادو څېړنو په لاره کې خنډ گرځېدل. لکه دا چې ناروغۍ له پټو او اسرارو ډکو قوتونو سره تړل کېدې، يا دا چې نباتات او درمليز توکي مقدس گڼل کېدل، او داسې نور.

په يونان کې د طب پيل د عيسی عليه السلام تر ظهور شاوخوا له دوه سوه کاله وړاندې او شاوخوا دوه سوه کاله وروسته زمانې سره اړه لري. په دې توگه د يوناني طب د مودې نږدې څلور سوه يا پنځه سوه کاله کېږي. تر دې وروسته پخپله په يونان کې دا فن نور پرمختگ ونه

کړ. یونان د اروپا یو هېواد دی، خو یوناني طب په پاتې اروپا کې دوام ونه موند، څو د نوي غربي طب د راپیدا کېدو لامل شي. دا خپله د دې خبرې ثبوت دی چې د قدیم یونان چاپېریال د طب د پرمختګ لپاره مناسب نه و.

یوناني طب چې ځینو انفرادي شخصیتونو رامنځته کړی و، تر خپل ظهور نژدې زر کاله وروسته په غیر مدونو کتابونو کې بند پاتې شو. تر دې چې د عباسیانو په دوره کې دغه کتابونه وژباړل شول. عربو له زیاتو اضافو سره د طب فن بېرته تدوین کړ. تر دې وروسته دا ممکنه شوه چې دا فن اروپا ته ورسېږي او د نوې میډیکل ساینس د ظهور لامل وګرځي.

د دې وجه دا ده چې تر اسلامي انقلاب مخکې په نړۍ کې شرک او وهم‌پرستي واکمنه وه. د هغه وخت چاپېریال دومره ناموافق و چې که به چا علمي او ساینسي څېړنه کوله، نو د خلکو له لوري به یې ستاینه نه کېده، بلکې له سختو شرایطو سره به مخ کېده. له همدې امله دا ډول هڅې که په انفرادي ډول راښکاره شوې هم وای، اکثره به تر فشار لاندې پاتې شوې. خلکو د ناروغۍ او درملنې اړیکه له معبودانو سره تړلې وه. په داسې حال کې ساینسي درملنه خلکو ته د منلو وړ نه وه. کله چې د اسلام له لارې په نړۍ کې د توحید انقلاب راغی، نو بیا دا ممکنه شوه چې د طب د پرمختګ هغه دروازه پرانیستل شي چې بالاخره تر نوې میډیکل ساینس پورې ورسېږي.

د پیغمبر اسلام صلی الله علیه وسلم یو ارشاد په دې ټکو نقل شوی دی:

ان الله تعالی لم ینزل داء الا انزل له دواء، علمه من علمه وجهله من جهله، الا السام وهو الموت. (مستدرك حاکم)

یعنې الله تعالی هېڅ داسې ناروغي نه ده نازله کړې مګـر دا چـې د هغې دوا یې هم نازله کړې ده؛ چا چې وپېژندلې ده، هغه پېژندلې ده، او چا چې ونه پېژندله، هغه ترې ناخبره پاتې شوی دی، پرته له «سام» څخه چې هغه مرګ دی.

د پیغمبر اسلام صلی الله علیه وسلم دا ارشاد ګـواکې د یـو انقـلابي قائد وینا وه. نو ځکه هغه دا طبي حقیقت په خپله ژبه اعلان کړ او لـه بلې خوا یې په عملي توګه همدې چوکاټ ته د تاریخ اوښتلو تـه لاس ور واچاوه.

## یوه بېلګه

چیچک/سره تبه (Smallpox) د نړۍ له تر ټولو خطرناکو نـاروغیو څخه وه. دې کې انسان لومړی تبه نیسي او دوه ورځې وروسـته دانـې راڅرګندېږي. دا یوه ساري ناروغي او ډېر وژونکې ده. سربېره پر دې، که یو څوك د دې له حملې څخه ژوندی هم پـاتې شي، نـو دا د تـل لپاره د هغه د پوستکي بڼه داغداره کوي.

د موجوده ریکارډونو له مخې، دا ناروغي په چین کـې ۱۱۲۲ ق م مهال موجوده وه. د هند په پخوانیو سنسکرتي کتابونو کـې هـم د دې یادونه شوې ده. پخوا به دا ناروغي په بېلابېلـو هېوادونـو کـې د یـوې وېرونکې وبا په توګه خپرېدله او بې‌شمېره خلـك یـې لـه منځـه وړي دي. د مصر فرعون (Ramses) چې په ۱۵٦ ق م کـې مـړ شـوی و، د هغه مومیایي شوی جسد په یوه اهرام کې موندل شـوی دی او د هغـه

پر مخ د چیچـک نښـې لیـدل کېـږي (EB-۱X/۲۸۰). خـو د زرګونـو کلونو لپاره د چیچک د ناروغۍ په اړه هېڅ علمي څېړنه ونه شوه.

اوس موږ پـوهېږو چـې چیچـک یـوه سـاري نـاروغي ده، چـې د (Virus infection) له امله پیدا کېږي. انسان دا هم مونـدلې ده چـې داسې معالجوي تدابیر شته چې که له وړاندې یـې تیـاری وشي، نـو د چیچک له حملې څخه ځان ساتل کېدای شي. خو دا حقیقت هـم د لومړي ځل لپاره د اسلام تر ظهور وروسـته، یـوازې د نهمـې مـیلادي پېړۍ په وروستیو کې معلوم شو.

په تاریخ کې لومړنی روښانه نوم چې د چیچک درملنه یې ومونده او د هغې طبي څېړنه یې وکړه، هغه مشهور عـرب طبیـب الـرازي دی (۸٦۵–۹۲۵م). هغه د رې (ایران) اوسـېدونکی و. ده د دې خطرنـاکې ناروغۍ پـه اړه لـومړنی طبـي کتـاب ولیکـه چـې نـوم یـې «الجـدري والحصبة» و. دا کتاب په ۱۵٦۵م کال کې د اروپا علمي ژبې لاتیني ته ترجمه او چاپ شو، وروسته نورو ژبو ته هم وژباړل شو. بیـا پـه ټولـه اروپا کې خپور شو. د دې انګلیسي ژباړه په ۱۸۴۸م کال کې لـه لنـدن څخه چاپ شوه، چې نوم یې دا و:

A Treatise on the Small Pox and Measles.

څېړونکو دا منلې ده چـې د الـرازي دا کتـاب د معلـوم تـاریخ پـه اوږدو کې د چیچک په اړه لومړنی طبـي کتـاب دی. تـر دې مخکـې هېڅچا پر دې موضوع طبي څېړنه نه وه کړې.

اېډورډ جېنر (Edward Jenner) د الرازي د کتاب ژبـاړه ولوسـته. له دې څخه د هغه په ذهن کې د چیچـک د نـاروغۍ د طبـي څېړنـې فکر را پیـدا شـو، تـر دې چـې هغـه پـه ۱۷۹٦م کـال کـې د واکسـین

(Vaccination) هغه طریقه وموندله چې په نړیواله کچه مشهوره شوه. وروسته انسان د چیچک د کنټرول لپاره په عملي تدابیر لاس پوري کړ، تر دې چې په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره په ۱۹۷۷م کال کې د ملګرو ملتونو له خوا اعلان وشو چې د چیچک ناروغي له منځه وړل شوې ده.

دا چې ولې د چیچک ناروغۍ په طبي او درملیز لحاظ څو زره کاله د څېړنې موضوع ونه ګرځېده، لامل یې هماغه څه وو چې په دیني اصطلاح کې شرک بلل کېږي، یانې غیر مقدس ته د تقدس ورکول یا په غیر الله کې د الهي صفاتو منل. د ډاکټر ډیوډ ورنر (David Werner) په وینا:

In most places in India, people believe that these diseases are caused because the goddess is angry with their family or their community. The goddess expresses her anger through the diseases. The people believe that the only hope of cure for these diseases is by giving her offerings in order to please her. They do not feed the sick child or care for him because they fear this will annoy the goddess more. So the sick child becomes very weak and either dies or takes a long time to get cured. These diseases are caused by virus infection. It is essential that the child be given plenty of food to keep up his strength so that he can fight the infection.

د پخوانۍ زمـانې خلکـو دا عقیـده لرلـه چـې د چیچـک او شري ناروغۍ د بتانو او معبودانو د غضب له امله رامنځته کیـږي. کلـه چـې معبودان له کومې کورنۍ یا قوم څخه ناراضـه شي، نـو هغـوی پـه دې خطرناکه ناروغۍ اخته کوي او د همدې ناروغۍ له لارې خپله غوسـه ځرگندوي. د همدې عقیدې له مخې خلکو دا فکر کاوه چـې لـه دې ناروغۍ څخه د خلاصون یواځینۍ لار دا ده چې معبودانو تـه نذرونـه او شکرانې وړاندې شي، څو هغه خوشحاله شي او ناروغي لرې کړي. د همدې باور له امله به هغوی قصداً له دې څخه ډډه کوله چې ناروغ ته څه ورکړي یا د درملنې کومه لاره ولټوي، ځکه د هغوی په اند کـه داسې وکړي، نو د دوی وهمي خدای به نور هم ناراضه شي.

کله چې اسلام د ناروغۍ په اړه دا وهم مات کړ او دا یـې ځرگنـده کړه چې له یوه الله پرته بـل هیڅـوک د نفعـې او ضرر واک نـه لـري، خالق یواځې یو دی، له هغه پرته نور ټول مخلوق او بندگان دي ـــنـو تر اسلامي انقلاب وروسته کله چې د انسان ذهن دا ویښتیا ومونډله او هغه له دیوتایي فرضیو څخه ازاد فکـر پیـل کـړ، نـو همـاغـه وخـت دا ممکنه شوه چې د چیچک په اړه طبي څېړنـه او د درملنـې هڅـه یـې وشي.

کله چې په نړۍ کې دا فکري انقـلاب راغـی، تـر هغـه وروسـته دا امکـان پیـدا شـو چـې چیچـک د طبـي څېړنـې او درملنـې موضـوع وگرځي. تر همدې وروسته دا زمینه برابره شوه چې د ابو بکـر رازي او ایډورډ جېنر په څېر اشخاص راپورته شي او د چیچک درملنه ومومي او انسانیت لـه دې وژونکـې نـاروغۍ څخـه وژغـوري. د چیچـک د درملنې تر کشف پورې اصلي خنډ (Barrier) مشرکانه فرضیې وې او

په تاریخ کې چې چا دا فرضیې لومړی ځل لـه منځـه یـوړې، بېشـکه هغه اسلام و.

د طبي فن په اړه د مسلمانانو د کارنامو په بـاب ډېـر کتابونـه لیکـل شوي دي. د بېلګې په توګه د هِتي (Hitti) کتـاب History of the Arabs. پـه دې ډول کتـابونو کـې د مسـلمانانو د طبـي لاسـته راوړنـو تفصیلات لیدل کېدای شي.

## ژبپوهنه

د ژبې په اړه د وهمي عقايدو له امله د علم اللسان/ژبپوهنې ساحه له سختو نامساعدو شرايطو سره مخ پاتې وه. آن تر دې چې د زرگونو کلونو لپاره يې پرمختگ درېدلی و. د ژبپوهنې يو ماهر ډاکټر ارنسټ گيلنر (Dr Ernest Gellner) ليکي چې د ژبپوهنې په فلسفه کې يو سرچپه فکري طرز موندل کېږي. هلته رښتينی فکر ناروغي گڼل کېږي او مړه فکرونه د صحت نمونه بولي:

Linguistic philosophy has an inverted vision which treats genuine thought as a disease and dead thought as a paradigm of health.

پخوا عموماً دا باور موجود و، چې ليک (خط) د ديوتاوو ډالۍ ده. د مثال په توگه په هند کې د برهمي ليک په اړه دا عقيده وه چې الفاظ او ترکيبونه د ديوتاوو له خوا تاکل شوي دي، او له همدې امله دا د لوړ درناوي (Highest veneration) وړ دي. په دې اړه د جان ستيونس (John Stevens) يو کتاب شته چې نوم يې د ختيځ سپېڅلی ليک دی:

Sacred Calligraphy of the East

هغه په دې کې دا څېړنه وړاندې کړې ده چې د مقدس ليک عقيده د پېړيو په اوږدو کې په نړۍ کې خپل مسير ساتلی و. په دې

اړه د څېړونکو ترمنځ اختلاف شته چې د لیک فن لومړی چېرې پیدا شو—په مصر کې، په چین کې، که په هند او یا بل ځای. خو پر دې خبره ټول پوهان متفق دي چې په ټولو قدیمو قومونو کې دا مشترکه عقیده وه چې لیک یو الهي شی دی، په خپله ذات کې مقدس دی او دا د دیوتاوو ژبه ده:

One idea, however, is common to all ancient systems. Writing is divine. It is inherently holy. Writing is the speech of the gods.

تاریخ ښیي چې انساني ژبې د زرګونو کلونو لپاره د وهمونو (Superstitions) ښکار پاتې شوې دي. دا فرض شوې وه چې ځینې ژبې الهي اصل (Divine origin) لري او د هغو ویونکي پر نورو ژبو ځانګړی امتیاز لري. لکه د بېلګې په توګه د یونانی ژبې په اړه تر اوږدې مودې پورې دا ویل کېدل چې یوناني ژبه تر ټولو نورو ژبو لوړه ده، دا د دیوتاوو ژبه ده او نورې ژبې د دې په مقابل کې د وحشیانو ژبې دي، او داسې نور.

همدا معامله د عبراني ژبې وه. په یهودي-مسیحي نړۍ کې تر پېړیو پېړیو دا باور موجود و چې عبراني ژبه د خدای خپله ژبه ده او همدا تر ټولو لومړۍ ژبه ده چې په نړۍ کې ویل شوې ده. ونډرلي (Wonderly) او نایډا (Nida) پر ژبو د سامي عقایدو د اغېزو د څېړنې پر مهال لیکي: یو هغه عامل چې د ژبپوهنې د پرمختګ مخه یې نیولې وه، د پخوانیو مسیحي لیکوالانو دا عقیده وه—چې د نشأة ثانیه تر دورې پورې یې دوام درلود—چې د نړۍ ټولې ژبې له عبراني څخه راوتلې دي:

One of the factors which retarded linguistic progress was the belief among early Christian writers and persisting well into the Renaissance era, that all languages were derived from Hebrew. William L. Wonderly and Eugene Nida in "Linguistics and Christian Missions" Anthropological Linguistics, Vol. ٥, pp. ١٠٤-١٤٤

له همدې امله تر پېړيو پېړيو پورې د اروپا علماوو بې‌ګټې هڅې کولې چې د عبراني ژبې برتري ثابته کړي. هغوی به هڅه کوله چې د هرې ژبې تړاو له عبراني سره ثابت کړي. د دې پایله دا شوه چې علم اللسان پرمختګ ونه کړ. کله چې په اتلسمه پېړۍ کې دا فکر کمزوری شو، نو بیا په اروپا کې د بېلابېلو ژبو د ژبپوهنې علم پرمختګ پیل کړ.

د «خدايي ژبې» (Divine language) تصور پـه بشـپړه توګـه يـو وهمي توليد و، چې له حقيقت سره يې هېڅ تړاو نه درلود. کله چې د يوې ژبې په اړه دا فرض شي چې دا د خدای يا ديوتـاوو ژبـه ده، نـو لازماً هغه ژبه مقدسه ګرځي. بيا خلـك هغـې تـه پـه سـپېڅلې سـترګه ګوري، نه د څېړنې په سترګه. وروسته بيا د هغې ژبې انتقـادي ارزونـه کول، يا د هغې د پرمختګ لپاره نوې لارې وړانديز کول، ټول بدعت ګڼل کېږي. دا کارونه د هغې د تقدس د ماتولو په مانا بلل کېـږي. نـو هره نوې څېړنه خلکو ته بې‌ځايه جرأت ښکاري، نه دا چې د هغـې د پرمختګ لپاره يوه جدي هڅه وي.

له کوم وضعيت سره چې ژبـې مـخ شـوې، همـدا حالـت پخـوا د انساني ژوند په نورو ټولو برخو کې هم موجود و. بې‌شـمېره ډول ډول

وهمي عقايد وو چې د انسان فکري پرمختګ يې بند کړی و. په تاريخ کې د لومړي ځل لپاره چې چا دا بند مات کړ، هغه د توحيد انقلاب و چې د پيغمبر اسلام صلی الله عليه وسلم او د هغه د ملګرو په وسيله رامنځته شو.

دا انقلاب لومړی په عربو کې پيدا شو، وروسته يې اغېزې ټولې نړۍ ته ورسېدې. انساني تاريخ د وهم‌پرستۍ له دورې څخه راووته او د حقيقت‌خوښونې دورې ته داخل شو.

کله چې په قرآن کې اعلان وشو چې له يوه الله پرته بل هېڅ معبود نشته، نو له هماغه وخته د ساينسي طرز فکر پيل وشو. خلك له غير واقعي ذهني بنديزونو ازاد شول او د شيانو په اړه يې فکر کول پيل کړل. دې فکري طرز پرله‌پسې وده وکړه، تر دې چې تر نننۍ ساينسي انقلاب پورې ورسېد.

د يوه الله الوهيت منل او د نورو ټولو شيانو د الوهيت له منلو انکار کول، دا مانا لري چې له يوه الله پرته بل هېڅ شی د تقدس مقام نه لري. له الله پرته ټول شيان په يوه درجه کې مخلوق او بې‌واکه دي. نورو شيانو ته د تقدس ورکول د دې سبب کېدل چې هغه د تحقيق او تسخير له موضوع څخه وباسي، خو کله چې هغه غير مقدس وبلل شول، نو بيا د تحقيق او تسخير موضوع وګرځېدل. همدا د اسلام هغه ځانګړې کارنامه ده چې هغه د دورِ جديد پنځوونکی ګرځوي.

## علم الاعداد

د اعدودو اوسنۍ طریقه لومړی په هند کې د ځینو کسانو لـه خـوا رامنځته شوه. خو دا هغه زمانه وه چې هره مروجه خـبره مقدسـه ګڼـل کېده او هرې نوې خبرې ته د شک په نظر کتل کېده. له همـدې املـه د اعدادو دا طریقه هغه وخت کې په هند کې عامه نه شـوه. دا یـوازې په ځینو انفرادي کتابونو کې محدوده پاتې شوه. خلکو پخوانۍ طریقه مقدسه ګڼله او هماغه یې نیولې وه، نو ځکه یې نوې طریقه ونه منله.

وروسته د هند دغو نوښتګرانو ته معلومه شوه چې په بغداد کې یـو داسې سلطنت رامنځته شوی چې د نوو خبرو قدر کوي. نو یوه هندي په۱۵۴هـ (۷۷۱م) کال کې سفر وکړ او بغداد تـه ولاړ. هغـه وخـت پـه بغداد کې د عباسي خلیفه المنصور حکومت و. دغه هنـدي پنـډت د المنصور حضور ته دوه سنسکرتي رسالې وړاندې کړې. له دې څخـه یوه د «سدهانتا» په اړه وه، چې عربو ورته «سند هنـد» نـوم ورکـړ. بلـه رساله یې د ریاضیاتو په اړه وه.

د المنصور په امر محمد بن ابـراهیم الفـزاري د ۷۹۶-۸۰۶م کلونـو ترمنځ دغه رسالې عربي تـه وژبـاړلې. الخـوارزمي (۷۸۰-۸۵۰م) دغـه عربي ژباړه ولوستله او د همدې له لارې د هندي اعـداود لـه طریقـې سره بلد شو، چې پکې بنسټیز اعداد تر نهو (۱-۹) پـورې دي او بیـا د صفر په زیاتولو سره د ټولو شمېرونو جوړولو طریقه ښـودل شـوې ده.

الخوارزمي دې ته «هندي اعداد» وويـل او د دې د منلـو غوښـتنه يـې وکړه. (هتي، ص ۳۰۸–۲۰۷).

د الخوارزمي د کتاب لاتيني ژباړه پـه دولسـمه پېـړۍ کـې اډيـلارډ (Adelard) وکړه. په دې توګه دا د شمېرنې فن اروپا تـه ورسـېد. کـه څه هم عربو دې ته «هندي شمېرې» ويلـې، خـو پـه اروپـا کـې ورتـه «عربي شمېرې» (Arabic numerals) وويل شول. عجيبه دا ده چـې د الخوارزمي د عربي کتاب اصلي نسخه له منځـه تللـې، خـو د هغـې لاتيني ژباړه لا هم د اروپا په کتابتونونو کـې موجـوده ده. (هتـي، ص ۵۷۴–۵۷۳).

په اروپا کې پخوا رومي شـمېرې رواج وې او تقريبـا دوه زره کالـه همدا کارېدلې. دا شمېرې د نښو (حروفو) په بڼه ليکل کېدې، لکـه د ۸۸ شمېر چې داسې ليکل کېده: (LXXXVIII). له دې امله حساب او کتاب ډېر ستونزمن و. خو اروپايانو رومي شمېرې مقدسـې ګڼلـې، او هغوی دا د ديوتاوو ډالۍ ګڼله، نو ځکه يې دا فکر نه شو کـولی چـې دا بدل کړي يا پکې څه اصلاح راولي. غير مقدس اعداد چې مقدس وبلل شول، پايله يې دا شوه چې د علم په ډګر کې د څـو پېړيـو لپـاره هېڅ پرمختګ ونه شو. دا اسلامي انقلاب و چې د لـومړي ځـل لپـاره يې د اعدادو د تقدس دا طلسم مات کـړ او وروسـته پـه اروپـا کـې د علمي پرمختګ دوره پيل شوه.

ليونارډو (Leonardo Fibonacci) ښايي د ايټاليا په پيسا ښار کـې پيدا شوی و. د هغه د لومړني ژوند په اړه ډېر لـږ معلومـات شـته، خـو وروسته يې په تاريخ کې ډېر شهرت وموند، ځکه همدا هغه کـس و،

چې عربي شمېرې يې اروپا ته وروپېژندلې. د هغه زمانه د دولسمې او دیارلسمې پېړۍ ترمنځ ده.

د لیونارډو پلار په الجزایر کې سوداګري کوله. هغه خپل زوی یو عرب استاد ته وسپاری، څو حساب ور زده کړي. عرب استاد لیونارډو ته د اعدادو علم وروښود. وروسته لیونارډو مصر، شام او نورو سیمو ته سفرونه وکړل. هغه د الخوارزمي لیکنې ولوستې او د عربي شمېرو سره یې بشپړه بلدتیا ترلاسه کړه. بیا یې کتابونه ولیکل او دا طریقه یې خلکو ته وروپېژندله. هغه وښوده چې په دې اصولو کې نهه بنسټیز اعداد دي: ۹۸۷۶۵۴۳۲۱، او د صفر په زیاتولو سره هر ډول شمېر جوړېدای شي.

دا طریقه ډېر ژر په اروپا کې د سوداګریزو حسابونو لپاره کارېدله. په ۱۲۲۰م کال کې د لیونارډو شهرت دومره زیات شو چې د ایټالیا پاچا فریډریک (Frederick) هغه خپل دربار ته راوباله. هلته یې د پاچا مخې ته خپل علم وښود او عربي طرز (Arabic Type) یې وړاندې کړ. د هغو کسانو په منځ کې چې په اروپا کې یې عربي شمېرې خپرې کړې، د لیونارډو نوم تر ټولو څرګند دی. (۱۸-EB-۸۱۷/۱۰).

ولفریډ بلنټ (Wilfrid Blunt) لیکلي دي: که فرض کړو چې اسلامي توپان نه وای راغلی، نو څه به شوي وای؟ هېڅ داسې شی نشته چې په لوېدیځ کې یې د ساینس پرمختګ دومره ځنډولی وای لکه څومره چې د روم نامنظمو شمېرو ورته ځنډ اچولی و. عربي شمېرې چې د اتمې میلادي پېړۍ په پای کې له هند څخه بغداد ته رسېدلې وې، که چېرې په لنډه موده کې لوېدیځې اروپا ته رسېدلې او

هلته منل شوې وای، نو د دې پایله به دا وه چې ډېرى هغه ساینسي-پرمختګونه چې نن د ایټالیا لـه نشأة ثانیـه (Renaissance) سره تـړل کیږي، ښايي څو پیړۍ مخکې ترلاسه شوي وای:

And supposing the tide of Islam had not been stemmed? Nothing so delayed the advance of science in the West as the clumsiness of the Roman numerals. Had the Arabic numerals, which had reached Baghdad from India towards the end of the eighth century, been soon afterwards introduced into and adopted by western Europe as a whole, much of that scientific progress which we associate with the Renaissance in Italy might have been achieved several centuries earlier.

Wilfrid Blunt, The Times (London), April ۲, ۱۹۷۶

## یو وضاحت

له نوي ډیلي څخه یو انګلیسي کتاب چاپ شوی، هغه د ماشومانو او عامو لوستونکو لپاره لیکل شوی او ۲۲ مخونـه لـري. د دې کتـاب نوم د صفر کیسه:

Dilip M. Salwi, Story of Zero, Children's Book Trust

په دې کتاب کې ویل شوي دي چې د صـفر تصـور پـه هنـد کـې وموندل شو. تر دې مخکې د لویـو شـمېرو د ښرګنـدولو لپـاره کومـه اسانه طریقه موجوده نه وه. د یوې طریقې له مخې د ځـانګړو شـمېرو لپاره ځانګړي الفـاظ ټاکـل شـوي وو، لکـه: سـهاسرا (۱۰۰۰)، ایوتـا (۱۰۰۰۰)، لکشـا (۱۰۰۰۰۰)، کـوټي (۱۰۰۰۰۰۰۰) او داسـې نـور. د

صفر اختراع په علم الحساب کې يو انقلابي بدلون رامنځته کړ، او اوس د لويو شمېرو بيانول ډېر اسانه شول.

برهماگپت (۵۹۸–٦٦٠م) په ملتان کې پيدا شوی و. هغه لومړی کس و، چې د صفر (Zero) د اصولو ټاکلو هڅه يې وکړه، خو د هغه په طريقه کې ځينې نيمگړتياوې وې. وروسته بهاسکر (۱۱۱۴–۱۱۸۵م) په بيجاپور کې پيدا شو. هغه په سنسکرت کې «ليلاوتي» په نوم يو کتاب وليکه، چې پکې د صفر اصول په لا ساده او اسانه ډول بيان شوي وو.

ښاغلي آر. کې. مورتي (R. K. Murthi) د دې کتاب په اړه (The Times of India، ۳۰ جنوري ۱۹۸۹) تبصره کړې او ليکلي يې دي چې دا خبره زموږ د ملي وياړ احساس زياتوي چې د صفر نظريه په هند کې پيدا شوې ده:

It boosts our sense of national pride to note that the zero was conceived in India (p. ٦.)

ليکوال په دې کتاب کې خپلو لوستونکو ته دا هم ښيي چې هندي شمېرې لومړی له هند څخه هسپانيا ته داخلې شوې، بيا ايټاليا، فرانسې، انگلستان او جرمنۍ ته ورسېدې. په لوېديځ کې هندي شمېرې په بشپړه توگه ومنل شوې او د هغو منل د رياضياتو او ساينس په تاريخ کې يو انقلابي پړاو وگرځېد:

The Indian numbers first entered Spain, then Italy, France, England and Germany.... Their adoption turned to be the turning point in the history of mathematics and science.

دا سمه ده چې د صفر (Zero) تصور ډېر پخوا هند کې پیدا شوی و، خو دا سمه نه ده چې دا له هند څخه نېغ په نېغه لوېدیځې نړۍ تـه رسېدلی وي. دا طریقه د عربو له لارې لوېدیځ ته ورسېده. همدا وجه ده چې پـه لوېـدیځ کـې دې تـه د هنـدي شـمېرې پـر ځـای «عـربي شمېرې» (Arabic numerals) ویل کېږي. د انسائیکلوپیډیا برټانیکـا (۱۹۸۴) الفاظ دا دي:

Arabic numerals, the numbers ٠, ١, ٢, ٣, ٤, ٥, ٦, ٧, ٨, ٩; they may have originated in India but were introduced to the western world from Arabia (١/٤٦٩.)

یعنې عربي شمېرې، چې له صفر څخه تر ۹ پورې دي، ښـایي پـه هند کې رامنځته شوې وي، خو لوېـدیځې نـړۍ تـه د عربـو لـه لارې ورسېدې.

انسائیکلوپیډیا برټانیکا په بل ځـای کـې لیکـي چـې دا شـمېرې د اروپا تعلیمیافته قشر ته په نهمې میلادي پېړۍ کې د عرب ریـاضيپوه الخوارزمي د لیکنو لـه لارې ورسـېدې. الخـوارزمي د هنـدي شـمېرو اصول په عربي ژبه ولیکل او وروسته دا عربي کتاب لاتیني ته وژبـاړل شو او اروپا ته ورسېد. (EB-٨١٧/١٠).

برټرنـډ رسـل لیکـي چـې محمـد بـن موسـی الخـوارزمي، چـې د ریاضیاتو او فلکیاتو د سنسکرتي کتابونو عربي ژباړونکی و، په ۸۳۰م کال کې یو کتاب خپور کړ. په دولسمه پېړۍ کـې دا کتـاب لـه عـربي څخه لاتیني ته وژباړل شو. همدا هغه کتاب و چې لوېـدیځ د لـومړي ځل لپاره له دې لارې له هغو شیانو سره بلد شو چې مـوږ یـې عـربي شمېرې بولو، که څه هم په حقیقت کې باید ورته هندي شمېرې وویل

شي. همدغه ليكوال (الخوارزمي) د الجبر په اړه هم يو كتاب وليكی، چې تر شپاړسمې پېړۍ پورې په لوېديځ كې د درسي كتاب په توګه كارېدی.

Bertrand Russell, A History of Western Philosophy, Unwin Paperbacks, London ١٩٨٤, p. ٤١٦.

كه څه هم د صفر نظريه په هند كې رامنځته شوې وه، خو څو سوه كاله يې پخپله په هند كې عامه مقبوليت ترلاسه نه كړ. حتى په هند كې هم دا هغه وخت مشهوره شوه چې لومړی عربو او بيا اروپايانو هغه ومنله. د انسائيكلوپيډيا برټانيكا يو ليكوال ليكي چې دا اختراع—چې غالباً د هندوانو له خوا شوې—د رياضياتو په تاريخ كې خورا لوی اهميت لري. هندي ادبيات دا ښيي چې ښايي صفر د عيسى عليه السلام له زېږون څخه مخكې معلوم و، خو تر نهمې پېړۍ مخكې داسې كومه ليكنه نه ده موندل شوې چې دا نښه پكې موجوده وي:

The invention, probably by the Hindus, of the digit zero has been described as one of the greatest importance in the history of mathematics. Hindu literature gives evidence that the zero may have been known before the birth of Christ, but no inscription has been found with such a symbol before the ٩th century (١/١١٧٥.)

دا خبره په خپله سمه ده چې د صفر د كارولو تصور په پيل كې د يوه هندي په ذهن كې پيدا شو، خو هغه مهال په هند كې د شرك او وهم‌پرستۍ بشپړه غلبه وه. له همدې امله هر شی له پټو او اسرارو ډكو

عقایدو سره تړل شوی و او نوې خبرې تـه  پـه شـك او ډار سره كتـل كېدل. له همدې كبله پخواني هند كې د صفر تصور عمـومي قبوليـت ونه موند او يوازې د انفرادي كشف په توګه پاتې شو، د ټولنيز منښـت درجې ته ونه رسېد.

كله چې اسلام د شرك او وهم‌پرستۍ چاپېريال له منځه يـووړ، نـو هلته لكه څنګه چې نورو نوو شيانو ته هركلى وشو، همداسې د صـفر تصور ته هم هركلى وشو. د هند دا تخم په مناسبې ځمكې—يعنـې د مسـلمانانو پـه بغـداد كـې—وكـرل شـو، هلتـه يـې وده وكـړه او بيـا د مسلمانانو له لارې هسپانيا ته ورسېد او له هغه ځايه په ټـول اروپـا كـې خپور شو.

## زراعت او اوبه لګول

ښخوا د طبیعت هغه مظاهر چې د الهي صفاتو در لودونکي بلل کېدل، یو هم سیند و. د سیندونو په اړه دا عقیده وه چې په هغو کې یو ډول پټ او پُر اسراره الهي روح موجود دی، همدا روح سیندونه بهوي او همدا یې د انسان لپاره ګټور یا زیانمن ګرځوي. (EB/۱۷/۱۲۹).

په قدیم یونان کې د سکامانډروس (Skamandros) سیند په اړه دا باور و چې دا د تولید او زرخیزۍ(سمسورتیا، برکت، نه شنډتوب) وړتیا لري. له همدې امله د څوارلسمې پېړۍ قبل مسیح یو یوناني ویناوال وایي چې زموږ نجونې تر واده مخکې په دې مقدس سیند کې لمبېږي او وايي: «ای سکامانډروس! زما پېغلتوب قبول کړه.» په بېلابېلو هېوادونو کې داسې جادویي رسمونه دود وو چې پکې د سیند اوبه د ښځې د امیدوارولو لپاره کارول کېدې. (EB-۸۸۲/۱۲).

د سیندونو د تقدس عقیدې په خلکو د سیندونه عبادت پیل کړ. هغوی به د سیندونو په نوم نذر او قربانۍ وړاندې کولې. په دې ډول د سیندونو د تقدس نظریې هغوی ته اجازه ور نه کړه د دې د تسخیر فکر رامنځته کړي. خلکو سیندونه د مقدسو معبودانو په بڼه لېدل، نه د طبیعي واقعیت په توګه چې د انساني تدبیر له لارې ترې ګټه اخیستل کېدای شي.

همدا وجه ده چې پخوا به د سيندونو زراعتي استعمال ډېر محدود پاته شو. د اوبولګونې تاريخ په حيرانوونکي ډول د انسان له نوې تاريخ سره تړاو لري.

کله چې د اسلام له لارې د توحيد انقلاب راغی او انسان ته دا څرګنده شوه چې سيند مخلوق دی، نه خالق؛ يو بنده دی، نه خدای— بس تر دې وروسته دا ممکنه شوه چې انسان په لويه کچه د سيندونو د ګټې اخيستنې په اړه فکر وکړي. همدا لامل دی چې موږ په تاريخ کې لولو چې د اندلس (هسپانيا) مسلمانانو د اوبه‌لګونې داسې پراخ نظامونه رامنځته کړل چې تر هغوی مخکې يې بېلګه په کوم بل قوم کې نه موندل کېږي.

د اندلس مسلمانانو کر کيلې ته تر دې حده ترقي ور کړه چې هغه يو بشپړ فن وګرځېد. هغوی د ونو مطالعه وکړه او د ځمکې له ځانګړنو سره بلد شول. د هسپانيا هغه پراخې سيمې چې په لکونو مربع ميله شاړې پرتې وې، مسلمانانو په مېوه‌لرونکو ونو، شنو او ښکلو کروندو بدلې کړې. وريجې، ګنې، زيتون، زعفران، انار، شفتالو، زردالو او نور هغه فصلونه چې نن ورځ په هسپانيا کې په کثرت موندل کېږي، هم مسلمانانو هلته انتقال کړي دي. هغوی په اندلوسيه او اشبيليه (Seville) کې د زيتونو او خرماوو کرنې ته ډېره وده ور کړه، په غرناطه (Granada) او مالقه (Malaga) کې د انګورو توليد په لويه کچه پيل شو.

فرانسوی ليکوال چارلس سينوبوس ليکي: د هسپانيا عربانو د اوبولګونې لپاره د نهرونو سيستم رامنځته کړ. هغوی لوی لوی ځاګان وکيندل او هغو کسانو ته يې انعامونه ورکول چې د اوبو نوې سرچينې

به یې پیدا کړې. هغوی د ځمکو ترمنځ د اوبو د وېش لپاره ځانګړې اصطلاحات او اصول وضع کړل. په هسپانیا کې یې لوی لوی کانالونه جوړ کړل او بیا یې له هغو څخه کوچنۍ څانګې راوویستې. د همدې له امله د بلنسیه (Valencia) شاړې دښتې په شنو او آبادو سیمو بدلې شوې. هغوی د نهرونو لپاره ځانګړی اداري سیستم هم جوړ کړ، چې د اوبولګونې په اړه ټول معلومات بهترې ترلاسه کېدل.

پروفیسور هټي د مسلمانې هسپانیا د دې زراعتي پرمختګ په اړه لیکي چې دا د مسلمان اندلس له سترو کارنامو څخه یوه وه او د دې خاورې لپاره د عربو یو دوامدار تحفه ده. د هسپانیا باغونه تر نن ورځې پورې د هغوی نښې ساتي:

This agricultural development was one of the glories of Moslem Spain and one of the Arabs' lasting gifts to the land, for Spanish gardens have preserved to this day a "Moorish" imprint (History of the Arabs, p. ۵۲۸.)

برټرنډ رسل د مسلمان اندلس په اړه لیکي چې د عربي اقتصاد یو امتیازي صفت د هغوی زراعت و، په ځانګړې توګه د اوبولګونې منظم او پرمختللی سیستم، چې هغوی دا مهارت له خپلې صحرایي تجربې څخه زده کړی و، هلته چې اوبه ډېرې کمې وې. د هسپانیا زراعت تر نن ورځې پورې هم د عربي اوبولګونې له سیستم څخه ګټه اخلي:

One of the best features of the Arab economy was agriculture, particularly the skillful use of irrigation, which they learnt from living where water is scarce. To

this day Spanish agriculture profits by Arab irrigation works. (A History of Western Philosophy, p. ٤١٦.)

دا یو حقیقت دی چې کله مسلمانان هسپانیا ته ولاړل، نو هلته یې یو نوی زراعتي انقلاب رامنځته کړ. هغوی د کروندو او باغونو د اوبولګونې داسې نظام جوړ کړ چې تر هغوی مخکې په تاریخ کې یې بېلګه نه موندل کېږي. برټرنډ رسل د دوی دا کارنامه د هغوی له صحرایي ژوند سره تړلې بولي، خو دا توجیه په بشپړه توګه سمه نه ده. د دوی د دې کارنامې اصلي لامل هغه توحیدي انقلاب و چې د عربو ذهن یې په بشپړه توګه بدل کړی و.

پخوانیو خلکو سیندونه، چینې او سمندرونه د خدای په بڼه لیدل. هغوی به دا د احترام وړ ګڼل، نه دا چې د استعمال او تسخیر وړ یې وبولي. خو عربو د خپل بدل شوي ذهنین له مخې دا ټول شیان د مخلوق په توګه ولیدل. هغوی دې په دغه نظر وکتل چې څنګه یې مسخر کړي او د خپلو اړتیاوو لپاره یې وکاروي. همدا هغه ذهني انقلاب و چې عربان یې دې ته چمتو کړل چې د زراعت او اوبولګونې په ډګر کې تاریخي کارنامې ترسره کړي.

په صحرایي ژوند کې چې اوبه کمې وي، هلته د اوبولګونې اصول څنګه زده کېدای شي؟ برټرنډ رسل د عربو د دې ځانګړنې رښتینې سرچینه نه وه پېژندلې، نو ځکه یې په ناسم ډول دا د هغوی له وچ او بې آبه ژوند سره وتړله. حال دا چې په حقیقت کې دا د هغه فکري بدلون پایله وه چې د توحید له لارې د هغوی په ذهنونو کې رامنځته شوی و. دا د موحدانه ژوند نتیجه وه، نه د صحرایي ژوند پایله.

## د تاريخ علم

په اوسنۍ زمانه کې د تاريخ د مطالعې طريقه دا ده چې «قوم» (Nation) د يو واحد (unit) په توګه وبلل شي او پر همدې بنسټ د تاريخ څېړنه وشي. ارنلډ ټوين‌بي په دې کې بدلون راوست او هڅه يې وکړه چې «تمدن» (civilization) د تاريخ د څېړنې لپاره بنسټ وګرځوي. (EB-X/٧٦).

خو د دواړو نظريو ګډه پايله يوه ده. دواړه دا وايي چې تاريخ بايد د يو فرد تابع نه شي، بلکې د ټولې انساني ټولنې ټول فعاليتونه دې د تاريخ د مطالعې موضوع وګرځول شي. دا د علم تاريخ په ډګر کې يو ستره بدلون دی چې يوازې په وروستيو څو پېړيو کې رامنځته شوی دی. که د اوسنۍ زمانې تاريخ ته «انسان‌نامه» وويل شي، نو د پخوانۍ زمانې تاريخ يوازې «شاهنامه» وه. په پخواني وخت کې د پاچاهانو تاريخ ته تاريخ ويل کېده. دا يوازې د اوسنۍ زمانې ځانګړنه ده چې تاريخ د يوې دورې د علمي، اقتصادي، ټولنيزو، سياسي او تمدني حالاتو د څېړنې په مانا اخيستل کېږي. ګواکې پخوانی تاريخ د ټول انسانيت يو محدود او تنګ انځور و. په هغه کې عام انسان د يادونې وړ نه و، بلکې يوازې يو کس د يادونې وړ و او دا هم هغه څوک و چې د پاچاهۍ تاج به يې پر سر و.

د تاریخ د شاهنامې کولو دا طرز دومره زیات شوی و چې د غیر پاچاهانو پېښې اصلاً د یادونې وړ نه بلل کېدې، که څه هم هغوی په خپل ذات کې هر څومره لوی وای. د دې حالت یوه عجیبه بېلګه د پیغمبرانو په اړه ده. د انساني تاریخ تر ټولو حیرانوونکی حقیقت دا دی چې تاریخ هغه څه نه دي ثبت کړي چې تر ټولو زیات مهم و. دا د هغو مقدسو شخصیتونو حالات دي چې پیغمبران بلل کېږي. د انسانیت په مدون تاریخ کې د پاچاهانو تفصیلي تذکرې شته‌له ماڼیو څخه نیولې د هغوی د پوځونو تر قومندانانو پورې‌خو د الله پیغمبرانو چې په خپلو زمانو کې کوم ستر کارونه ترسره کړي، د مدون انساني تاریخ په کتابونو کې یې هېڅ ذکر نه موندل کېږي.

که د هند د ازادۍ داسې تاریخ ولیکل شي چې پکې د مهاتما ګاندي نوم نه وي، که د کمونیستي روس داسې تاریخ ولیکل شي چې د لینن یاد پکې نه وي، نو دا به خلکو ته ډېر عجیبه ښکاره شي. خو تر دې هم عجیبه دا ده چې د انسانیت مدون تاریخ له هغو روحاني شخصیتونو څخه په بشپړه توګه خالي دی چې پیغمبران بلل کېږي. البته په دې کې یوازې د وروستي رسول استثناء شته او لامل یې دا دی چې ده خپله هغه تاریخ بدل کړ، چې له امله یې په تېر کې دا غمیزه بیا بیا تکرارېده.

په تېر وخت کې دا لوی تاریخي کمښت ځکه رامنځته شو چې د پخوانیو مورخینو په نظر کې یوازې «پاچا» او د هغه اړوند موضوعات د یادونې وړ وو، او له دې پرته نور څه د ذکر وړ نه ګڼل کېدل.

د غیر پاچاهانو حالت دا و، چې د هغوی حقیقي پېښې هم د یادولو وړ نه ګڼل کېدې، البته له پاچاهانو سره تړلې خیالي افسانې بیا

په ډېر اهتمام لیکل کېدې، داسې لکه چې دا ډېرې سترې حقیقي پېښې وي. د بېلګې په توګه، د مصر ساحلي ښار اسکندریه سکندر اعظم په ۳۳۲ ق م کې اباد کړ او د هغه په نوم اسکندریه (Alexandria) ونومول شو.

د سکندر د دې «شاهي کارنامې» په اړه د هغه وخت مورخینو ډېرې عجیبه او خیالي کیسې لیکلې دي. له هغو څخه یوه دا ده چې کله سکندر د سمندر پر غاړه د دې ښار بنسټ اېښود، نو بحري شیطانانو خنډونه جوړ کړل. وروسته سکندر د لرګي او ښیښې یو صندوق جوړ کړ او په هغه کې سپور د سمندر تل ته ولاړ. هلته یې سمندري شیطانان ولیدل او د هغوی انځورونه یې جوړ کړل. بیا یې د هغو انځورونو له مخې فلزي مجسمې جوړې کړې او د اسکندریې په بنسټ کې یې ښخې کړې. کله چې سمندري شیطانان راغلل او ویې لیدل چې د هغوی د ډول موجودات وژل شوي او په بنسټ کې ښخ دي، نو وېرېدل او وتښتېدل.

له اسلامه مخکې په ټوله پخوانۍ نړۍ کې همدا حالت و. د معلوم انساني تاریخ په اوږدو کې عرب مورخ ابن خلدون (۱۳۳۲–۱۴۰۶م) لومړنی کس و، چې د تاریخلیکلو فن یې بدل کړ او تاریخ یې د شاهنامې له دورې څخه راویست او د انساننامې دور ته یې داخل کړ. هغه تاریخ د «علم الملوك» پر ځای «علم الاجتماع» جوړ کړ. په حقیقت کې هغه علم چې نن ورځ ورته علم الاجتماع (Sociology) ویل کېږي، د ابن خلدون کارنامه ده. ابن خلدون پخپله لیکلي چې هغه د یو نوي علم، یعنې «علم العمران» بنسټ اېښودونکی دی او دا خبره بې له شکه سمه ده.

په اصل کې همدا ابن خلدون دی چې اروپا ته يې د تـاريخ نـوی فن ورکړ او خپلـه ابـن خلـدون دا الهـام لـه اسـلام څخـه اخيسـتی و. اسلامي انقلاب ابن خلدون پيدا کړ او ابن خلدون د تـاريخ نـوی فـن رامنځته کړ.

ابن خلدون چې د تـاريخ پـه نظريـه کـې کـوم بـدلون راوسـت، د شلمې پېړۍ مشهور انگليسي مورخ ارنلډ ټـوين‌بي يـې پـه دې الفـاظو اعتراف کوي: ابن خلدون د تاريخ يوه فلسفه رامنځته کړه او دا بېشکه د خپل ډول تر ټولو لويه علمي کارنامه ده چې تر اوسه پـورې پـه هـر زمان او هر ځای کې د بشر بل ذهن دغه کارنامه نه وه پنځولې:

A philosophy of history which is undoubtedly the greatest work of its kind that has ever yet been created by any mind in any time or place (٩/١٤٨.)

همدارنگه رابرټ فلنـټ (Robert Flint) د هغـه د عظمـت پـه اړه وايي چې د تاريخ د نظريه ساز پـه توگـه هغـه پـه هـېڅ زمانـه او هـېڅ هېواد کې سارى نه درلود، تر دې چې درې سوه کاله وروسـته ويکـو (Vico) پيدا شو. افلاطون، ارسطو او آگستين هم د هغه سيالان نه وو:

As a theorist on history he had no equal in any age or country until Vico appeared, more than three hundred years later. Plato, Aristotle and Augustine were not his peers (٩/١٤٨.)

پروفيسر هټي ليکي چې د ابن خلدون شهرت د هغه د «مقدمې» له امله دی. په دې کتاب کې هغـه د لـومړي ځـل لپـاره د تـاريخ داسـې نظريه وړاندې کړه چې پکې د اقليم او جغرافيې طبيعي حقايقو تـه پـه

تاریخ کې مناسب ځای ورکړل شو، او ورسره یې روحاني او اخلاقي ځواکونه هم شامل کړل چې پر تاریخ اغېزه لري. د قومونو د عروج او زوال د قوانینو د ټاکونکي په توګه ابن خلدون ته د دې علم د موندونکي حیثیت ورکول کېدای شي، لکه څنګه چې هغه پخپله هم په خپله «مقدمه» کې ځان ته دا مقام ورکړی دی. هغه د تاریخ واقعي امکانات او حقیقي ماهیت کشف کړل. لږ تر لږه، هغه د علم الاجتماع رښتینی بنسټګر دی. نه کوم عرب لیکوال، او نه کوم اروپایي لیکوال، تر هغه مخکې تاریخ ته په دومره جامع او فلسفي انداز کتلي و. د ناقدینو د متفقې رایې له مخې، ابن خلدون تر ټولو لوی تاریخي فیلسوف و چې اسلام پیدا کړی دی، بلکې په ټولو زمانو کې د تاریخ د فلسفې له مخې تر ټولو ستر شخصیت ګڼل کېږي:

P.K. Hitti, History of the Arabs, London ۱۹۷۰, p. ۵٦٨

ابن خلدون د خپلې «مقدمه» په لومړۍ برخه کې عمومي ټولنپوهنه بیان کړې ده. په دویمه او درېیمه برخه کې سیاسي ټولنپوهنه تشریح کوي. څلورمه برخه د ښاري ژوند ټولنپوهنې ته ځانګړې ده. په پنځمه برخه کې اقتصادي ټولنپوهنه بیان شوې او په شپږمه برخه کې د علم الاجتماع عمومي اصول وړاندې شوي دي. د دې کتاب هر فصل له علمي پلوه ډېر لوړ ارزښت لري. په دې توګه هغه د داسې علم تاریخ بنسټ کېښود چې یوازې د پاچاهانو پر احوالو ولاړ نه وي، بلکې د پراخ مفهوم له مخې د ټول قوم اقتصاد، سیاست، تعلیم، دین، اخلاق او تمدن پکې شامل وي.

د تاریخ څېړونکو عموماً دا منلې ده چې د عبدالرحمن ابن خلدون تر راښکاره کېدو پورې د تاریخ د فن بڼه مترقي نه وه. ابن

خلدون لومړنی کس دی چې د تاریخ نوی فن یې پیل کړ. خو پوښتنه دا ده چې ابن خلدون څنگه وتوانېد چې داسې څه ومومي چې تر هغه مخکې هېچا نه وو موندلي؟ د دې ځواب دا دی چې نور مورخین د اسلامي انقلاب نه مخکې پیدا شوي وو، او ابن خلدون تر اسلامي انقلاب وروسته پیدا شو. ابن خلدون په اصل کې د اسلامي انقلاب محصول و او همدا هغه څه دي چې ابن خلدون یې ابن خلدون جوړ کړ.

د تاریخ د فن د پرمختگ په لاره کې بیا هماغه خنډ موجود و چې په دیني اصطلاح کې «شرک» بلل کېږي. تر اسلام مخکې ټوله زمانه د «خدایي پاچاهیو» زمانه وه. ځینو پاچاهانو به په ښکاره ډول د خدایي دعوه کوله او له خلکو څخه به یې د خپل عبادت غوښتنه کوله. ځینو نورو پاچاهانو ځانونو ته د الهي تجسیم په ورکولو یا د هغه د "نائب" گڼلو له لارې خلکو ته دا عقیده ورپېچکاري کوله چې دوی پر خپلو رعیتونو مطلق واک لري. ځینو پاچاهانو که څه هم په ښکاره ډول د خدایي دعوه نه کوله، خو عملا د هغوی په ملک کې هماغه فضا موجوده وه چې په نورو هېوادونو کې لیدل کېده. (EB-V/۸۱٦).

اسلام دا حالت بدل کړ. اسلام د توحید پر بنسټ هغه انقلاب راوست چې له مخې یې د پاچا او غیر پاچا ترمنځ هېڅ فرق پاتې نه شو او انسانان په مساوي ډول د یو پلار (آدم علیه السلام) اولاد او د خدای بندگان وگرځېدل. د دې ستر انساني مساوات تر انقلاب وروسته دا ممکنه شوه چې ابن خلدون راڅرگند شي، چې د تاریخ په اړه د پاچا د محوریت پر ځای د ټول انسانیت پر محور فکر وکړي او بیا د نوي علم تاریخ بنسټ کښېږدي.

د پیغمبر اسلام صلی الله علیه وسلم زوی ابراهیم په مدینه کې پیدا شو. یونیم کلن و، چې د شوال په میاشت کې (٦٣٢م) کې هغه وفات شو. په همدې ورځ لمر تندر ونیوه. په پخواني زمانه کې دا ډول توهمات عام وو چې کله د یو پاچا یا لوی انسان وفات به وشي، نو لمر یا سپوږمۍ تندر نیسي او ګواکې اسمان د لویو انسانانو پر مرګ غم کوي. د پیغمبر اسلام مقام هغه وخت د عربو د مشر په حیث و، نو ځینو خلکو د هماغه پخواني تصور له مخې وویل چې دا د ابراهیم د وفات له امله لمر تندر نیولی دی.

کله چې پیغمبر اسلام صلی الله علیه وسلم ته دا خبره ورسېده، نو هغه یې سمدستي رد کړه. په حدیثي کتابونو کې د دې په اړه بېلابېلې روایات راغلي دي. یو روایت داسې دی:

**ان النبي صلى الله عليه وسلم خرج يوما مستعجلاً إلى المسجد وقد انكسفت الشمس، فصلى حتى انجلت، ثم قال: إن أهل الجاهلية كانوا يقولون: إن الشمس والقمر لا ينخسفان إلا لموت عظيم من عظماء أهل الأرض، وإن الشمس والقمر لا ينخسفان لموت أحد ولا لحياته، ولكنهما خليقتان من خلقه، يحدث الله في خلقه ما شاء، فأيهما الخسف فصلوا حتى ينجلي أو يحدث الله أمراً.** (مشكاة المصابيح، باب صلاة الخسوف)

رسول الله صلی الله علیه وسلم یوه ورځ په چټکۍ سره مسجد ته ووت، په داسې حال کې چې لمر تندر نیولی و. هغه لمونځ وکړ تر دې چې تندر ختم شو، بیا یې فرمایلي چې د جهالیت خلکو به ویل: د لمر او سپوږمۍ تندر هغه وخت رامنځته کېږي کله چې د ځمکې له

لويو كسانو څخه د يو لوی كس مړ شي. خو حقيقت دا دی چې د لمر او سپوږمۍ تندر د هېڅ انسان د مرګ يا ژوند له امله نه وي. دا دواړه د الله له مخلوقاتو څخه دوه مخلوقات دي. الله چې په خپلو مخلوقاتو كې څه غواړي هغه كوي. نو كله چې په دې دواړو كې تندر راشي، نو تاسو لمونځ وكړئ تر دې چې هغه ختم شي، يا الله كومه بله خبره څرګنده كړي.

په پخوانۍ زمانه كې واكمنانو د خلكو د همدې وهمي عقايدو ملاتړ كاوه، څو د خلكو په ذهنونو كې د هغوی عظمت پاتې شي. د معلوم تاريخ په اوږدو كې پيغمبر اسلام صلی الله عليه وسلم لومړنی واكمن و چې د دغو وهمي عقايدو يې ترديد وكړ او هغه يې بې‌اساسه وبلل. په دې توګه هغه انسان ته يو نوی ذهن وركړ. هغه د يو انسان او بل انسان ترمنځ فرقونه په فكري او علمي توګه له منځه يوړل او هغه فرضي تصورات او توهمات يې باطل كړل چې د هغو له امله دا ډول باورونه د خلكو په ذهنونو كې راسخ شوي وو.

كله چې پر ټولو عربو د اسلام واكمني ټينګه شوه، نو پيغمبر اسلام صلی الله عليه وسلم د خپل ژوند په وروستيو كې د خپلو نژدې يو لك او پنځه ويشت زرو اصحابو سره د حج فريضه ادا كړه. په دې حج كې هغه د عرفات پر ميدان داسې تاريخي خطبه وركړه چې د حجة الوداع خطبه بلله كيږي.

دا خطبه ګواكې د عربي واكمن په توګه د انساني دستور عمومي اعلان و. هغه وفرمايل: ای خلكو! واورئ، ټول خلك له يو نارينه او يوې ښځې څخه پيدا شوي دي. په دوی كې چې كوم ظاهري توپيرونه دي، هغه يوازې د پېژندګلوۍ لپاره دي. ستاسو له منځه د الله

په نزد تر ټولو عزتمن هغه څوك دی چې تر ټولو زیات له الله څخه وېرېږي. نه عرب پر عجم بانـدې فضـیلت لـري، نـه عجـم پـر عـرب باندې. نه تور پر سپین باندې فضیلت لري او نه سپین پر تـور بانـدې. فضیلت یوازې په تقوی کې دی.

بیا یې وفرمایل: واورئ! د جاهلیت هره خبره او هره معامله زما تـر پښو لاندې بې ارزښته شوه(ألا كل شيء من الجاهلية تحت قدميّ موضوع). په تېر تاریخ کې دا لومړی ځل و، چې یو واکمن په عملي توګه د انسانانو ترمنځ هر ډول تعصب او هـر ډول دروغجـن امتیازونـه ختم کړل.

تر دې وروسته په انساني نړۍ کې یو نوی تمدن رامنځته شـو چـې ټولو انسانانو یکې برابر حیثیت درلـود. تـر رسـول الله صـلی الله علیـه وسلم وروسته چې کوم کسان د اسلامي نړۍ واکمنان شول، هغوی که څه هم د پخوانۍ ابادې نړۍ د یوې سترې برخې واکمنـان وو، خـو د مهاتما ګاندي په الفاظو، هغوی که څه هم د یوه پراخ سلطنت څښتنان وو، خو د خلکو ترمنځ به د فقیرانو په څېر اوسېدل:

Though they (Abubakr and Umar) were masters of vast empire, yet they lived the life of paupers.

دا انقلاب دومره ځواکمن و، چې اینده وختونو کې، کله چـې پـه حکومتي ادارو کې بـدي او انحـراف پیـدا شـو او د خلیفـه پـر ځـای «سلطان» رامنځته شو، بیا هم د اسلامي تمدن تـر اغېـز لانـدې حالـت داسې و، چې هېڅ سلطان د پخواني پاچا په څېر ژوند نـه شـو کـولی. په دې اړه د اسلامي تاریخ بې‌شمېره پېښې موجودې دي. دلته یـوازې یوه پېښه ذکر کېږي.

سلطان عبدالرحمن الثانی (۲۳۸-۱۷٦) د مسلمانې هسپانيې يو ځواکمن واکمن و. هغه د «الزهراء» په نوم دومره لويه ماڼۍ جوړه کړه چې د «ماڼۍ» کلمه د هغې لپاره کوچنۍ ښکارېده، نو ځکه هغه ته د «قصر الزهراء» پر ځای «مدينة الزهراء» ويل کېدل.

د سلطان عبدالرحمن ثاني پېښه ده، چې يو کال يې د رمضان په مياشت کې يوه روژه قضا کړه. بې له شرعي عذر څخه يې روژه نه وه نيولې. خو د پاچا په توګه يې دا جرأت نه درلود چې ځان له قانون څخه لوړ وبولي. نو هغه د قرطبې علماء دربار ته راوبلل او خپله پېښه يې هغوی ته بيان کړه او د عام انسان په څېر يې ترې فتوا وغوښته.

علامه مقري ليکلي دي: د دې علماوو په مجلس کې امام يحيی هم موجود و. هغه د پېښې تر اورېدو وروسته فتوا ورکړه چې پاچا بايد د خپلې دې خطا کفاره د شپېتو پرله‌پسې ورځو روژو په نيولو سره ادا کړي. کله چې هغه فتوا ورکړه او له دربار څخه ووت، نو يو عالم ورته وويل: ښاغلې! په شريعت کې خو د شپېتو مسکينانو د خوراک کولو حکم هم شته، نو تاسو ولې د پاچا لپاره دومره سخت حکم ورکړ؟ تاسو دا هم ويلای شوای چې پاچا دې د يوې روژې پر ځای شپېتو مسکينانو ته خواړه ورکړي.

امام يحيی هغه عالم ته په غوسه وکتل او ويې ويل: د پاچاهانو لپاره شپېتو خلکو ته خواړه ورکول کومه سزا نه وه. له همدې امله د اندلس تاريخ وايي چې سلطان عبدالرحمن الثانی د امام يحيی فتوا ومنله او پرله‌پسې يې شپېته ورځې روژې ونيولې او هېڅ ډول غبرګون يې و نه ښود. حتی دا يې هم ونه کړل چې امام يحيی يې له خپلې

مذهبي دندې څخه لرې کړی وای. (حکمران مسلمان، صـفحه ۳۱۵، حواله فتح الطيب، بيروت، جلد اول، صفحه ۳۶۲-۳۶۸)

دا د هغه انقلاب اثر و چې اسلام رامنځته کـړی و. دې انقـلاب د پاچا او رعيت ترمنځ فرق له منځه يووړ. دې انقلاب د انساني مساوات داسې فضا رامنځته کړه چې هيچا به ځان تر نورو لـوړ نـه ګڼلـو. هـېڅ پاچا دا جرأت نه شو کولی چې ځان تر عامو انسانانو پورتـه وښـيي او ځان له قانون څخه مستثنی وبولي.

حال دا چې تر اسلامي انقلاب مخکې دا يو منـل شـوی تصـور و چې پاچا تر عامو انسانانو لوړ مقام لري. د بېلګې پـه توګـه، د پيغمـبر اسلام صلی الله عليه وسلم معاصر رومـي بادشـاه هِرَقـل (Heraclius) که څه هم ځان عيسوي باله، خو هغـه لـه خپلـې خـورځې سره نکـاح کړې وه، چې دا له مسيحي شريعت څخه د هغه ښکاره خلاف عمـل و:

He had married his niece, Martina, thus offending the religious scruples of many of his subjects, who viewed his second marriage as incestuous (۸/۷۸۲.)

خلکو ته معلومه وه چې دا حرام اړيکه ده، خو بيا هم ټولو چوپتيا غوره کړه. ځکه چې هرقل پاچا و او پاچا ته دا حق منل شوی و، چې هر څه وغواړي هغه وکړي؛ هغه د عامو انساني معيارونو په تله نه تلـل کېدی.

پخوا د بېلابېلو توهمي عقايدو تـر اغېـز لانـدې د پاچـا د عظمـت تصور د خلکو پر ذهنونو خپور و. هغوی پاچا تـر ځـان لـوړ مخلـوق باله. خپله پاچاهـانو هـم د ځـانګړو رسـمونو او آدابـو لـه لارې د دې

تصور تایید کاوه. په دې شرایطو کې پاچا ته په خپل سلطنت کې د عظمت هغه مقام ور کړل شو چې په پراخو کایناتو کې د خدای لپاره بلل کېدی. په طبیعي ډول د تاریخ لیکلو فن هم له دې اغېزمن شو او تاریخ په عملي توګه د پاچاهانو د تذکرو دویم نوم شو.

په عربو او نورو هېوادونو کې چې کله اسلامي انقلاب راغی، نو لکه څنګه یې چې لمر او سپوږمۍ له خدایي مقام څخه لرې کړل، همدارنګه یې پاچاهان هم د غیرمعمولي عظمت له مقام څخه راکوز کړل. دا مهال پاچا د عامو خلکو په شان یو انسان و، نه تر هغو بالاتر.

د اسلامي انقلاب اغېزې د اسیا، افریقا او د اروپا ډېرو ابادو سیمو ته ورسېدې. له دې سره په لوړه کچه یو نوی ماحول رامنځته شو. د خلکو په ذهنونو کې نوي فکرونه پیدا شول. پخوانی «پاچامحوره» (King-centred) ذهن ختم شو او پر ځای یې «انسانمحوره» (Man-centred) فکر رامنځته شو.

د تاریخ د علم له مخې د دې ذهن لومړنی څرګند شکل د عبدالرحمن بن خلدون په لیکنو کې ښکاره شو. هغه د تاریخ په اړه یو نوی کتاب لیکل پیل کړ چې لنډ نوم یې «کتاب العبر» دی، او بشپړ نوم یې «کتاب العبر و دیوان المبتدأ و الخبر في أیام العرب والعجم والبربر ومن عاصرهم من ذوی السلطان الأکبر» دی. ده د دې کتاب لپاره د تاریخ په اړه یوه مفصله مقدمه ولیکله. دا مقدمه له اصلي کتاب څخه ډېره قیمتي ګڼل کېږي، له همدې امله په جلا توګه د «مقدمه ابن خلدون» په نوم په بېلابېلو ژبو کې خپره شوې ده.

مورخ مقریزي د ابن خلدون شاګرد و. ابن خلدون په پنځلسمه پېړۍ کې د مصر پر اهل علم اغېز وکړ. تر هغه وروسته په نورو

مسلمانو هېوادونو کې د هغه د تاريخ طرز فکر خپور شو. د ۱۸٦۰ او ۱۸۷۰ ترمنځ د هغه د «مقدمه» بشپړ ژباړه په فرانسوي ژبه خپره شوه. په دې توګه د ابن خلدون تاريخي افکار اروپا ته ورسېدل، او هلته يې ډېر زيات شهرت وموند. بالاخره په اوولسمه پېړۍ کې ويکو (Giambattista Vico) او نور لوېديځ مورخان پيدا شول. هغوی دا کار نور هم وړاندې بوت، تر دې چې هغه څه رامنځته شول چې نن ورځ ورته «د تاريخ نوی علم» ويل کېږي.

## خلورم باب

## انساني برابري

د ټولو فیلسوفانو او مفکرینو تر ټولو خوښ خوب د انسانانو برابري او مساوات دی. خو محمد صلی الله علیه وسلم د تاریخ لومړنی انسان دی چې د هغه راوړي اسلامي انقلاب په عملي ډول د انساني مساوات تطبیق د تاریخ په اوږدو کې لومړی ځل رامنځته شو. د دې اعتراف عموماً سنجیده علماؤ هم کړی دی. د بېلګې په توګه سوامي ویویکانند په خپل چاپ شوي لیک (شمېره ۱۷۵) کې وایي چې زما تجربه دا ده که کله هم کوم دین په عملي ډول د مساوات یوې د پام وړ کچې ته رسېدلی وي، نو هغه اسلام دی او یوازې اسلام دی:

My experience is that if ever any religion approached to this equality in an appreciable manner, it is Islam and Islam alone.

د دې تاریخي استثناء سبب هماغه شرك و چې د نورو پرمختګونو په وړاندې خنډ و. د شرك غلبې د انسانانو ترمنځ نابرابري رامنځته کړې وه او د توحید غلبې د انسانانو ترمنځ د مساوات نظام قائم کړ.

اصل دا دی چې د انسانانو ترمنځ په فطري او طبیعي ډول ډېر توپیرونه موجود وي؛ لکه یو څوك تور وي او بل سپین، یو غریب وي او بل شتمن، یو حاکم وي او بل محکوم. دا توپیرونه د قرآن په اصطلاح د «تعرف» لپاره دي (الحجرات ۱۳)، نه د امتیاز لپاره. دا

توپیرونه د درجو د ټاکلو لپاره نـه دي، بلکـې د دې لپـاره دي چـې د نړۍ نظام په ښه ډول پر مخ لاړ شي. یانې دا مانا نه لري چـې یـو لـوړ دی او بل ټیټ، بلکې مقصد دا دی چې که دا ډول توپیرونه نه وي نو د نړۍ متنوع نظام به په منظم ډول نشي چلېدای.

په پخوانۍ زمانه کې د شرک تر اغېز لاندې چې کومه توهم‌پرستي رامنځته شوې وه، هغې لکه څنګه چـې د طبیعـي پدیـدو پـه اړه غیـر واقعي نظریات جوړ کړي وو، همدارنګه یې د انسانانو پـه اړه هـم پـه ټوله نړۍ کې غیر واقعي تصورات جوړ کړي وو، د پېړیـو پـه تېرېـدو سره دا تصورات د قومونو روایتونو کې په شاملېدو ښه راسخ شـول. د همدې اغېز له امله په ځینو ځایونو کې د ذات‌پات عقیده جـوړه شـوه او ویل کېدل چې ځینې خلک د خدای له سر څخه پیدا شوي دي او ځینې خلک د خدای له پښو څخه پیدا شوي دي. په دې توګه د لـوړ ذات او ټیـټ ذات وېـش رواج شـو. همدارنګـه د پاچاهـانو پـه اړه دا عقیده پیدا شوه چې هغوی د دیوتاوو له نسل څخه دي او عام خلک د دې لپاره دي چې د هغوی خدمت وکړي. په ځینـو ځـایونو کـې دا نظر جوړ شو چې ځینې خلک په فطري ډول غوره نسـل لـري او نـور خلک په فطري ډول ټیټ نسل لري.

دا توپیرونه او د انساني مسـاوات خـلاف نظریـات بیـا د شرک تـر سرپرستۍ لاندې رواج شول او د پېړیو په اوږدو کې یې دوام ومونـد. تاریخ کې دا ذهنیت داسې راسخ شو لکه څنګه چې د شپې تیاره او د ورځې رڼا د تقدیر له ثابتو برخو څخه دي، همدارنګه انساني نابرابري هم یوه داسې تقدیر ګڼل کېده چې بدلول یې ممکن نه دي.

د دې حالت د ختمولو لپاره د شرك او توهم‌پرستۍ غلبه لـه منځـه وړل اړين و. خو د زرگونو پيغمبرانو له راتگ سره سره هـم دا حالـت په بشپړه توگه ختم نه شو. د محمد صلى الله عليه وسلم د خاتم‌الرسـل كېدو تقاضا دا وه چې دا هم په عملي ډول له منځه يووړل شي. نو الله تعالى د هغه ځانگړې مرسته وكړه او هغه له خپلو اصحابو سره يو سـتر فكري او نړۍوال انقـلاب رامنځتـه كـړ، چـې وروسـته د دې نظريـې ريښې وويستل شوې او د نابرابرۍ نظريه د تل لپاره بې‌ځمكې شوه.

په عربو كې د شركي نظام تر ختمېـدو وروسـته، محمـد صـلى الله عليه وسلم د حجت‌الوداع په موقع داسې وينا وكړه چـې ځينـې الفـاظ يې دا وو:

**(لا فضل لعربي على عجمي ولا العجمي على عربي ولا الأسود على الأحمر ولا الأحمر على الأسود إلا بالتقوىٰ، كلكم بنو آدم وآدم من تراب)**

د محمد صلى الله عليه وسلم دا اعلان يوازې يو نصيحت نـه و. دا د حكومت له لوري يو رسمي اعلان و. دا يوازې د «بايد داسـې وي» وينا نه وه، بلكې د «اوس داسې شوي دي» واقعي خبر و. نو لـه يـوې خوا دا اعلان وشو او له بلـې خـوا پـرې پـه سـخته عمـل پيـل شـو. د انسانانو ترمنځ د توپيرونو ټول مصنوعي دېوالونه ونړېـدل، او انسـانيت يوې نوې دورې ته په رسېدو داسې فضا رامنځته كړه چـې هلتـه هـېڅ ډول امتيازي تفريق نه و. هلته د اخلاقي صفاتو پر بنسټ د انسان مقام ټاكل كېده، نه د نسبي تړاو يا يوازې د تخليقي تصادف پر اساس.

## يوه واقعه

پخوا به چې يو شخص د ټولنيز ظلم تجربه وکړه، نو هغه به يې د خپل تقدير نتيجه ګڼله او غلی به پاتې کېده. خو په لومړي ځل د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه په زمانه کې دا پېښه رامنځته شوه چې د مصر د مسلمان والي (عمرو بن العاص) زوی يو قبطي په دره وواهه او ورته ويل يې: «خذ هذا وانا ابن الاکرمين».

دغه قبطي د نوي انقلاب له فضا خبر و، نو له مصر ـ څخه روان شو، مدينې ته راغی او دويم خليفه حضرت عمر فاروق رضی الله عنه ته يې شکايت وکړ چې د والي زوی يې بې ځايه وهلی دی.

خليفه فوراً خپل يو خاص کس مصر ـ ته ولېږه چې عمرو بن العاص او د هغه زوی دواړه په هر حالت کې وي، مدينې ته راولي. کله چې دواړه راوستل شول، خليفه حضرت عمر رضی الله عنه وويل: قبطي را وغوښت، ورته ويې ويل: ايا همدې کس ته په دره وهلی وې؟ قبطي ويل: هو. بيا يې قبطي ته دره ورکړه او ورته يې وويل: د «ابن الاکرمين» زوی ووهه. قبطي هغه ځوان وواهه تر څو يې د خپل حق په اخيستلو ډاډمنه ساه واخيسته. بيا خليفه قبطي ته ويل چې د هغه پلار عمرو بن العاص ته هم سزا ورکړي، ځکه د هغه د لوړ مقام له امله يې زوی ته وهلی وې. خو قبطي وويل: بس دی، زه چې کوم کس وهلی وم، هغه مې وواهه، تر دې زياته اړتيا نه لرم.

تر دې هر څه وروسته، نو حضرت عمر فاروق رضی الله عنه عمرو بن العاص ته مخ واړاوه او ويې ويل: ای عمرو! له څه وخته مو خلک غلامان ګرځولي دي، حال دا چې د هغوی ميندو دوی ازاد پيدا کړي وو؟

محمد صلی الله علیه وسلم او د هغه پیروانو په ذریعه راوړل شوي دي انقلاب په ټوله نړۍ کې د امتیاز او نابرابرۍ دیوالونه ونړول. د انساني مساوات نوی دور پیل شو چې په پای کې یې د عصري جمهوري انقلاب بنه غوره کړه.

په پخوانۍ زمانه کې حکومتونه تر ډېره پر مشرکانه عقایدو ولاړ وو. خلکو به لمر او سپوږمۍ عبادت کاوه او واکمنو به خلکو ته دا باور ورکاوه چې دوی د هغو دیوتاوو اولاد دي. له همدې ځایه د لمر اولاد «سورج بنسي» او سپوږمۍ اولاد «چاند بنسي» د کورنیو عقاید رامنځته شول. په همدې وجه پخوانیو واکمنانو د دې ډول توهمي عقایدو ملاتړ کاوه. هغوی غوښتل چې خلک دا باور ولري چې د پاچاهانو په مرګ سره لمر او سپوږمۍ تندر نیسي، تر څو د هغوی عظمت د خلکو په ذهنونو کې پاتې شي او هغوی په اسانۍ سره پر خلکو حکومت وکړي.

په دې توګه د پخوانۍ زمانې واکمنان د شرك او توهم‌پرستۍ ساتونکي ګرځېدلي وو. خو کله چې محمد صلی الله علیه وسلم د یو واکمن په توګه اعلان وکړ چې د لمر او سپوږمۍ تندر یوازې طبیعي پېښې دي، نه د کوم انسان د عظمت ښکارندونه، نو تر دې وروسته د توهم‌پرستۍ او د طبیعي پدیدو د تقدس جرړې پرې شوې. په تاریخ کې یو نوی دور پیل شو، چې پکې د چاپېریال د شیانو په اړه د الوهیت او تقدس عقیده ختمه شوه او پر ځای یې هغه حقیقت‌پسند ذهنیت پیدا شو چې نن ورځ ورته ساینسي ذهن ویل کېږي.

قرآن کریم چې د محمد صلی الله علیه وسلم له لارې انسان ته ورسېد، نو انسان ته یې یوازې دا خبره نه ده رسولې. بلکې په ډېر زور

سره دا هم بیان کړل شوه چې د ځمکې او اسمان ټـول شـیان د انسـان لپاره مسخر کړل شوي دي: «سخر لکم ما فی السماوات والارض». له دې څخه دا ذهن جوړ شو چې انسان باید دا شیان تسـخیر کـړي او د خپلو اړتیاوو لپاره یې وکاروي، نه دا چې هغوی ته عظمت ورکـړي او سر ورته ټیټ کړي.

## د نوې دنیا جوړېدل

محمد صلی الله علیه وسلم چې کوم دین راوړ، هغه د عربـو ټولـو خلکو ومانه. وروسته دا دین په حیرانوونکې چټکتیـا سره خپـور شـو، آن تر یوې پېړۍ هم په کم وخت کې اسیا او افریقـا تـه ورسـېد او بیـا اروپا ته داخل شو. له امریکا پرته تقریباً ټولې سیمې او ټول تمدنونه د دې دین د پیروانو تر اغېز لاندې راغلل.

دا لړۍ شاوخوا زر کاله روانه وه. د نایجیریا له خلافتـه د انـدونیزیا تر مسلمانه پاچا پورې، د ترکیې له عثماني خلافتـه بیـا تـر مغـلي هنـد پورې، ګواکې یو لوی ملك موجود و چې د اوسني ډول د ملي پولـو (سرحدونو) لـه تصـور سره نااشـنا و. مسـلمانانو بـه د همـدې پراخـې سیمې په دننه کې د تجارت، زده‌کړې او نورو موخـو لپـاره پـه اسـانۍ سفر کولی شوای.

دا هماغه زمانه وه چې په څوارلسمه پېړۍ کې ابن بطوطه نژدې ۷۵ زره میله سفر وکړ. هغه به له یوه هېواد نه بل ته داسې رسېده لکه هـېڅ ځای چې پردی نه وي. د هغه لپاره د بې کارۍ ستونزه هم نه وه. هغـه د محمد بن تغلق (۱۳۲۵-۱۳۵۱) په زمانه کې ډیلي ته راغی. هلته ورته نه یوازې تحفې ورکړل شوې، بلکې د ډیـلي د قاضي‌القضـاة (سـترې محکمې مشر) په توګه هم وټاکل شو. (EB-۱٤٤/۹).

د دې نړۍوال انقلاب پایله دا شوه چې ټول انسانان د يوې انساني ټولنې برخه ښکاره شول. د انساني مساوات دا فکر په ډېر سرعت سره په ټوله نړۍ کې خپور شو. لومړی په مدينه کې غالب شو، بيا دمشق د دې مرکز شو، وروسته بغداد ته ورسېد. له هغه ځايه د اندلس او سسلي له لارې د اروپا زړه ته داخل شو.

که څه هم د اروپا اکثريت خلکو اسلام د دين په توګه ونه مانه، خو د کائناتو په اړه د اسلام (توحيد) نظر يې په بشپړ ډول ومانه او له هغه څخه يې پوره ګټه واخيسته. حقيقت دا دی چې د اروپا ساينسي-او ديموکراتيک انقلاب د اسلام د توحيدي انقلاب يوه نرمه بڼه (scholar edition) ده. د دې انقلاب اخروي اړخ جلا کړای شو او يوازې د دنيوي اړخ اخيستل يې د مغرب د نوي انقلاب نوم شو.

په داسې حالت کې دا خبره بې له کوم مبالغې سمه ده چې که د انسان له تاريخ څخه اسلام لرې کړل شي، نو ورسره به د تمدن او انساني پرمختګ ټولې لاسته راوړنې هم لرې شي. بيا به نړۍ يو ځل بيا هماغه تاريخي دور ته ستنه شي چې تر اسلامي انقلاب مخکې موجود و.

# د فکر ازادي

پخوا انسـان د فکـر او رايـې ازادي نـه در لـوده. د انسـائيکلوپيډيا برټانيکا (۱۹۸۴) د الفاظو له مخې: د سانسور (احتساب) ځينې ډولونه په ټولو قومونو کې رواج درلود، هغه واړه وي او که لوی. د سانسور دا حالت د نړۍ په ټولو برخو کې او د تاريخ په ټولـو دورو کـې مونـدل کيږي:

Some form of censorship has appeared in all communities, small and large, in all parts of the world, at all stages of history (۳-۱۰۸۳).

انسـائيکلوپيډيا آف ريلـيجن اينـډ ايـتکس کـې د "احتسـاب" (Persecution) په نوم يوه ۲۵ مخيزه مقالـه کښـل شـوې ده. پـه دې مفصلې مقالې کې بيان شوی چـې څنګـه د لرغـوني تـاريخ پـه ټولـو دورو کې په ټوله نړۍ کې خلک د فکري ازادۍ له حقـه محـروم وو. ټول خلک دې ته مجبور وو چې يوازې هغه فکر ومني چې حـاکمې طبقې يې غوره کاوه. مقاله کې د دې تفصيلاتو ترڅنـګ ويـل شـوي چې پخوانۍ انساني ټولنه په بنسټيز ډول بې زغمه وه:

Ancient society was essentially intolerant (۷٤۳)

انسائيکلوپيډيا برټانيکا کې د احتساب (Censorship) تر سرليک لاندې يو مفصل مضمون دی چې پکې په تفصيل سره ښـودل شـوي

چې څنگه د تاریخ په تېر وخت کې په ټوله نړۍ کې فکري بندیز او تعقیب عام و. په لرغوني چین کې خلکو ته د ازاد فکر اجازه نه وه. شي هوانگ-تي (Shin Huang Ti) د چین لوی دیوال جوړ کړ، خو له دې سره یې په ۲۲۱ ق م کې دا حکم هم وکړ چې ټول کتابونه وسوځول شي. له دې حکم څخه یوازې هغه کتابونه مستثنی وو چې د طب او زراعت په څېر عملي موضوعاتو پورې یې اړه لرله. په دې فرمان کې دا هم شامل وو چې که څوك په ۲۰ ورځو کې خپل کتابونه ونه سوځوي، سختې سزاوې به ورکړل شي. (صفحه ۱۰۸۳)

د یونان په اړه پلوتارك لیکلي چې د اسپارټا خلکو یوازې د عملي اړتیاوو لپاره لوستل او لیکل زده کول. د تعلیم او کتابونو نور ډولونه بند وو. د یونان په بل ښار ایتنز کې هنر او فلسفې وده وکړه، خو د ډېری هنرمندانو او فیلسوفان په شمول د سقراط او ارسطو په څېر خلك هم شامل وو، هغوی یا تبعید (جلاوطن) کړل شول یا وسوځول شول. ډېر اهل علم ووژل شول. ځینو خلکو خپل خلاصون په تېښته کې ولید. (صفحه ۱۰۸۴)

په قدیم روم کې د فکر او نظر د سانسور لپاره یوه مستقله دولتي اداره جوړه شوې وه. د ۴۴۳ ق م په شاوخوا کې خلکو ته تنقید د بغاوت مترادف بالی. ازادانه خبرې کول ممنوع و. انسائیکلوپیډیا برټانیکا د دې په اړه د روم د څو مشهورو وگړو مثالونه هم راوړي چې یوازې د دې لپاره سختې سزاگانې ورکړل شوې چې هغوی پر حاکمه طبقه نیوکه کړې وه. (صفحه ۱۰۸۴)

تر حضرت مسیح وروسته په لومړیو درېو پېړیو کې یهودیان او مسیحیان یوازې د عقیدوي اختلاف له امله یو د بل دښمنان پاتې

شول. لومړی یهودیانو مسیحیان د ظلم ښکار کړل، وروسته چې مسیحیانو واک ترلاسه کړ، هغوی له یهودیانو څخه په سخت او تهاجمي ډول انتقام اخیستل پیل کړل. (صفحه ۱۰۸۴-۸۵)

په تېر وخت کې پر فکري ازادۍ د بندیز یوه لویه وجه دا وه چې تحریف شوي دینونه یې پر هغو له ځانه جوړ و مذهبي نظامونه ولاړ و او فکري ازادي د هغوی لپاره د خطر په مانا وه. هغوی دا اندېښنه درلوده چې که ازاد تحقیق ته وده ورکړل شي، نو د خلکو په نظرونو کې به خپل صداقت ونه شي ساتلی. په شپاړسمه او اوولسمه پېړۍ کې په اروپا کې چې کومو خلکو ساینسي- فکر ته وده ورکول غوښتل، هغوی د کلیسا له سختو ظلمونو سره مخ شول. د دې سبب هم همدغه وېره وه. د دې ظلمونو تفصیل د ډراپر په کتاب "د ساینس او مذهب ترمنځ ټکر" (Conflict between Science and Religion) کې لیدل کېدای شي. که څه هم د دې کتاب کره نوم باید "د ساینس او مسیحیت ترمنځ ټکر" وای.

## انساني استبداد

په پخوانیو زمانو کې د فکر او سوچ د بندیز اصلي سبب هماغه شرك و چې مخکې یې یادونه شوې. د مشرکانه عقایدو له مخې دا فکر جوړ شوی و چې کوم څوك د بادشاه پر تخت ناست وي، هغه له عامو انسانانو بېل حیثیت لري. په هغه زمانه کې بادشاه په یو ډول د خدایي صفاتو څښتن ګڼل کېده. عام انسانان یوازې رعیت وو او بادشاه د هغوی پر سر د خدایي بادار په توګه ولاړ و.

همدغه بت‌پرستانه (مشرکانه) یا توهمي عقیده وه چې له خلکو یې د ازاد فکر حق اخیستی و. داسې ګڼل کېده چې د بادشاه نظر هماغه

"حقیقي نظر" دی، نورو خلکو به یوازې د بادشاه د نظر پیروي کوله. هغوی د دې حق نه درلود چې له بادشاه څخه جلا خپل نظر ولـري. همدغه غلطه عقیده وه چې په پخوانیو زمانو کې یې د فکـر ازادي لـه منځه وړې وه.

په اوومه میلادي پېړۍ کې کله چې اسـلام را څرګنـد شـو، نـو یـې اعلان وکړ چې هر ډول لویي او برتري یـوازې د یـوه الله لپـاره ده. لـه هغه پرته ټول انسانان برابر دي. ټول یـو لـه بـل سره برابـر دي. پیغمـبر اسلام صلی الله علیه وسلم په بېلابېلو طریقو دا حقیقت بیـان کـړ چـې ټول انسانان ورونه دي. (الناس کلهم اخوة، مسلم او ابو داود)

دا هماغه مفهوم دی چې په دیني اصطلاح کې ورته توحیـد ویـل کیږي. پیغمبر اسلام نه یوازې دا حقیقت اعلان کړ، بلکې پـر همـدې بنسټ یې یو عملي انقلاب رامنځته او پر ځمکه یې نافذ کړ. د نبـوت په لومړیو دورو کې یې دا حقیقت یوازې په لفظي تبلیغ سره بیان کـړ، خو وروسته چې په عربو کې هغه سیاسي غلبه هم تر لاسه کـړه، نـو د وخت د حاکم په حیث یې دا اعلان وکړ:

بېشکه الله تعالی له تاسو څخه د جاهلیت غرور او د پلرونو په نـوم فخر ختم کړی دی. اوس انسان یا متقي مؤمن دی یا بدبخته ګنهکار. ټول انسانان د آدم اولاد دي، او آدم له خاورې پیدا شوی دی.

(ترمذي، عن أبي هريرة)

په دې ډول اسلام د انسانانو ترمنځ د نسل، رنګ او مقام پر بنسـټ ټول توپیرونه له منځـه یـووړل. بیـا یـې د اخلاقـي معیـار پـر بنسـټ د انسانانو درجه بندي وکړه.

## د بيان ازادي

اسلام چې د توحید پر بنسټ کوم انقلاب رامنځته کړ، تر هغه وروسته په تاریخ کې لومړی ځل یوه نوې انساني ټولنه را پیدا شوه، داسې ټولنه چې پکې بې‌قیده او شرطه هر شخص د خپل نظر د ځرګندولو ازادي درلوده. د ایران نوشیروان (لومړی خُسرو، چې له ۵۳۱ څخه تر ۵۷۹ میلادي پورې د ساساني سلطنت واکمن و) د ایران له عادلو پاچاهانو څخه شمېرل کېږي، خو د هغه په زمانه کې وضعیت داسې چې کله یو ځل د هغه په دربار کې یوه کس د بادشاه پر ضد د نیوکې جرأت وکړ، نو هغه ته د بادشاه له لوري داسې سزا ورکړل شوه چې د دربار په منځ کې په لرګي پر سر دومره ووهل شو چې هغه بې‌هوښه شو. په پخوانیو زمانو کې د ټولې نړۍ حالت همداسې و. د حاکم پر ضد هر ډول فکري اختلاف د بغاوت په مانا ګڼل کېدی او تر ټولو کمه سزا یې دا وه چې هغه کس سمدستي ووژل شي.

اسلام یوازې د دې پر ضد اعلان ونه کړ، بلکې په ټولنه کې یې داسې شرایط برابر کړل چې خلک دې ته تیار شي چې دا پخوانی دود مات کړي او د خپلو مشرانو او حاکمانو پر ضد په ښکاره ډول خپل نظر ځرګند کړي.

پیغمبر اسلام صلی الله علیه وسلم په عربو کې د سیاسي حاکم په حیث مقام درلود، خو له دې سره سره به هغه د عامو انسانانو په څېر ژوند کاوه. هر شخص د هغه په وړاندې په ازادانه ډول خپل نظر ځرګندولی شو. د دې یوه بېلګه د بدر د غزا پېښه ده. د دې سفر په جریان کې رسول الله صلی الله علیه وسلم یو ځای تم شو. یو کس چې خباب بن منذر نومېده، مخې ته راغی او مستقیماً یې له پیغمبر

اسلام څخه وپوښتل: دا ځای چې تاسو پکې تم شوي یاست، دا د الهي وحې له مخې ټاکل شوی دی که ستاسو شخصي ـ رأیه ده؟ پیغمبر وویل: دا زما شخصي رأیه ده. د دې په اورېدو، خباب بن منذر وویل چې دا د تمېدو مناسب ځای نه دی، خلکو ته امر وکړئ چې له دې ځایه حرکت وکړي.

د دې واقعې تفصیل د سیرت په کتابونو کې موجود دی. دلته یوازې دا ښودل غواړم چې یو عام انسان د وخت پر حاکم بې له ډاره انتقاد کوي، خو څوك هغه نه رټي. حتی پیغمبر اسلام هم د دې جسارت پر ضد منفي غبرګون نه ښیي، بلکې په سادګۍ سره یوازې دا پوښتنه کوي چې ستا د نظر دلیل څه دی؟ او کله چې هغه خپل دلیل بیان کړ، نو ده سمدستي هغه خبره ومنله او له هغه ځایه پورته شو او د راتلونکي منزل په لور روان شو.

د اسلامي توحید تر سیوري لاندې چې کوم انقلاب رامنځته شو، هغه دومره ځواکمن و چې د ټول اسلامي تاریخ په اوږدو کې په دوامدار ډول جاري پاتې شو. تر پیغمبر اسلام صلی الله علیه وسلم وروسته د خلفاء راشدینو په زمانه کې هر څوك، که څه هم ظاهراً عادي او بې‌اهمیته کس و، کولای شو چې د خلیفه پر ضد په ازادانه ډول نیوکه وکړي. د دې بېلګې په اړه د خلفاء راشدینو په تاریخي کتابونو کې ډېر مثالونه موجود دي.

د اسلام دا انقلاب دومره قوي و چې وروسته هغه وخت هم پاتې شو کله چې د خلافت پر ځای ″ملوکیت″ (بادشاهي نظام) قائم شو. تر اسلام وروسته په ۱۴ سوه کلنه تاریخ کې هېڅ داسې وخت نه دی

راغلي چې څوك دې په بشپړ ډول د خلكو ژبه بنده كړي او د فكر ازادي دې له منځه يوسي.

## څو حوالې

هغه اسلامي انقلاب چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم او د صحابه كرامو له لارې راغى، يوازې يو مذهبي انقلاب نه و، بلكې تقريباً ټوله اباد نړۍ يې اغېزمنه كړه. مسلمانانو په نړيواله كچه څواكمن حكومتونه جوړ كړل. دا لړۍ شاوخوا زر كاله روانه وه. په دې ټوله موده كې د انساني فكر د بنديز مثال نه ليدل كېږي. هر ځاى خلكو ته فكري ازادي ور كړله شوې وه. دلته موږ د پروفيسور ارنلډ له كتاب پريچنگ اف اسلام (Preaching of Islam) څخه ځينې اقتباسات نقل كوو.

پروفيسور ارنلډ د اندلس د يوه مسلمان اوږد بيان نقل كړى چې يوه برخه يې دا ده: "دا حقيقت دى چې كوم څوك زموږ دين منلو ته مايل شي، موږ هغه په غېږ كې نيسو، خو زموږ قرآن موږ ته اجازه نه راكوي چې د خلكو پر ضمير زور او جبر وكړو." (صفحه ۱۴۵)

د تركانو د مذهبي زغم په اړه ليكي چې هغوى د اروپا تر فتحې وروسته لږ تر لږه دوه سوه كاله پورې له خپلو مسيحي رعاياوو سره داسې له زغمه ډك چلند وكړ چې په هغه وخت كې يې مثال په نورو اروپايي هېوادونو كې هېڅ نه و. (صفحه ۱۵)

او په اوولسمه پېړۍ كې د انطاكيه د بطريرك مكاريوس د تركانو د دې صفت اعتراف په دې الفاظو كړى و: الله دې د تركانو سلطنت تل پاتې كړي، ځكه هغوى جزيه اخلي خو د ولس په دين كې مداخله نه كوي، هغوى كه نصارى وي، يا يهود، يا هم سامريان. (۵۹-۱۵۸)

پروفیسر آرنلډ د مسلمانانو د حکومت دور کې د فکر او نظر د ازادۍ ډېر مثالونه وړاندې کړي دي. وروسته هغه لیکي چې د رومي سلطنت هغه ولایتونه چې مسلمانانو په چټکۍ سره فتح کړي وو، ناڅاپه یې ځانونه په داسې رواداریانه چاپېریال کې ولیدل چې څو پېړۍ یې له هغوی څخه پټ پاتې شوی و... دا ډول رواداري د اوومې پېړۍ په تاریخ کې تر یوې اندازې حیرانوونکې وه:

..."so striking in the history of the seventh century".

## مذهبي ازادي

تي ډبلیو ارنلډ په خپل کتاب د اسلام خپرېدل ( The Preaching of Islam) کې لیکي: عباسي خلیفه المأمون (۸۱۳-۸۳۳) واورېدل چې د اسلام مخالفین وایي اسلام د دلیل په زور نه، بلکې د تورې په زور خپور شوی دی. هغه د ډېرو لرې هېوادونو خلکو ته پیغام ولېږه او د هر مذهب علماء یې بغداد ته راوبلل او د دواړو ډلو ترمنځ یې په یوه لویه غونډه کې د مناظرې بلنه ورکړه. په دې علمي مناظره کې د اسلام علماء بریالي شول او نامسلمانو علماؤ په ښکاره ډول د اسلام د استدلالي ځواك اعتراف وکړ. (صفحه ۸٦)

ارنلډ لیکي چې خلیفه المأمون د اسلام د خپرولو په کار کې ډېر جذباتي (Very zealous) و، خو بیا هم هېڅکله یې خپل سیاسي ځواك د دین د خپرولو لپاره ونه کاراوه او نه یې څوك په زور مسلمان کړل.

د بغداد په همدې بین‌المذاهب غونډه کې د نورو ادیانو له علماوو څخه یو کس یزدان بخت هم و، چې له ماني فرقې ( Manichaean sect) سره یې تړاو درلود او له ایران څخه راغلی و. کله چې هغه د

مسلمانو علماوو خبرې واورېدې، نو د اسلام د استدلالي ځواك لـه امله متاثره شو او بشپړه چوپتيا يې غوره كړه.

تر غونډې وروسته المأمون هغه خپل دربار ته راوغوښـت او ورتـه يې وويل چې اوس بايد اسلام ومنـې. يـزدان بخـت د اسـلام لـه منلـو څخه انكار وكړ او ويـې ويـل: "اې اميرالمؤمنينـه! مـا ستاسـو خـبرې واورېدې او ستاسو مشوره مې درك كړه، خو تاسو هغه څوك ياسـت چې څوك د خپل دين پرېښودو ته نه مجبوروئ او په زور څـوك نـه مسلمانوئ." د يزدان بخت تر انكار وروسته مأمون خپلـه خـبره بېرتـه واخيسته. كله چې يزدان بخت له بغداده خپل وطـن تـه ستنېدى، نـو مـأمون ورسره مسـلح سـاتونكي ولېـږل، څـو د احساسـاتو لـه املـه د مسلمانانو كومه ډله هغه ته زيان ونه رسوي. (صفحه ٥٦)

په اسلام كې د هـر فكـر ازادي شـته او ورسره د هـر مخـالف نظـر احترام هم موجود دى.

## موډرن دور او اسلام

په اوسنۍ زمانه كې د فكر ازادي د ستر انساني خيـر ( Summum bonum) په توګه ګڼل كېږي. عام نظر دا دى چې دا ازادي د مغـرب د ساينسي انقلاب نتيجه ده. دا خـبره تـر يـوې انـدازې سـمه ده چـې نژدې او مستقيم سبب يې هماغه ساينسي-انقـلاب دى، خـو خپلـه دا ساينسي انقلاب — لكه څنګه چې مخكې څرګنده شوه — د اسلام د توحيدي انقلاب پايله وه.

فرانسـوي مفكـر روسـو (١٧١٢-١٧٧٨) د معـاصر جمهوريـت لـه بنسټګرو څخه ګڼل كېـږي. هغـه خپـل كتـاب ټـولنيز تـړون ( Social Contract) په دې جملې پيل كړى: "انسان ازاد پيدا شوى و، خو هر

ځای يې په زنځيرونو تړلی و." دا جمله د روسو شخصي اختراع نه ده، بلکې په اصل کې د اسلام د خليفه عمر (۵۸٦-٦۴۴) د هغه مشهور قول انعکاس دی چې هغه خپل والي عمرو بن العاص ته ويلي و: "اې عمرو! تاسو له څه وخته خلک غلامان کړي دي، حال دا چې د هغوی میندو هغوی ازاد زېږولي دي."

دا مهال په اروپا او وروسته په ټوله نړۍ کې د ازادۍ او جمهوريت انقلاب د هغه انقلابي بهير ادامه ده چې د اسلام له لارې په اوومه پېړۍ کې پيل شوی و.

په ۱۹۴۸ کې ملګرو ملتونو هغه منشور منظور کړ چې د "انساني حقونو نړۍواله اعلاميه" ( Universal Declaration of Human Rights) بلل کيږي. د دې په (۱۸) ماده کې ويل شوي چې هر انسان د فکر، وجدان او مذهب د ازادۍ حق لري. په دې حق کې دا ازادي هم شامله ده چې انسان کولای شي خپل مذهب بدل کړي او د خپل مذهب څرګندونه په پټه يا ښکاره توګه وکړي، يا نورو ته د هغه تعليم ورکړي.

د ملګرو ملتونو دا منشور هم په اصل کې د دغه سازمان خپله کارنامه نه ده، بلکې دا هم د هغه اسلامي انقلاب يوه لوريینه ده چې له ملګرو ملتونو څخه زر کاله وړاندې رامنځته شوی و. اسلام په تاريخ کې د لومړي ځل لپاره د شرک هغه نظام له منځه يووړ چې د انسانانو ترمنځ يې د توپير او امتياز ذهنيت پيدا کړی و. د دغه غير حقيقي وېش پايله د لوړ او ټيټ هغه ټولنه وه چې په ټولو پخوانيو زمانو کې په دوامداره توګه موجوده وه.

اسلام له یوې خوا په دې برخه کې د انسان فکر بدل کړ او له بلې خوا یې په پراخه کچه د یو عملي انقلاب په رامنځته کولو سره، د انساني ازادۍ او انساني درناوي یو نوی پړاو پیل کړ. دغه پړاو په تاریخ کې خپل سفر ته دوام ورکړ، تر دې چې اروپا ته داخل شو او د وخت په تېرېدو سره په پای کې د ازادۍ او ولسواکۍ د نوي انقلاب لامل وګرځېد. د معاصرې اروپا جمهوري انقلاب په اصل کې د هغه اسلامي انقلاب "سیکولر بڼه" ده چې ډېر پخوا په اوومه میلادي پېړۍ کې په عربو کې رامنځته شوی و.

حقیقت دا دی چې اسلام د نوي عصر خالق دی؛ هم له ساینسي-پلوه او هم له ټولنیز او معاشرتي اړخه.

د ترجمې پای

۱۴/۴/۲۰۲۶